# پښتو ژبه او ګرامر

لیکونکی: عبدالعلي رسولزاده

Qamosona.com

Qamosona.com

# د عنوانو لست


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تر پیل له مخه خبري | |
| ۲ | د پښتو ژبي ګرامر | ۱ |
| ۳ | ژبه | ۲ |
| ۴ | مورنۍ ژبه | ۳ |
| ۵ | د کوچنیانو په ژبه خبري کول | ۴ |
| ۶ | د کوچنیانو په ژبه خبري کول په هیواد کي دننه | ۵ |
| ۷ | د کوچنیانو په ژبه خبري کول په مهاجرت کي | ۷ |
| ۸ | معیاري ژبه | ۹ |
| ۹ | انسانان او لیکنۍ ژبه | ۱۰ |
| ۱۰ | د عربي ژبي الفبې | ۱۱ |
| ۱۱ | د پښتو ژبي اوسنۍ الفبې | ۱۲ |
| ۱۲ | د پښتو ژبي اته توري | ۱۳ |
| ۱۳ | د عربي ژبي خاص توري | ۱۵ |
| ۱۴ | واول یا ږغ لرونکي توري | ۱۸ |
| ۱۵ | د واول تعریف | ۱۹ |
| ۱۶ | هیجا یا سېلاب | ۲۰ |
| ۱۷ | اوږده واول | ۲۳ |
| ۱۸ | لنډ واول | ۲۳ |
| ۱۹ | واول الف | ۲۴ |
| ۲۰ | کونسونانت الف | ۲۴ |
| ۲۱ | (و) | ۲۵ |
| ۲۲ | معروف یا لنډ (و) | ۲۶ |
| ۲۳ | کونسونانت لنډ (و) | ۲۶ |
| ۲۴ | واول لنډ (و) | ۲۸ |


Qamosona.com

| | | |
|---|---|---|
| ۲۵ | اوږد یا مجهول (و) | ۲۹ |
| ۲۶ | لنډه او اوږده (ي ، ې) | ۳۰ |
| ۲۷ | واول لنډه (ي) | ۳۰ |
| ۲۸ | کونسونانت لنډه (ي) | ۳۲ |
| ۲۹ | اوږده (ې) | ۳۳ |
| ۳۰ | د پښتو ژبي پنځه (ی ، ي ، ې ، ۍ ، ئ) ګاني | ۳۵ |
| ۳۱ | پښتو (ي) ګاني په تفصیل سره | ۴۱ |
| ۳۲ | نرمه (ی) | ۴۶ |
| ۳۳ | لنډه (ي) | ۵۲ |
| ۳۴ | اوږده (ې) | ۵۴ |
| ۳۵ | درنه (ۍ ، ئ) | ۶۲ |
| ۳۶ | (هـ ، ه ، ـه) په پښتو کي | ۷۲ |
| ۳۷ | ملفوظه (هـ ، ه) | ۷۳ |
| ۳۸ | غیر ملفوظه (ه ، ـه) ، خج | ۷۳ |
| ۳۹ | غیر ملفوظه او ملفوظه (هـ ، ه ، ـه) په پښتو کي | ۷۶ |
| ۴۰ | د پښتو ژبي یو شمېر ځانګړتیاوي (خج) | ۸۸ |
| ۴۱ | کلمه word | ۹۶ |
| ۴۲ | اسم یا نوم | ۹۶ |
| ۴۳ | عام او خاص اسم | ۹۶ |
| ۴۴ | مفرد او جمع | ۹۷ |
| ۴۵ | اسم د جنس له مخه | ۹۷ |
| ۴۶ | مذکر اسم | ۹۸ |
| ۴۷ | مونث اسم | ۱۰۸ |
| ۴۸ | اسم د حالت له مخي | ۱۱۷ |
| ۴۹ | د اسم فاعلي حالت | ۱۱۸ |
| ۵۰ | د اسم مفعولي حالت | ۱۱۸ |


Qamosona.com

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۹ | د اسم اضافي حالت | ۵۱ |
| ۱۱۹ | د اسم ندائي حالت | ۵۲ |
| ۱۲۰ | د ندا د کلمو تاثير پر اسمو | ۵۳ |
| ۱۲۳ | ضمير | ۵۴ |
| ۱۲۳ | شخصي ضميرونه | ۵۵ |
| ۱۲۶ | منفصل ضميرونه | ۵۶ |
| ۱۳۱ | متصل ضميرونه | ۵۷ |
| ۱۳۶ | استفهامي ضميرونه | ۵۸ |
| ۱۳۸ | مبهم ضميرونه | ۵۹ |
| ۱۳۹ | مشترک ضميرونه | ۶۰ |
| ۱۴۰ | صفت | ۶۱ |
| ۱۴۱ | د صفت ډولونه | ۶۲ |
| ۱۴۱ | اصلي صفت | ۶۳ |
| ۱۴۴ | عددي صفت | ۶۴ |
| ۱۴۵ | استفهامي صفت | ۶۵ |
| ۱۴۶ | مبهم صفت | ۶۶ |
| ۱۴۸ | اشاري صفت | ۶۷ |
| ۱۴۸ | نسبتي صفت | ۶۸ |
| ۱۵۰ | فعل | ۶۹ |
| ۱۵۰ | مصدر | ۷۰ |
| ۱۵۱ | د فعل ډولونه | ۷۱ |
| ۱۵۱ | متعدي فعل | ۷۲ |
| ۱۵۱ | لازمي فعل | ۷۳ |
| ۱۵۲ | معروف فعل | ۷۴ |
| ۱۵۲ | مجهول فعل | ۷۵ |


Qamosona.com

| | | |
|---|---|---|
| ۷۶ | مثبت فعل | ۱۵۳ |
| ۷۷ | منفي فعل | ۱۵۳ |
| ۷۸ | با قاعده فعل | ۱۵۴ |
| ۷۹ | بې قاعدې فعل | ۱۵۵ |
| ۸۰ | کومکي فعل | ۱۵۵ |
| ۸۱ | فعل د زمانې له مخي | ۱۵۹ |
| ۸۲ | حال زمانه | ۱۵۹ |
| ۸۳ | د حال ډولونه | ۱۶۰ |
| ۸۴ | مطلق حال | ۱۶۱ |
| ۸۵ | اقتداري حال | ۱۶۳ |
| ۸۶ | احتمالي حال | ۱۶۵ |
| ۸۷ | شرطي حال | ۱۶۶ |
| ۸۸ | تمنايي حال | ۱۶۷ |
| ۸۹ | استمراري حال | ۱۶۷ |
| ۹۰ | التزامي حال | ۱۶۷ |
| ۹۱ | ماضي | ۱۶۹ |
| ۹۲ | مطلقه ماضي | ۱۷۰ |
| ۹۳ | قريبه ماضي | ۱۷۴ |
| ۹۴ | بعيده ماضي | ۱۷۷ |
| ۹۵ | استمراري ماضي | ۱۸۳ |
| ۹۶ | اقتداري ماضي | ۱۸۵ |
| ۹۷ | شرطيه ماضي | ۱۸۷ |
| ۹۸ | تمنايي ماضي | ۱۸۹ |
| ۹۹ | احتمالي ماضي | ۱۹۱ |
| ۱۰۰ | توبيخي ماضي | ۱۹۳ |


Qamosona.com

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۱ | مستقبل (را تلونکې زمانه) | ۱۹۵ |
| ۱۰۲ | مطلق مستقبل | ۱۹۶ |
| ۱۰۳ | استمراري مستقبل | ۱۹۷ |
| ۱۰۴ | اقتداري مستقبل | ۱۹۹ |
| ۱۰۵ | امر | ۲۰۰ |
| ۱۰۶ | حاضر امر | ۲۰۱ |
| ۱۰۷ | د متکلم او غایب امر | ۲۰۳ |
| ۱۰۸ | د متکلم استمراري امر | ۲۰۴ |
| ۱۰۹ | د غایب استمراري امر | ۲۰۴ |
| ۱۱۰ | دعائیه امر | ۲۰۴ |
| ۱۱۱ | قید | ۲۰۵ |
| ۱۱۲ | د قید ډولونه | ۲۰۶ |
| ۱۱۳ | د وضعیت یا فعل قید | ۲۰۶ |
| ۱۱۴ | د زمان یا وخت قید | ۲۰۶ |
| ۱۱۵ | د مکان یا ځای قید | ۲۰۷ |
| ۱۱۶ | د مقدار قید | ۲۰۷ |
| ۱۱۷ | د عطف (وصل) کلمې | ۲۰۸ |
| ۱۱۸ | مساوي د وصل کلمې | ۲۰۹ |
| ۱۱۹ | تابع د وصل کلمې | ۲۱۰ |
| ۱۲۰ | مستقله جمله | ۲۱۰ |
| ۱۲۱ | تابع جمله | ۲۱۰ |
| ۱۲۲ | د ربط کلمې | ۲۱۰ |
| ۱۲۳ | جمله | ۲۱۵ |
| ۱۲۴ | لیک نښې | ۲۱۷ |
| | | |


Qamosona.com

Qamosona.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# له پیل څخه مخکي خبري

د پښتو ژبي د ښې زدکړي لپاره ځکه د دغسي کتابو لیکل ضروري دي چي لوستونکي او خبري کونکي د خپلي ژبي هغه مهم اجزا نه یواځي و پېژني بلکي د هغو د استعمال ځای هم زده کړي. دا په دې معنا لکه: یو ترکاڼ چي خپل د کسب او کار سامانونه پېژني او د هغو کارول هم ور معلوم وي. یو بزګر ته د کښت او کرهڼي ټول سامانونه او د هغو د استعمال ځای ور معلوم دئ. نه یواځي ترکاڼ او بزګر بلکي ټول د کسب او کار څښتنان سربېره پر دې چي د خپل کار سامانونه ور معلوم دي، بلکي د هغو کارول ئې هم زده وي او د نور ښه کولو په لټه کي ئې هم وي. همدا ډول هغه کسانو ته چي غواړي سم و ږغیږي، سم و لولي او سم و لیکي باید د دغه کار سامان او افزار ور معلوم وي. دغه سامان د ژبي توري (ږغونه)، کلمې، جملې او په جملو کي د کلمو سم اوډل او کارول (ګرامر) دئ چي باید په ښه توګه ور معلوم وي. یو له هغو لارو څخه چي دغو کسانو ته توري (د ږغونو سمبولونه)، کلمې، لیک نښي، جملې او د هغو د استعمال ځای ور وښیي د ژبي ګرامر دئ.

د دغه کار لپاره زه عبدالعلي رسول زاده کوښښ کوم چي د ژبي د

Qamosona.com

هغې زدکړې لپاره چې ما ئې اړتیا احساس کړېده دلته څه و لیکم.

هغه لیکنه به یو مرستندوی ګرامر وي. دغه ګرامر به زیاتره د یو شمېر ښوونکو سره هم مرسته و کې چې د تدریس په وخت کې ئې د زدکوونکو سره د لوست او لیک په وخت کې و کاروي.

په دغه لیکنه کې د پښتو ژبې مختلفو لهجو ته اشاره سوې ده، خو دا به د دې معنا و نه لري چې ګواکې خدای دي نه کړي د کومې سیمې ژبې یا لهجې ته په سپکه کتل دي. نه! دا خاص د دغه لپاره دي چې سړی د یو او بل په لهجه څه نا څه و پوهیږي.

بله خبره دا ده چې زیاتره موږ د معیاري پښتو خبري اورو. معیار په یوائې سر نه سي را منځ ته کېدلای. د معیار لپاره باید یو باصلاحیته ارګان د پښتنو د ډېرو سیمو څخه د پښتو صلاحیت لرونکي کسان سره را ټول کي او غونډې جوړي کي. په دغو غونډو کي به هر څوک په دموکراتیکه فضا کي پر اړوندو ټکو خپل نظر ښکاره کي. د نظر تر ښکاره کېدو وروسته به په ګډه تصمیم و نیول سي.

دا باید دا سي نه وي چې یو یا دوه کسان په خپله تصمیم و نیسي او پر نورو ئې و مني او یا په پښتو کي داسي یو تغییر را منځ ته کړي چې ه **هغه کي له ګرامري قاعدو ترتیب له منځه تللی وي**. پدغه وخت کي نو بیا ځیني دا سي ټکي منځته را ځي چي په یوه لهجه کي یوه

Qamosona.com

معنا او په بله لهجه یا سیمه کي بله معنا و لري. د مثال په توګه دغه لاندي څو کلمې:

ګوابس: دغه کلمه چي د خطر یا مشکل په معنا نن کارول کیږي دغه څو کاله کیږي چي په دغه معنا را منځته سوې ده. په لوېدیځه لهجه کي دغه کلمه له اوږدو کلونو را هیسي د سولي او د جنګي خواوو د یو او بله د لیري کولو په معنا کارول سوې ده.

ننګونه: مصدر ئې ننګول دئ. په لوېدیځه لهجه کي د پیر یا کوم بزرګ سړي له قبر څخه د مرستي غوښتلو په وخت کي ویل کیږي او غوښتونکی وایي پیره را و رسېږه. اما اوس ئې په رسنیو او خبرو کي د مشکل یا خنډ په معنا کاروي.

ګوندي: په لوېدیځه لهجه کي د امیدوارۍ په معنا را ځي، لکه عبدالباري جهاني چي د موږک شعر په یوه نیم بیتي کي وایي:
ګوندي ستا غوښي د زړه سوده را و کي

دغه کلمه اوس د ګواکي پر ځای کارول کیږي.

بله خبره دا چي ډیري داسي اوازې او ګنګوسې اوربدل کیږي چي دا خبره داسي فیصله سوې ده. کله چي پسې و ګورې هغه فیصله شتون و نه لري. د دې خبري یو مثال د (د) کارول دي، چي وایي (د) ډېر مه کاروئ. پر دغه خبره نه کومه فیصله سته او نه نوره شرحه. اوس

Qamosona.com

نو دا خبره هغه چا ته په لاس ور غلې ده چي (د) منع دئ نو ئې يو ځاى ليکلي دي:

(حضرت ابوبکر صديق مسجد جامع). په دغه کرښه کي اسمونه او صفتونه سره را غلي دي. که دلته د اضافت مهم (د) ور و لويږي د جملې ګرامر به سم سي لکه. (د حضرت ابو بکر مسجد جامع). دا سي به نوري ډيري خبري د دغي ليکني په هره برخه کي پر خپل ځاى را سي.

د اضافت پر هغه (د) بنديز لګول سوى دئ چي ځيني خلک داسي وايي: (د خپل د پلار کتاب مي و لوستى). دلته د پلار له نامه مخکي چي کوم (د) را غلى دئ هغه بېځايه دئ.

ښکاره ده چي دغه کتاب ډيري پاڼي لري. سړى کولاى سي چي يو ځل ئې و لولي، خو دا د دې معنا نه لري چي هر وخت بايد دغه ټول څه د سړي پياد وي. کېداى سي چي دغه ليکنه يو څه سړى زده کړي او نور ئې د ماخذ په توګه سړى و لري.

عبدالعلي رسولزاده

تليفون: 0046709384755

alirasulzada@hotmail,com

www.pashto.se

Qamosona.com

Qamosona.com

# د پښتو ژبي ګرامر

**د ګرامر کلمه د یوناني ژبي له ګراماتیکي** (γραμματική) grammatike څخه را منځته سوې ده چي معنا ئې د ژبي د قاعدو د هغه سیستم څخه عبارت ده کوم چي لومړی کلمې او د هغو اجزاوي جوړي کړي او وروسته له هغو څخه معنا لرونکي جملې جوړي کړي.

ګرامر له چا سره دغه مرسته کوي څو د نورو په لیکل سوو او شفاهي اطلاعاتو و پوهیږي او نورو ته لیکلي او شفاهي اطلاعات ورکړای سي او هغه په و پوهولای سي.

شفاهي سم اطلاعات د ږغ له لاري کنترولیږي، خو لیکل سوي اطلاعات د اړونده ژبي د تورو (د ږغونو د سمبولونو) او نښو له لاري اخیستل او ور کول کیږي. په دغو دواړو حالاتو کي د اطلاعاتو اخیستونکی او ور کوونکی باید د اړونده ژبي د ږغونو سمبولونه او نښي نه یوازي سم و پیژني بلکي پر ځای ئې سم و کارولای هم سي. دلته باید و وایم: په پښتو کي چي کوم خاص ږغونه (ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) سته د هغو سم تلفظ ډېر مهم دئ. که یو په بل واوړي د لیکلو او خبرو کولو په وخت کي به لویه کمبودي را منځته سي.

د مخه تر دې چي د ږغونو په سمبولونو (د الفبې تورو) او لیک نښو پیل و کړو ښه به دا وي چي د ژبي په اړه څو لنډي خبري و کړو:

Qamosona.com

**ژبــــه :**

ژبه د انسانانو تر منځ د مخابرې او مکالمې وسیله ده. د ژبي له لاري سړی خپل پیغام نورو ته رسوي او د نورو  پیغام ځانته را اخلي. کله چي انسان فکر کوي، نو باید یوه ژبه و لري چي فکر په و کړي. هره ژبه ځانته یو شمېر ږغونه لري چي د هغو ږغونو له یو ځای کولو څخه کلمې او له کلمو څخه جملې یا خبري جوړي سوي وي. د مځکي پر مخ لومړنۍ ژبه د ادم(ع) ژبه وه، چي خدای پاک په قران شریف کي په یوه ایت کي یاده کړې ده.

د پوهانو له نظره نن ورځ په نړۍ کي ۶۰۰۰ ژبي سته. دا چي د ادم (ع) له هغې یوې ژبي څخه څرنګه دغه ټولي ژبي را منځته سوې هیڅ څوک نه پوهیږي.

د هغو ۶۰۰۰ ژبو له جملې څخه یوه هم پښتو ده. پښتو له اریک ژبي څخه را پیل سوې ده. اریک د اریایانو ژبه ده. اریایان له نن څخه نژدې ۵۰۰۰ کاله پخوا د سپین پوستو خلکو یو جمعیت وو چي د آمو رود له شمالي خوا څخه د اوسني افغانستان بخدي یا اوسني بلخ ته را و کوچېدل. دوی خپله ژبه اریک بلله.

په افغانستان کي خلک په ډېرو ژبو خبري کوي، خو پښتو اودري ژبي ئې دوې رسمي ژبي دي.

Qamosona.com

دري ژبه چي په افغانستان کي تر ۱۳۴۳ هـل مخکي د فارسي په نامه يادېده ، په دغه کال کي د يوې فيصلې له مخي ئې نوم په دري واوښت.

## مورنۍ (په کورنۍ کي ژوندۍ) ژبه:

مورنۍ ژبه هغه ژبه ده چي د ماشوم مور خبري په کوي. پوهان په دې نظر دي چي ماشوم د مور په ګېډه کي لا هغه ژبه زده کوي کوم چي مور ئې خبري په کوي. ماشوم تر زېږېدو وروسته د مور په غېږ کي د مور د ميني او ګرانښت خبري اوري. د مور دغه ژبه نه يوائځي ماشوم د يوه هويت څښتن کوي بلکي مينه او ګرانښت هم ور زده کوي. له همدې امله کولای سو و وايو چي مورنۍ ژبه د هر ماشوم انساني حق دئ.

يونسکو په ۱۹۹۹م کال کي د فيبروري مياشتي ۲۱ مه د مورنۍ ژبي د نړۍ والي ورځي په نامه و نوموله. دغه ورځ تر هغه وروسته په نړۍ کي هر کال په نومورې نېټه لمانځل کيږي.

د پورتنيو خبرو له مخي به دا ښه وي چي کوچنيانو ته د هيواد په دننه کي د هيواد د رسمي ژبي تر څنګ په مورنۍ ژبه هم د زدکړو امکان برابر سي.

Qamosona.com

## د کوچنیانو په ژبه خبري کول:

پښتنې میندي، پلرونه او کورنۍ کوچنیانو ته د خبرو د زده کولو په وخت کي په یوه خاصه ژبه خبري کوي. شاید میندي او کورنۍ به دا کار یا د ډیري میني له امله کوي او یا دا چي دوی به فکر کوي کوچنیانو ته د ځینو ږغونو تلفظ او د کلمو زدکړه اسانه نه ده. حال دا چي د کوچنیانو پر ژبه باندي چي یو تحقیق سوی دئ هغه ښکاره کوي چي کوچنیان د ورځي یو زیات شمېر کلمې زده کولای سي. د کوچنیانو دغه خاصه ژبه یوائځي په پښتنو کي ډېر رواج لري، خو نور قومونه دغه کار په دغه کچه نه کوي. که ئې و کړي هم به د ګوتو په شمار یو څو کلمې وي. په پښتو کي د کوچنیانو د ژبي یو څو کلمې لکه:

پاپۍ پښه

چګه سترګه

لاس چکو

نانا ډوډۍ....

په ډېر کوچنیوالي کي کوچنیان دغه یو شمېر ږغونه یو په بل اړوي لکه:

(ر) پـه (ل)

(س) په (ش)

(ږ) په (ژ)

Qamosona.com

(ښ) په (ش) او داسي نور . د مثال په توګه په لومړي سر کي:
د (را سه!) پر ځای (لا شه!)
د (ښه) پر ځای (شه)
(موږ) په (موژ)
(څ) په (س)
(ځ) په (ز) اړوي.

بيا کله چي کوچنی لويیږي کرار کرار دغه د کوچنيوالي د ژبي تلفظونه او کلمې د خپلي لهجې اصلي ږغو او کلمو ته اړوي. خو ښه به دا وي چي کورنۍ په لومړي پيل کي لا د کوچنيانو سره د پورتنيو ږغونو سم تلفظ ته پاملرنه و کړي. که نه دغه د کوچنيوالي نا سم تلفظونه به يا تر ډېره وخته او يا حتا د ژوند تر پايه ور سره پاته وي. که کورنۍ دغه کار ته توجه و نه کي بيا دغه کار ښوونځي ته پاته کيږي. هغه دا چي ښوونکي بايد له لومړي ټولګي څخه متوجه وي چي د زدکوونکو سره مرسته و کړي څو د دغو ږغونو تلفظ سم زده کړي. البته په دغه وخت کي دي ښوونکی پام و کي چي دغه زدکوونکي نه پخپله د ښوونکي له خوا او نه د نورو زدکوونکو له خوا تحقير سي.

## په هيواد کي دننه د کوچنيوالي ژبه:

د کوچنيانو دغه د کوچنيوالي ژبه په خپل هيواد کي کوم چي ماشوم له هري خوا له خپلي مورنۍ ژبي سره اړيکي لري ډېر ژر دغه د

Qamosona.com

کوچنيانو ژبه د لويانو په ژبه اوړي. دلته بيا هم د دغي اړوني په وخت کي د مور او پلار پاملرني ته اړتيا ده. لويان بايد کوچنی په ډېر احتياط د کلمو سمو اړولو ته متوجه کړي، نه دا چي په قهر او تحقير اميزه لهجه له کوچني سره چلند وکي. که چيري کوچنيان له قهر او تحقير سره مخامخ سي امکان لري چي کوچنی بيخي ترخبرو کولو تېرسي. په دغه حالت کي د کوچني ژبه له پر مختګه لويږي او په نتيجه کي به کوچنی يا انزوا(له نورو څخه جلا والی) غوره کړي او يا دا چي څه ئې په زړه کي وي د هغه د ښکاره کولو په وخت کي د کلماتو د کمښت په سبب عصباني سي او لاس خوشونت يا حملې ته وا چوي. کله کله کېدای سي چي د کوچنيوالي د ژبي ځيني کلمې تر ډېر وخت پوري له کوچني سره پاته سي. په دغه حالت کي په ښوونځي کي د ښوونکي دنده ده چي د کوچني دغه کمښت په ډېر احتياط ور اصلاح کي. حتا تر دې ځايه چي کوچنی له نورو زدکوونکو څخه را جلا کي او يوائي ور سره خبري و کي. دغه يوائي خبري به ډېر مؤثريت و لري تر دې چي د نورو په مخ کي کوچني ته د هغه کمښت ور په ګوته سي.

په دې کي شک نه سته چي زموږ يو شمېر زدکوونکي د بېسوادو کورنيو څخه ښوونځي ته را ځي. دغه زدکوونکي به په ژبه کي يو شمېر کموالي و لري. دغه کموالي به يا د ژبي د ګرامر نا سم استعمال يا د کلمو نا سم تلفظ او يا د نا مناسبو کلمو کارول وي. دلته د

Qamosona.com

ښوونځي يعني د ښوونکي دنده ده چي د دغو زدکوونکو ژبي ته له لومړي ټولګي څخه لا پاملرنه و کي.

په ټولنه کي چي کومه ژبه کارول کيږي دوه ډوله ده. يوه ئې ورځنۍ يا عاميانه ژبه ده او بله د ښوونځي يا ادبي او يا د زدکړي يا علمي ژبه ده. په ورځنۍ ژبه کي يو شمېر کلمې ګډي وډي ويل کيږي. د دغو عاميانه کلمو يو څو مثالونه لکه:

تلل کلل

اهميت امنيت

ځني جيندي

د دغه ډول تېر وتنو مثالونه خورا ډېر دي.

## د کوچنيوالي ژبه په مهاجرت کي:

مهاجرت په زياتو هيوادو کي د کوچنيانو او ځوانانو د مورنۍ ژبي په مخ کي يوه ستونزه ده. حتا تر دې ځايه چي په ځينو هيوادو کي يو شمېر مهاجر کوچنيان يواځي د کوربه هيواد په ژبه او يوه يا دو نورو پرديو ژبو خبري کولای سي، خو د مورنۍ ژبي څخه بې برخي پاته وي. سربېره پر دې ځيني مهاجري کورنۍ په مهاجرت کي له خپلو کوچنيانو سره د کوربه هيواد په ژبه خبري کوي. هغوی داسي فکر کوي چي هم به (مور او پلار) او هم به ئې کوچنيان هغه ژبه ښه زده

Qamosona.com

کړي. حال دا چي نه ئې دوی زده کړي او نه ئې کوچنیان. بلکي کوچنیانو ئې د کورېه هیواد د ژبي له زدکړي سره هم ستونزي لري. دا په دې چي کوچنیانو ئې مورنۍ ژبه نه ده لرلې، نو د کوربه هیواد ژبه ئې هم نه وي زده کړې. په دغه صورت کي ښوونکي د ماشومانو د ژبي د دغي ستونزي د حل په لار نه پوهیږي. ښوونکي نه وي خبر چي له لویه سره کوچنیان هیڅ ژبه نه لري. د یوې ژبي د زده کولو په وخت کي باید کوچنی مورنۍ ژبه و لري.

مهاجرت د کوچني د ژبي په وړاندي یوه بله ستونزه وي. کله چي په مهاجرت کي کوچنی پیدا سي تر یوه کال پوري د مور په غېږ کي د مور د میني او ګرانښت ژبه زده کوي. ښکاره ده چي د مور دغه د ګرانښت ژبه هغه د کوچنیانو ژبه ده. د دغه یوه کال په موده کي ئې څو کلمې زده کړي دي او د څو نورو زدکړو ته ئې تیاري نیولې ده.

اوس نو وخت د دې را رسېدلی دئ چي کرار کرار دغه د کوچنیانو ژبه د لویانو په ژبه واړوي. دلته د کوچني په ژوند کي یوه نوې پاڼه خلاصیږي هغه د کوربه هیواد په ژبه د وړکتون پیل کول دي. کوچنی د لویانو ژبي ته د کوچنیوالي د ژبي د اړولو پر ځای د کوربه هیواد د ژبي په زده کولو پیل کوي. په دغه وخت کي کوچنی د یوې ستونزي سره مخامخ کیږي او دغه کار د لویانو ژبي ته د کوچنیانو د ژبي اړول زیانمن کوي. دا به ښه وي چي په مهاجرت کي مور، پلار او کورنۍ

Qamosona.com

کوچني ته یا دغه د کوچنیوالي ژبه هیڅ ور زده نه کړي او یا په دغه وخت کي ډېر زیات کار ور سره و کي. که نه نو بیا دغه د کوچنیوالي د ژبي تاثیر د ژوند تر پایه ور سره پاته کیږي او په لویوالي کي به هم لږ یا ډېر د کوچنیانو د ژبي کلمې کاروي.

هغه شمېر زدکوونکي چي د با سوادو کورنیو څخه ښوونځي ته شاملیږي، هغوی به شاید دومره ډیري پاملرني ته اړتیا و نه لري.

دا به ښه وي چي د ژبي ښوونکي په ارامي سره د دواړو کورنیو زدکوونکو ژبه هم د ورځنۍ ژبي څخه د ښوونځي نسبتاً معیاري ژبي ته ور وا ړوي او هم نور پر مختګ ور کي.

## معیاري ژبه څنګه منځته را ځي؟

د یوه هیواد د مختلفو سیمو او لهجو ژبپوهان او باصلاحیته کسان یو ځای سره کښېني او یوه معینه او ټولو ته د منلو وړ د لیکلو ژبه را منځته کوي. دغه ژبه به په ښوونځیو او رسمي ادارو کي کارول کیږي او د ورځنۍ منطقوي ژبي څخه به توپیر لري. دغي ژبي ته معیاري ژبه ویل کیږي.

د دغي معیاري ژبي له لاري باید په ښوونځي کي هغه ګډ و وډ تلفظونه او غلط ګرامر اصلاح سي.

Qamosona.com

د دې وروستيو ۴۰ کلنو د نا اراميو په نتيجه کي په ژبه کي يو شمېر ګډوډۍ را منځته سوي دي. کېداى سي چي دلايل ئې يا د ښوونځيو نه شتون، يا د کورنيو نا پامي، يا نور څه وي.

اوس بايد کوښښ و سي چي دغه اوښتني اصلاح سي. د ژبي د سمون لپاره د ښوونځي او ښوونکو زياتي پاملرني ته ډېره اړتيا ده.

## انسانان او ليکنۍ ژبه:

انسانانو د خبرو د ژبي تر څنګه يوې ليکنۍ ژبي ته هم اړتيا پيدا کړه. دوى د دې لپاره چي انسانان خپله ژبه و ليکلاى سي لومړى د هر ږغ يا کلمې لپاره يوې نښي يا يوه سمبول ته اړتيا وه.



مخکي تر دې چي دغه اوسني د ليکلو توري جوړ سي په اوسني عراق کي د بين النهرين خلکو ۳۲۰۰ کاله د مخه تر ميلاد دغه ميخي ليک جوړ او په کار وا چاوه.



د مصر خلکو بيا دغه شکلونه د خپلو خبرو د ليکلو لپاره په کار وا چاول.

Qamosona.com

د دغو شکلونو شمېر د ۸۰۰ په شا و خوا کي وو. دغه ليک د هيروغليف په نامه يادېدی.

## د عربي ژبي الفبې:

تر هيرو غليف او ميخي ليک ډېر وروسته د عربي ژبي الفبې منځته را غله. کله چي د اسلام سپېڅلی دين افغانستان ته را غی اسلامي زدکړي په مسجدو کي په عربي ژبه پيل سولې. په عربي ژبه د اسلامي زدکړو د لوست او ليک لپاره د عربي ژبي الفبې را منځته سوه. څه موده وروسته پښتنو د عربي ژبي له الفبې څخه په مرسته اخيستو سره پښتو ژبي ته د الفبې په جوړولو پيل و کړ.

داسي ويل کيږي چي د مخه تر دې چي پښتو په دغه اوسنۍ الفبې و ليکل سي وختي لا هغه پخوانۍ الفبې چي پښتو په ليکل کېده له منځه تللې وه. په دغه وقفه کي ټول پښتو معلومات او ادبيات د خلکو تر منځ د نظمونو په توګه پاته ول. ګومان کېدای سي چي دلته به نو د پښتو ډېر څه له منځه تللي وي.

عربو د عربي ژبي د ږغونو لپاره دغه لاندي توري (سمبولونه) جوړ کړي ول:

ا ب ت ث ج ح خ د ذ ر ز س ش ص ض ط ظ

ع غ ف ق ک ل م ن و هـ ه ء ي

Qamosona.com

په عربي ژبه کي یو بل توری ، همزه ( ء ) دئ چي په عربي ژبه کي په خاصه توګه کارول کیږي .

## د پښتو ژبي اوسنۍ الفبې :

په افغانستان کي د عربي ژبي تر منځته را تلو وروسته پښتنو اړینه و بلله چي د خپلي ژبي ( پښتو ) لپاره د عربي ژبي د الفبې له تورو څخه کار واخلي او پښتو ژبي ته یوه الفبې جوړه کړي . لومړی ئې د پښتو لپاره د عربي ژبي هغه توري را واخیستل کوم چي ږغونه ئې په عربي کي ول . هغه توري چي د پښتو او عربي تر منځ ګډ ول :

(ا ب ت ج خ د ر ز س ش غ ک ل م ن و هـ ه ـه ي)

د دغو ږغونو لپاره له عربې الفبې څخه توري په اساني سره را وا خیستل سول . د نورو هغو ږغونو لپاره چي په پښتو کي ول او په عربي کي نه ول د تورو ( سمبولونو ) جوړول پښتنو ته ور پاته سول لکه :

هغه ږغونه ( پ ټ چ څ ځ ډ ړ ږ ژ ښ ګ ڼ ی ې ۍ ئ ) ول .

دغه توري بیا پښتنو وروسته له عربي الفبې څخه د ګټه اخیستو له لاري جوړ کړل . د پښتو ژبي د اوسنۍ الفبې توري په لاندي ډول دي :

Qamosona.com

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ
ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م
ن ڼ و هـ ه ـه ی ي ې ۍ ئ.

د الفبې د تورو شرح په لاندي ډول ده:

۱ـ د پښتو ژبي خاص توري: دغه اته توري (ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ) چي ږغونه ئې په پارسي او عربي کي نه سته ځکه ور ته د پښتو خاص توري ویل کیږي.

په هره کلمه کي چي یو یا څو د دغو ږغونو را غلي وي هغه پښتو کلمه ده لکه:

ـ ټغر، ټټر، ټول، ټاکل ...
ـ څپلۍ، څوک، څنګ ...
ـ ورځ، ځم، ځوړند ...
ـ ډوډۍ، ډېر، ډار ....
ـ ړوند، ربړ (زحمت)، پروړ ...
ـ ږیره، ږوږ، کوږ ...
ـ ښار، ښځه، ښکنځل ...
ـ رڼا، مڼه، کوڼ ...

Qamosona.com

(ڼ) د کلمې په سر کي نه را ځي. يو شمېر پښتانه ئې په (ړ) تلفظ کوي، خو (ڼ) خپل ځانته ځانګړی ږغ لري.

په هغو کلمو کي چي يو يا څو د پورتنيو ۸ پښتو تورو څخه را غلي وي، هغه پښتو کلمه ده او يا له کومي بلي ژبي څخه را پور سوې کلمه وي لکه موټر....

د هري ژبي خاص توري د هغې ژبي د اصيليت ښکارندوی دي. لکه: د عربي ژبي توري چي د عربي ژبي اصليت ښکاره کوي.

دغه ډول د پښتو ژبي اته توري(ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ او ڼ) د پښتو ژبي اصليت ښکاره کوي. دا ډېره مهمه ده چي د پښتو ژبي دغو اتو تورو ته هم په خبرو او هم په ليکلو کي ټينګه توجه و سي.

په دې وروستيو جنګي کلنو کي مو په ژبه کي هم منفي تاثير ليدل کيږي. د ډيرو کوچنيانو حتا ځوانانو په خبرو کي د پښتو د اتو خاصو ږغونو له جملې څخه د (څ او ځ) تلفظ په خاصه توګه په لوېديځه لهجه کي چي پخوا ډېر ښکاره اوريدل کېدی نن کمزوری سوی دئ. دا چي که دغه بې غوري نوره هم ادامه و مومي دا کار به په دغه سيمه کي د پښتو ژبي اصليت ته تاوان و رسوي. په دې اړه د ګرانو والدينو او ښوونکو توجه اړينه ده.

Qamosona.com

۲ـ د عربي خاص توري: په پښتو الفبې کي دغه لس توري (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) د عربي ژبي خاص توري (ږغونه) دي. د دې معنا دا ده چي په هغو کلمو کي چي يو يا څو د دغو تورو (ږغونو) را غلي وي هغه کلمې عربي وي. دغه تورو ځکه په پښتو الفبې کي ځای نيولی دئ چي پښتو ته يو شمېر عربي کلمې د اسلامي زدکړو په وخت کي را اخيستل سوي دي. د دې لپاره چي هغه کلمې سمي تلفظ او و ليکل سي ځکه نو دغو لسو تورو ته په پښتو الفبې کي ځای ور کول سوی دئ. د هغو کلمو يو څو مثالونه لکه:

- ثواب
- احتياج
- مذکر
- صادق
- ضرب
- طياره
- ظالم
- علم
- فرض
- قوه ....

Qamosona.com

په کومو کلمو کې چې یو یا څو له دغو لسو تور څخه را غلي وي هغه کلمه پښتو کلمه نه ده بلکي عربي کلمه ده. هغه کلمې چې دغه د عربي ژبي خاص توري پکښي را غلي وي پښتو ته له عربي څخه را پور سوي دي.

دلته به د عربي ژبي د دغو خاصو تورو د تلفظ په اړه څو ټکي را وړل سي.

(ث ، ص)

دغه توري هر یو ځانته خاص تلفظ لري ، دا چي د پښتو ژبي خبري کوونکي ئې سم نه سي تلفظ کولای ، نو دواړه په (س) تلفظ کوي.

(ط) په (ت) تلفظ کوي.

(ذ ، ض او ظ)

پورتني درې سره توري په (ز) تلفظ کوي. په دغو کي د (ض) تلفظ ډېر سخت دئ.

(ح ، ع ، ف او ق)

دغه څلور توري هم هر یو ځانته خپل تلفظ لري ، خو که د پښتو ژبي خبري کوونکي لږ کوښښ وکړي و به کولای سي چي د دغو څلورو تورو تلفظ سم وکولای سي. که نه نو (ح) به په (هـ یا الف) او (ع) به په (الف) تلفظ کړي.

Qamosona.com

(ف) په (پ) او (ق) په (ک) تلفظ کوي، خو په ځينو حالاتو کي د (ف او ق) د سم تلفظ د زده کولو په وخت کي خطر سته چي په هغو کلمو کي چي (پ) را غلې وي په (ف) او (ک) په (ق) تلفظ کړه سي. دا په دې معنا چي (پلار) په (فلار) يا (کار) په (قار) تلفظ کړه سي. ماهر خبري کوونکي کولای سي چي په خپلو خبرو کي پام وکي چي په را تلونکې کلمه کي (ف) را غلې ده او که (پ)، يا (ق) را غلی دئ که (ک). دا داسي معنا لري چي ګواکي مخ ته سړی يوه تختته تصور کوي او اړونده کلمې پر ليکي او هغسي ئې تلفظ کوي. د دغو کلمو سم تلفظ به د خبري کوونکي وينا ډېره خوندوره ښکاره کي. په زياته بيا په ليکنه کي د دغو تورو مراعتول ډېر اړين دي.

د (ع) تلفظ هم بايد په دغه ډول مراعت سي.

د قران شريف د سم لوستلو لپاره به ښه دا وي چي د عربي ژبي د خاصو تورو تلفظ کوچنيانو ته په ډېر کوچنيوالي کي لا سم ور زده کړه سي تر څو لومړی د قران شريف او بيا په پښتو کي د عربي کلمو تلفظ هم غلط نه کړي.

۳ ـ دغه څلور توري (پ چ ژ ګ) د پښتو او پارسي تر منځ ګډ يا شريک توري (ږغونه) دي.

Qamosona.com

## واول یا ږغ لرونکي توري:

د پښتو ژبي د الفبې په تورو کي [(ا)، (و) ، و ، (ي) او ې] واول یا ږغ لرونکي توري دي. نور پاته توري ئې کونسونانت یا بې ږغه توري دي لکه:

(ا) ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س
ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ (و) ۅ هـ
ه ـه ی (ي) (ې) ۍ ئ

د واولو له جملې څخه مو [(ا)، (و)، (ي)] په کوچنیو قوسو کي نیولي او تر (و) وروسته مو یو بل (ۅ) هم لیکلی دئ. دا ځکه چي [(ا)، (و) ، (ي)] په ځینو ځایو کي واول او په ځینو کي کونسونانت دي. تر (و) وروسته دوهم (ۅ) اوږد یا مجهول (و) دئ چي تل واول دئ او هیڅ وخت کونسونانت نه وي.

سر ببره پر دغو واول تورو [(ا)، (و) ، و ، (ي) او ې] چي څو کرښې لوړ و ښودل سول زور (َ) ، زېر (ِ) ، پېښ (ُ) او زورکی او د (آ) پر سر مد هم واول دي. د زورکي لپاره کومه نښه نه سته.

Qamosona.com

## د واول تعریف او دنده :

واول هغه توري یا نښې دي چي په کلمو کي هیجاوي (څپې) یا سېلابونه جوړوي ، یا کولای سو چي و وایو : واول یو بل بې ږغه یا کونسونانت توري ته یا حرکت ور کوي او یا ئې له یو بل بې ږغه توري سره نښلوي ، یو څو مثالونه ئې :

ـ د کونسونانت د حرکت مثالونه ئې :

را : دلته (ر) کونسونانت او (الف) اوږد واول دئ .

تا : دلته (ت) کونسونانت او (الف) اوږد واول دئ .

نو : دلته (ن) کونسونانت او (و) اوږد واول دئ .

دي : دلته (د) کونسونانت او (ي) اوږد واول ده .

دې : دلته (د) کونسونانت او (ې) اوږد واول ده .

د : دلته (د) کونسونانت او (زور کی) لنډ واول دئ .

رِ : دلته (ر) کونسونانت او (زېر) لنډ واول دئ .

مُ : دلته (م) کونسونانت او (پېښ) لنډ واول دئ .

ـ د دوو کونسونانتو د نښلولو مثالونه :

بَس : دلته زور واول دئ او (ب او س) ئې سره نښلولي دي .

تار : دلته واول (ا) (ت او ر) سره نښلولي دي .

نور : دلته واول (و) (ن او ر) سره نښلولي دي .

تیر : دلته واول (ي) (ت او ر) سره نښلولي دي .

Qamosona.com

ډېر: دلته (ې) (ډ او ر) سره نښلولي دي. (ـې) واول ده.
تَل: دلته (زور) (ت او ل) سره نښلولي دي. زور (َ) واول دئ.
تل: دلته (زورکي) (تـ او ـل) سره نښلولي دي. زورکی نښه نه لري.
مِل: دلته (زېر) (م او ل) سره نښلولي دي. زېر (ِ) واول دئ.
پُل: دلته (پېښ) (پ او ل) سره نښلولي دي. (ُ) واول دئ.
دا چي په پښتو کي زورکی سته اما نښه ئې نه سته ځکه ئې مثالونه نه دي را غلي.

## هېجا یا سېلاب څه ته وايي؟

هغه یو یا څو توري دي چي په ادا کولو ئې خوله یو ځل حرکت کوي او یا ویلای سو چي پر هر سېلاب خوله یو ځل درېږي لکه:
(هغه): دوه سېلابه دي. یو سېلاب (هَـ) او بل سېلاب (غه) دئ.
سېلاب کله کله یو توری وي خو اکثره وختونه سېلابونه له یوه، دوو یا څو تورو څخه جوړ سوي وي.

دلته ځکه پر سېلاب خبري کوو چي په سېلاب کي واول ښکاره رول لري. یعني د سېلاب له مخي واول ښکاره کوو. سېلاب نه یوائې په نظم (شعر) کي سته بلکي کېدای سي چي په هره هره کلمه کي یو، دوه، درې یا څلور سېلابه وي چي دغه هر هر سېلاب یوه واول جوړ کړی دئ. د دې معنا دا ده چي په یوه کلمه کي چي هر څو سېلابونه وي هغومره واول پکښې دي.

Qamosona.com

هغه سپلابونه چي د دوو تورو څخه جوړ وي لکه:
وَر، لَر، بَر، بو، لَوْ، با، ما، تا، مي، خو او داسي نور.

(وَر، لَر، بَر، بو، لَوْ) له (با، ما، تا، مي، خو) که څه هم دوه دوه توري دي، خو دواړي کټګورۍ یو یو سپلاب دي. (وَر، لَر، بَر، بو، لَو) سپلابونه له دوو دوو تورو او یوه (زور یا زبر یا پېښ) څخه جوړ سوي دي. (با، ما، تا، مي، خو) که څه هم دوه دوه توري دي، خو وروستی توری ئې پخپله یو واول توری دئ.

هغه سپلابونه چي له درو تورو څخه جوړ سوي وي لکه:
مور، خور، شور، پور، شال، کار، تېر، ویر او نور.

هغه یو یو سپلابونه چي له څلورو تورو څخه جوړ سوي وي لکه:
تْرور ـ یو سپلابه کلمه ده. لومړی (ت) ئې ساکن[1] او کونسونانت توری ده او (و) ئې واول دئ چي سپلاب ئې جوړ کړی دئ.

پْلار ـ یو سپلابه کلمه ده. (پ) ئې کونسونانت او ساکن توری ده او تر کونسونانت (ل) وروسته (ا) ئې واول دئ چي سپلاب ئې جوړ کړی دئ.

---

[1] ساکن توری هغه توری دئ چي نه ئې تر وروسته کوم اوږد واول (ا، ي، ې، و) او نه لنډ واول (زور، زبر، پېښ، زورکی) را غلی وي. کونسونانت هغه توری دئ چي د واول په ډول کار نسي ور کولای. بلکي د واول په مرسته حرکت کوي.

Qamosona.com

هغه کلمې چي له دوو سېلابو څخه جوړې سوي وي لکه:
سېلاب (سې - لاب)، لَوَنګ (لَ - وَنګ)، باتور (با - تور)، اَختر (اَخ - تر) او نور.

هغه کلمې چي د درېيو سېلابو څخه جوړې سوي وي لکه:
پرزېدل (پر - زې - دل)، خوځېدل (خو - ځې - دل)، آخرت (آ - خِ - رَت)، پروانه (پَر - وا - نَه)، ښوونځی (ښو - وَن - ځی) او داسي نور.

(زورکی): زورکی د زور او پېښ تر منځ يو لنډ واول دئ لکه:
تل (هر وخت، همېشه): د (ت) پر سر زورکی را غلی دئ. دا چي د زورکي لپاره کومه نښه نه سته، ځکه ئې موږ نه سو ليکلای، خو پر کونسونانت (ت) ئې تاثير معلومېږي.

خدای بخښلي مولوي صالح محمد چي کله د حبيبيې لېسې لپاره لومړی تدريسي کتاب ليکلی دئ، په هغه کي ئې زورکی تر زور لږ افقي کرښه ليکلې ده.

پل (بخښنه): هغه چي خلک سفر ته د روانېدو په وخت کي وايي: (حق را پل کئ!). پدغه (پل) کي د (پ) پر سر زورکی را غلی دئ.

مخکي له دې چي د هر واول په اړه څه و وايو يو ځل بيا بايد و وايو چي [ا، لنډ (و)، (ي)] هر يو په ځينو ځايو کي واول دي او په ځينو

Qamosona.com

ځايو کي کونسونانت دي، خو مجهوله يا اوږده (ې) او اوږد (و) لکه: په بيزو کي ، واول دي اما د بې ږغه يا کونسونانت توري په شان هيڅ وخت نه را ځي.

په پښتو کي واول دوه ډوله دي. يو ئې اوږده او بل ئې لنډ واول دي.

## اوږده واول:

[الف ، لنډ (و)، اوږد (و) ، لنډه (ي) ، اوږده (ې)] اوږده واول دي. اوږد واول چي د يوې کلمې په هر سېلاب کي راسي دغه واول اوږد ويل يا تلفظ کيږي لکه:
تيــر ، پــال ، غــار، چـور ، جــوړ، ډېــر ....

## لنډ واول:

(زور ، زېر ، پېښ ، زورکی) لنډ واول دي. که د يوې کلمې په يوه سېلاب کي يو له دغو واولو څخه را سي دغه واول تل لنډ تلفظ کيږي لکه: تِر ، پَل ، غَر ، چُر....

مخکي مو و ويل چي [(الف) ، لنډ (و) او لنډه (ي)] کله واول او کله کونسونانت را ځي. دلته لاندي به و ښيو چي [(الف)، لنډ (و) او لنډه (ي)] چيري واول او چيري کونسونانت وي.

Qamosona.com

لومړی (الف):

۱ـ (الف) د واول په ډول:

(الف) که د کلمې په منځ یا پای کي را سي په کلمه کي هیجا یا سېلاب جوړوي، واول وي لکه:

بابا، ښوروا، بیدیا، دا، واده، سکاره، خواږه، پراته، کاته، درانه، لار، لارې او نور. په دغو ټولو کلمو کي (الف) یا د کلمې په منځ او یا پای کي را غلی دئ، سېلابونه ئې جوړ کړي دي او واول دئ.

۲ـ (الف) د کونسونانت په ډول:

(الف) که د کلمې په سر کي را سي واول نه بلکي بې ږغه توری یا (کونسونانت) توری دئ، ځکه په هغه وخت کي بیا یو بل واول توري (ا، و، ي، ې یا مد) یا واول نښې (زور، زېر، پېښ یا زورکي) ته اړتیا ده چي دغه (الف) ته حرکت ورکړي او یا ئې له کوم بل کونسونانت سره و نښلوي. دا باید و وایو چي (ا) په بل واول (ا) په حرکت نه را ځي ځکه ئې ور ته د واول (الف) پر ځای (مد آ) غوره کړی دئ. یو څو مثالونه به ئې دلته لاندي را وړو:

اَنګور: د انګور په کلمه کي (الف) واول نه دئ ځکه چي د زور له لاري ئې حرکت کړی دئ او یا د بل توري سره نښتی دئ. وینو چي د انګور کلمه د دوو سېلابو څخه جوړه سوې ده چي یو (اَن) او بل ئې (ګور) دئ.

Qamosona.com

ابمل: دلته (الف) کونسونانت، (ب) واول او (مَل) دوهم سپلاب دئ چي د (مـ) پر سر زورکي جوړ کړی دئ.

ایله: دلته تر (ا) وروسته (یـ) واول ده. (ایله) د دوو سپلابو څخه جوړه کلمه ده چي یو ئې (ایـ) او بل ئې (له) دئ.

اِراده: دغه کلمه د درو سپلابو څخه جوړه ده چي یو (اِ) بل ئې (را) او دریم ئې (ده) ده.

آس: د (آس) په کلمه کي باید (الف) په بل (الف) ولاړ سوی وای چي سپلاب ئې جوړ کړی وای. دا چي (الف) او (الف) څنګ تر څنګ څه بې موازنې ښکاري ځکه ئې د دوهم (الف) پر ځای د لومړي (الف) پر سر (مد) غوره کړی دئ. یعني (ب) په (الف) سره (با)، (ت) په (الف) سره (تا)، خو د (الف) په (الف) لپاره (آ) منل سوی دئ.

دوهم (و):

په پښتو کي (و) دوه ډوله دئ چي یو ئې معروف (و) او بل ئې مجهول (و) دئ. معروف ئې ځکه بولي چي د عربي الفبې څخه د پښتو الفبې د جوړېدو په وخت کي عربو ته معروف (معلوم) وو یعني په عربي کي وو او هغه بل مجهول (و) چي په عربي کي نه وو نو مجهول و بلل سو. بیا دغو دواړو ته پښتو نومونه غوره سوي دي:

معروف څرګند (و) ته لنډ او مجهول (و) ته اوږد نوم غوره سوی دئ

Qamosona.com

مثالونه ئې لکه:

**الف-**

## معروف ځرګند یا لنډ (و) لکه:

کډو ، باړخو ، جارو ، ناجو ، کارتوس ، ټپوس ، ناموس....

لنډ (و) هم د واول په شان کار ور کوي او هم د کونسونانت په شان کارول کیږي.

دلته لاندي به د کونسونانت او واول په شان شرحه سي. مثالونه ئې لکه:

**۱- معروف (و) د کونسونانت په ډول لکه:**

ورور: په (ورور) کي لومړی (و) کونسونانت او ساکن دئ او دوهم (و) واول دئ. کلمه له څلورو تورو څخه جوړه ده او یو سېلاب ده. دوهم (و) چي اوږد (و) دئ، سېلاب ئې جوړ کړی دئ.

واده: (واده) دوه سېلابه کلمه ده (وا) او (ده). لومړی سېلاب تر (و) وروسته (ا) او دوهم سېلاب د (د) پر سر زورکي جوړ کړی دئ. دا چي زورکی په لیکنه کي نښه نه لري ځکه ئې (ه) ور ته لیکلې ده او (ه) واول نه ده.

لېوَر: لېور دوه سېلابه کلمه ده (لې) او (وَر). لومړی سېلاب (ـې)

Qamosona.com

او دوهم سېلاب د (و) پر سر زور جوړ کړی دئ.

وَلوَر: (وَلـ ـ وَر) دوه سېلابه دي. دواړه سېلابونه د کونسونانت (و) پر سر (زور) جوړ کړي دي. په دواړو سېلابو کي (و) کونسونانت توری دئ ځکه چي د زور له لاري د (ل او ر) سره نښتی دئ.

واوره: دغه کلمه له دوو سېلابو څخه جوړه سوې ده. لومړی سېلاب (واو) او دوهم سېلاب (ره) دئ. لومړی (و) بې ږغه یا کونسونانت دئ ځکه چي د (الف) په مرسته ئې سېلاب جوړ کړی دئ او له دوهم کونسونانت (و) سره نښتی دئ. دوهم سېلاب د (ر) پر سر زورکي جوړ کړی دئ. دا چي زورکی نه لیکل کیږي ځکه (ه) را غلې ده.

- کونسونانت یا بې ږغه توري: هغه توري یا ږغونه دي چي هیجاوي (سېلاب) نه سي جوړولای لکه (ب، پ، ج، د ...).

(الف، و، ي) سربېره پر دې چي واول دي، خو کله کله کونسونانت وي چي یوه بل واول توري یا نښې (زور، زېر، پېښ یا زورکي) یا په حرکت را وستلی وي او یا ئې له یوه بل کونسونانت سره نښلولی وي.

- ساکن توري: هغه کونسونانت (بې ږغه) توري یا ږغونه دي چي تر وروسته ئې کوم واول نه وي را غلی یعني پر سر وړغندی (غړوندی)

Qamosona.com

و لري. د دې خبري معنا دا ده چي ساكن توري هغه توري دي چي پر سر ورږغندی لري مثالونه ئې لكه:

لمر ـ په لمر كي (ل) ساكن دئ، ځكه چي پر سر ئې ورږغندی (غږوندی) را غلی دئ. كه ورږغندی پر و ليكو داسي (لْمَر) به سي. تر (ل) وروسته (م) په (زورَ) سره حركت كړی دئ او (ر) ساكنه ده.

ورور ـ په (وْرور) كي لومړی (و) هم كونسونات او هم ساكن توری دئ.

۲ ـ معروف (و) د واول په شان لكه:

اوږه: اوږه دوه سېلابه (او) او (ږه) كلمه ده. په (او) كي (الف) كونسونانت (بې ږغه) او وروسته را غلی معروف يا لنډ (و) ئې واول دئ، ځكه چي لومړی سېلاب (او) ئې جوړ كړی دئ او دوهم سېلاب (ږه) دئ، چي د (ږ) پر سر زوركي جوړ كړي دئ.

كَډو: د (كډو) كلمه دوه سېلابه (كَ) او (ډو) ده. په (ډو) سېلاب كي تر (ډ) وروسته لنډ (و) واول دئ.

كوزه: تر (ک) وروسته (و) واول دئ ځكه چي د (كو) سېلاب ئې جوړ كړی دئ.

بوره: تر (ب) وروسته (و) واول دئ ځكه چي د (بو) سېلاب ئې جوړ كړی دئ.

Qamosona.com

(ب) ـ

## مجهول یا اوږد (و) لکه:

ښارو، پشو، کاکو، هو، نازو، خور، تور، کور، نور (څه لا نور)، لور (داس)، پور او نور. اوږد (و) چي په هر ځای کي را غلی وي واول دئ او د کونسونانت په ډول نه را ځي.

مثالونه ئې لکه:

خور: یو سېلاب دئ، چي اوږد (و) جوړ کړی دئ.

وروړ: لومړی (و) ساکن (پر سر ئې وړغندی دئ)، دوهم (و) اوږد (و) واول توری دئ چي د (روړ) سېلاب ئې جوړ کړی دئ.

مور: تر (م) وروسته (و) اوږد (و) دئ او سېلاب ئې جوړ کړی دئ.

کَربوړی: (کَر)، (بو) او (ړی) درې سېلابه دي. په (بو) کي (و) اوږد یا مجهول (و) دئ.

خَروړَی: دلته (خَ) یو سېلاب، (رو) چي (و) ئې اوږد (و) او واول دئ او دوهم سېلاب ئې جوړ کړی دئ او (ړَی) درېیم سېلاب دئ، چي د (ړ) پر سر زور جوړ کړی دئ او وروستۍ (ی) کونسونانت او ساکنه ده ځکه چي تر مخه توری (ړ) زور لري.

په پښتو کي پنځه ډوله (ی، ي، ې، ۍ، ئ) لیکلي سوي دي. د

Qamosona.com

دغو پنځو څخه ئې (ی ، ۍ ، ئ) بې ږغه یا کونسونانت توري دي.
لنډه (ي) په ځينو ځايو کي واول او په ځينو کي کونسونانت ده، خو اوږده (ې) هر وخت واول ده او هيڅ کله کونسونانت نه ده. په دې اړه به دلته لاندي و لولو:

## درېيم واول (ي ، ې):

که څه هم په پښتو کي (ی ، ي ، ې ، ۍ ، ئ) ګاني پنځه دي، خو په دوی کي (ي او ې) واول او (ی ، ۍ ، ئ) کونسونانت توري دي.

لومړی به د (ي ، ې) په اړه چي واول دي خبري و کړو او بيا به د کونسونانتو (ی ، ۍ ، ئ) په اړه معلومات را وړل سي.

## لومړی:

### معروفه یا لنډه (ي):

مثالونه ئې: پشي ، مامي ، کيږي ، راوړي ، خواري ، ډيري اوبه ، يو ، کيږي ، يوم ، او نور.

لنډه (ي) هم لکه (الف او لنډ و) په ځينو ځايو کي واول او په ځينو ځايو کي کونسونانت توری ده.

لنډه (ي) د واول په توګه:

ـ اينبودل: په اينبودل کي (ايـ) تر (الف) وروسته (يـ) واول ده ځکه

Qamosona.com

چي لومړی هیجا ئې جوړه کړې ده.

ـ (تیر): په تیر کې تر (ت) وروسته لنډه (یـ) واول ده.

ـ (خیره): دغه کلمه دوه سېلابه ده. لومړی سېلاب ئې (خیـ) دئ چي (یـ) ئې واول ده او دوهم سېلاب ئې (ره) دئ.

ـ (ږیره): (ږیره) دوه سېلابه ده، (ږیـ) او (ره).

ـ کړي: په کړي کي (کْ) ساکن، (ړ) کونسونانته او (ي) واول ده.

ـ لَري: (لري) دوې هیجایي کلمه ده. یوه هیجا (لَـ) او بله (ري) چي (ي) ئې واول ده.

ـ کیږي: په (کیږي) کي یوه (یـ) تر (کـ) وروسته او بله (ي) تر (ږ) وروسته واول دي.

ـ مینه: په مینه کي تر (م) وروسته (یـ) واول ده.

ـ (دي): لکه دواړه ملګري را غلي دي. د (دي) کلمه یو سېلابه کلمه ده او سېلاب ئې واول (ي) جوړ کړی دئ.

ـ (کالي): د کالي کلمه دوه سېلابه ده، چي یو ئې (کا) او بل ئې (لي) دئ.

Qamosona.com

لنډه (ي) د کونسونانت توري په توګه لکه:

- (يو): يو قلم. دلته (يـ) کونسونات ده او د (زورکي) له لاري د کونسونانت (و) سره نښتې ده.

دا چي (ي) او (و) دواړه هم واول او هم کونسونانت دي، خو په (يو) کي دواړه کونسونانت دي او يوه زورکي سره نښلولي دي او هغه يو سېلاب ئې جوړ کړی دئ.

- (يو): موږ را غلي يو. دلته (يـ) کونسونانت ده. تر (يـ) وروسته لنډ (و) واول را غلی دئ او هيجا (سېلاب) ئې جوړه کړې ده.

- (مَيَن): دوې هيجاوي دي چي يوه هيجا ئې د (مَـ) پر سر زور جوړه کړې ده او بله ئې د (ـيَـ) پر سر زور جوړه کړې ده. د (مين) په کلمه کي (ي) واول نه بلکي کونسونانت ده او دواړه زورونه لنډ واول دي.

- (بيا): په بيا کي (بـ) ساکنه او (ـيـ) کونسونانت ده. د بيا کلمه يوه هيجا ده او دغه هيجا (الف) جوړه کړې ده نه (ي).

- (يار): دلته (يـ) کونسونانت ده. تر (يـ) وروسته (الف) واول او (ر) کونسونانت ده.

- ځايي: ځايي د (ځا) او (يي) دوو هيجاوو څخه جوړه کلمه ده.

Qamosona.com

دغه کلمه اصلاً د ځای (اسم) څخه د صفت د جوړېدو په وخت کي په ځايي اووښتې ده. دا چي د (ځای) په پای کي نرمه (ی) را غلې ده او د صفت د جوړېدو په وخت کي بايد د نرمي (ی) سره يوه لنډه (ي) و نښلي، ځکه هغه نرمه (ی) په يوه بله کونسونانت لنډه (ي) اووښتې ده، دا ځکه چي تر مخ ئې واول (الف) را غلی دئ.

دوهم:

مجهوله يا اوږده (ې):

مثالونه ئې لکه: ادې، پايځې، خوږې، ډېر، تېر وخت، لرې، کږې، را وړې، سږمې او نور.

اوږده (ې) واول ده، خو هيڅ د کونسونانت او ساکن توري په ډول نه را ځي. بل دا چي د کلمې يا سېلاب په سر کي نه را ځي.

د کلمې په منځ کي لکه:

- (تېر): تېر سوی وخت بيا نه را ګرځي. تېر يوه هيجا ده.
- (ډېر): ډېر خلک کابل ته تللي دي. ډېر يوه هيجا ده.
- (لېږل): لېږل دوه سېلابه کلمه ده لکه: (لې) او (ږل).
- (څېړل): څېړل دوه سېلابه کلمه ده لکه: (څې) او (ړل).
- (پرېښودل): پرېښودل درې سېلابه کلمه ده لکه: (پرې)، (ښو) او (دل).

Qamosona.com

د کلمې په پای کې لکه:

(اَدې): ادې دوه سېلابه کلمه ده، چې (اَ) یو سېلاب او (دې) بل سېلاب دئ. دلته یو سېلاب د (الف) پر سر زور او بل سېلاب تر (د) وروسته (ې) جوړ کړی دئ.

(سرېمې): دوه سېلابه کلمه ده، چې (سَرِ) یو سېلاب او (مې) بل سېلاب دئ.

په ځینوکلمو کې د اوږدې (ې) او لنډې (ي) په کارولوکې د ختیځې او لوېدیځې لهجې تر منځ یو څه توپیر سته. ځیني کلمې په ختیځه لهجه کې په اوږده (ې) او په لوېدیځه لهجه کې هغه کلمې په لنډه (ي) تلفظ او لیکل کیږي لکه:

| لوېدځه لهجه | ختیځه لهجه |
| --- | --- |
| د ښځي کتاب | د ښځې کتاب |
| ډیري ژبي | ډېري ژبې |
| زه چي راغلم | زه چې راغلم |
| کالي مي را وړل | کالي مې را وړل |
| په کابل کي | په کابل کې |
| په کتاب کي | په کتاب کې |

تر دې ځایه مو د لنډې (ي) او اوږدې (ې) په اړه معلومات په لاس را وړل. اوس به نه یوائې د ملیني یا نرمي (ی)، ثقیلي یا درنې

Qamosona.com

ښځينه (ۍ) او ثقيلي يا درنې فعلي (ئ) په اړه معلومات را وړل سي بلکي د پنځو (ی، ي، ې، ۍ، ئ) ګانو په اړه به يو څه معلومات را وړل سي.

## (ی، ي، ې، ۍ، ئ) په پښتو کي:

په پښتو کي (ی) دغه لاندي ډولونه لري. که څه هم لنډه (ي) او اوږده (ې) مخکي د واول او کونسونانت په برخه کي را وړلي سوې، خو بده به نه وي چي دلته ئې يو شمېر نوري ځانګړتياوي هم را وړلي سي:

### ۱ـ ملينه يا نرمه (ی)

### ۲ـ معروفه يا لنډه (ي)

### ۳ـ مجهوله يا اوږده (ې)

### ۴ـ ثقيله تانيثي يا درنه ښځينه (ۍ)

### ۵ـ ثقيله فعلي يا درنه فعلي (ئ)

که څه هم دلته پورته د (ی) ګانو ډولونه پنځه را وړل سوي دي، خو درنه يا ثقيله (ۍ، ئ) اصلاً د تلفظ له مخي يوه ده. دا چي په کارولو کي سره جلا دي ځکه دوې را غلي دي.

(ی، ۍ او ئ) د الفبې د نورو کونسونانتو تورو لکه: (ت، خ، ر، س

Qamosona.com

...) په شان کارول کیږي. ږغ د (ي) ورکوي، مګر د واول په ډول نه را ځي، خو یوه بله ځانګړتیا ئې دا ده چي: د تر مخ توري د زور یا زورکي تعیینوونکي هم دي.

څوک چي غواړي په لنډ ډول د پښتو ژبي (ی) ګاني زده کړي دلته لاندي د مثالو سره را غلي دي لکه:

**۱ـ ملینه یا نرمه (ی) لکه:** نرمه (ی) هغه کونسونانت یا بې ږغه توری دئ چي تر مخ توری ئې یا زور و لري یا (الف) او یا لنډ (و) وي لکه:

د زور مثال: سړَی، غمَی، لرګَی، منګَی، سپَی، دَی....

د (الف) مثال: ځای، چای، پای، لای....

د لنډ (و) مثال: زوی، خوی، لوی، بوی او نور.

ملینه یا نرمه (ی) دغه لاندي خواص لري:

- ❖ په کلمه کي د نرمي (ی) تر مخ توری یا زور لري، یا (الف) او یا معروف یا لنډ (و) وي.
- ❖ دغه (ی) د کلمې په سر کي نه را ځي او که د کلمې په منځ کي را سي دوه ټکي اخلي.
- ❖ ملینه (ی) که د اسمونو په پای کي را غلې وي هغه اسمونه مذکر

Qamosona.com

(نرینه) مفرد اسمونه وي‌او یا د هغو نسبتي حالت وي لکه: کابلی، کندهاری، مزاری او نور.

مثالونه ئې:
سړی پر خپله لار ځي.
په (سړی) کي تر (ی) له مخه توری (ړ) زور لري.
د ملالۍ د امېل غمی بریښي.
په (غمی) کي تر (ی) له مخه توری (م) زور لري.
احمد لرګی اره کړ.
په (لرګی) کي تر (ی) له مخه توری (ګ) زور لري.
لېونی سپی ډېر خطر ناک وي. په (لېونی) او (سپی) کي تر (ی) له مخه توري (ن او پ) زور لري.
د دغه ځای ټول خلک په پښتو پوهېږي.

په (ځای) کي تر (ی) له مخه توری واول (الف) دئ. که (الف) واول نه وای نو معلومداره کونسونانت وای او پر سر به ئې زور لرلای لکه: په (اَی) کي. هغه چي وایي: اَی! ښنګه دي خپل هیواد ټک ټُک کړ؟
دَی د ملالۍ ورور دئ.
په (دی) کي تر (ی) له مخه توری (د) زور لري.
احمد ډېر بد خوی لري.
په (خوی) کي تر (ی) له مخه توری لنډ (و) دئ.

Qamosona.com

ملالۍ په هغه لوی کور کې ژوند کوي.
په (لوی) کې تر (ی) له مخه توری لنډ (و) دئ.

۲ـ **معروفه یا لنډه (ي)**: لکه پښي، نالي، کالي، دي، پاکي، لري او نور. معروفه (ي) دغه لاندي خواص لري:

❖ د کلمې په سر، منځ او پای کې را ځي.
❖ معروفه (ي) د کلمې یا هېجا (سېلاب) په پای کې تر واول (الف) او واول مجهول او معروف (و) وروسته نه را ځي، ځکه دوه واوله یو ځای نه سره را ځي.

مثالونه ئې:
پښي موږک ته غلې ده.
ملالۍ پر نالي ناسته ده.
سدو خپل کالي پاک ساتي.
د بدن پاکي انسان ته ګټه لري.
د دغه کلي خلک غښتلي دي.
دوی په خپل کور کې یوه پښي لري.

کله چي معروفه یا لنډه (ي) د کلمې یا سېلاب په سر کې راسي کونسونات ده او په خپله یوه بل واول ته اړتیا لري چي دې ته حرکت ور کې لکه:

Qamosona.com

په (یو) یعني (۱) کي (يَ) زورکی لري او تر وروسته چي ئې (و) راغلی دئ ساکن او کونسونانت دئ.

په (بیا) کي (بـ) ساکنه ده او (یـ) کونسونانت ده، (الف) واول دئ.

معروفه (ي) هم واول او هم کونسونانت را ځي.

**۳ـ مجهوله یا اوږده (ې)**: لکه ادې، شیدې، مستې، ډېر، مېز، کاسې او نور. مجهوله (ې) دغه لاندي خواص لري:

مجهوله یا اوږده (ې) د کلمې په سر کي نه را ځي، خو د کلمې په منځ او پای کي را ځي.

مثالونه ئې:

د احمد ادې ډېره سپین سرې ده.

د غوا شیدې پروتین لري.

مستې له شیدو څخه جوړیږي.

موږ ډېر کتابونه لرو.

ستا کتابچې پر مېز پرتې دي.

د ده د پتلون پایڅې اوږدې دي.

**۴ـ ثقیله یا درنه ښځینه (ۍ)**: د مونثو یا ښځینه نومونو او هم د هغو مونثو اسمو د ځینو صفتو لپاره راځي لکه: ملالۍ، ګاډۍ،

Qamosona.com

لنګۍ ، غالۍ ، لکۍ ، ببړنۍ ، لېونۍ او نور . د هغو مونثو اسمو جمعي په جوړېږي چي د مفرد په پای کي ئې (ي) وي لکه:

کِلي          کلۍ
سیزني        سیزنۍ ....

دغه (ۍ) دغه لاندي خواص لري لکه:

- ❖ هغه کونسونانت (ۍ) ده چي تر مخ توری ئې (زورکی) لري.
- ❖ دغه (ۍ) د کلمې په سر کي نه را ځي.
- ❖ ثقیله (ۍ) هم د کلمې په پای کي تر (الف) وروسته نه را ځي.

د ښځینه اسمو او صفتو لپاره را ځي.

مثالونه ئې:

ملالۍ په پوهنتون کي ده.
پاچا امان الله خان غوښتل چي هیواد ته رېل ګاډۍ را ولي.
میرویس خان د افغاني غیرت لنګۍ تړلې وه.
افغاني غالۍ نړۍ وال شهرت لري.
هغه کوچني هلک پشي تر لکۍ کش کړه.
د ارغنداو د اولسوالۍ مځکي ښه حاصل ور کوي.

**۵ ـ ثقیله یا درنه فعلي (ئ):** (ئ) د فعلونو لپاره راځي لکه:

Qamosona.com

مه کوئ!، و خورئ!، را ورڼئ! ، خورئ او نور. ثقيله فعلي(ئ) دغه لاندي خواص لري:

- ❖ هغه کونسونانت(ئ) ده چي تر مخ توری ئې زورکی لري.
- ❖ ثقيله فعلي(ئ) د کلمې په پای کي تر(الف) وروسته نه را ځي.
- ❖ ثقيله فعلي(ئ) د کلمې په سر او منځ کي نه را ځي.
- ❖ د فعل د جمع په ډول زياتره د امر او نهي لپاره د جملو په پای کي را ځي.

مثالونه ئې:

کوچنيانو، بد کارونه مه کوئ!

ژر را سئ! ډوډی و خورئ!

خپل کتابونه مو کور ته را وړئ!

کوم خواړه چي تاسي خورئ ښه ګټه نه لري.

ځيني خلک دغه(ئ) امريه(ئ) بولي. په هر صورت دغه(ئ) د مونث اسمونو لپاره نه را ځي بلکي يوائې د فعلونو لپاره را ځي.

يو شمېر خلک په خپلو ليکنو کي درنه ښځينه(ۍ) د فعلي(ئ) پر ځای کاروي. دوی ليکي چي: خپل کتابونه مو را وړۍ. دا سم نه دئ.

## د پښتو ژبي(ی) ګاني په تفصيل سره:

له عربي الفبې څخه پښتو ژبي ته د الفبې د هغو تورو را اخيستل کوم چي ږغونه ئې په دواړو ژبو کي يو شان ول کومه ستونزه نه وه.

Qamosona.com

دلته ستونزه د هغو تورو جوړول وه کوم چې يې ږغونه ئې په عربي کي نه ول. د هغو له جملې څخه يو د پښتو ژبې هغه (ی، ې ، ۍ ، ئ) وې کوم چي په عربي کي ئې ږغونه نه ول. که څه هم (ی) په عربي کي وه، خو هلته د مقصوره (الف) په نامه کارول کېده لکه: موسی (موسا)، یحیی (یحیا)، ادنی (ادنا) او نور. خو دغه (ی) په پښتو کي ځانګړی خصلت لري.

دا چي دغو (ی ، ې ، ۍ ، ئ) ګانو ته سمبولونه څه وخت او د چا له خوا جوړ سوي دي پوره نه پوهیږو. په پخوانيو ليکنو کي به و ګورو چي د دغو (ی ، ې ،ۍ ، ئ) ګانو سمبولونه له کومه وخته را پيل سوي دي.

په پخوانيو ليکنو کي لکه: تذکرة الاولیا[1] د (ی) ګانو د مختلفو ډولونو څرک نه ليدل کيږي. ټولي (ی) ګاني چي د کلمو په پای کي راغلي دي په (ی) يعني ملينه يا نرمه (ی) ليکلي سوي دي. حتا په ځينو ځايو کي چي (ی) بايد د کلمې په پای کي را سي، نه ده را غلې بلکي تر (ی) له مخه توري ببله (ی) ليکل سوي دي او هغو تورو ته نه زور او نه زېر او نه زورکی ليکل سوی دئ.

---

(۱) تذکرة الاولیا د سلیمان ماکو د يوه کتاب نوم دئ چي نژدې اته سوه کاله پخوا ليکل سوی دئ. د دغه کتاب يواځې اته مخونه موندل سوي دي.

Qamosona.com

يو مثال ئې د تذكرة الاوليا په يوه جمله كي ګورو:
"نا څاپه شيخ ملكيار راغی او پر دښمن يرغل و كاوه او ډير زښت و وژل".

كه ئې (ی) ګاني سمي و ليكو نو به دغه ليكنه دا ډول وي:
"نا څاپه شيخ ملكيار راغی او پر دښمن [دښمنې يعني (دښمن يې)] يرغل و كاوه او ډير (ډېر) زښت (زښتې يعني زښت يې) و وژل".

تر تذكرة الاوليا وروسته نو بيا د خوشحال خان په ليكدود كي د (ی) ګانو په برخه كي دوست محمد دوست په (د افغانستان ژبي او توكمونه) نومي كتاب كي ليكي چي:

"د پښتو ټولني په كتابخانه كي د خوشحال خان د اشعارو درې قلمي نسخې موجودي دي. هلته خوشحال خان ثقيله يا درنه (ئ) كله په (ئ) او كله په (هـ + ی) ليكلې ده".

خدای بخښلی ګل پاچا الفت په (ليكوالي) نومي كتاب كي ليكي چي:
"وروسته تر تذكرة الاوليا د پير روښان خيرالبيان د پښتو زوړ كتاب دی. ناروېژی مستشرق (مارګين سټرن) په يوه مقاله كي ليكي چي په دغه كتاب كي د حركاتو (زور، زېر، پېښ) د اظهار لپاره (ه، ی، و) نه دي ليكل شوي. (نشته، اسپی، باسی) په (نشت، اسپ، باس) ليكل شوي دي".

Qamosona.com

خدای بخښلي ګل پاچا الفت د نورو کتابو نومونه هم اخیستي دي چي (ی) چنداني نه پکښي ښکاري.

خدای بخښلي مولوي صاحب صالح محمد چي کله د پښتو لومړی تدریسي کتاب و لیکی او په ۱۳۱۶ هل کال کي د پښتو ټولني له خوا چاپ سو، په هغه کي ئې د (ی) ګانو مختلف ډولونه په لاندي ډول را وړي دي:
سړَی (سړی): د ملیني یا نرمي (ی) لپاره ئې تر (ی) له مخه توري پر سر زور لیکلی دئ.

بنګړِی (بنګړي): د معروفي یا لنډي (ي) لپاره ئې تر (ي) له مخه توري لاندي زېر لیکلی دئ.

شیدے (شیدې): د مجهولي یا اوږدې (ې) لپاره ئې (ے) په کار وړې ده.

مشوانۍ: د مونثو اسمونو لپاره ئې (ۍ) په کار وړې ده.

راغلی (راغلی): د ثقیلي فعلي (ئ) لپاره ئې د ملیني (ی) له مخه توري پر سر زورکی لیکلی دئ. زورکی ئې د زور په شان لږ افقي خط لیکلی دی.

په ۱۳۱۶ ل کال کي کله چي پښتو ادبي انجمن په پښتو ټولنه واوښت،

Qamosona.com

څه موده وروسته ئې د پښتو ژبې د (ی) ګانو په اړه نوي فیصلې و کړلې او دغه اوسني (ی ، ي ، ې ، ئ ، ۍ) سمبولونه ئې ور ته غوره کړل. په هغو فیصلو کي هغه د مولوي صاحب د کتاب (ی) ګاني په لږ تغییر منلي سوي دي.

د هغو له جملې څخه ملینه (ی) ببله دې چي د (ی) له مخه توري پر سر زور و لیکل سي منل سوې ده.

معروفه یا لنډه (ي) ئې داسي منلې ده چي تر ملیني (ی) لاندي دوه څنګ تر څنګ ټکي و لیکل سي نه دا چي د ملیني (ی) له مخه توری دي زېر و لري.

د اوږدې (ې) هغه شکل چي مولوي صاحب غوره کړی وو (ے) له منځه ولاړ او پر ځای ئې تر ملیني (ی) لاندي دوه سر پر سر ټکې (ې) منلې دي.

د مونثو اسمونو ثقیله (ۍ) ئې په هغه شکل منلې ده کوم چي د مولوي صاحب په کتاب کي هم دغسي لیکل سوې وه (ۍ).

د ثقیلي فعلي (ئ) لپاره ئې د (ی) پر سر همزه (ئ) قبول کړی دئ.

اوس چي موږ د دغو پنځو (ی ، ي ، ې ، ۍ ، ئ) لپاره د سمبولونو د جوړولو خبره روښانه کړه ، را ځو دې خبري ته چي ولي موږ د دغو

Qamosona.com

(ی ، ي، ې ، ۍ ، ئ) ګانو څخه په خپلو ليکنو کي کار نه اخلو ؟ ايا د هغو د کارولو زدکړه ډېره سخته ده او که څرنګه؟

په نورو ژبو کي هم دغسي ږغ لرونکي (واول) توري سته او هغوی ئې په ټينګه کاروي. دا چي په پښتو کي د (ی ، ي، ې ، ۍ، ئ) ګانو د ږغونو لپاره سمبولونه جوړ سوي دي نو ډېر به ښه وي چي موږ ئې هم مراعت کړو.

که په ليکنه کي د يوې (ی) پر ځای بله (ي) و کاروو نو د کلمې معنا به له هغي څخه چي موږ ئې غواړو بلي ته واوړي.

يو مثال ئې دغه لاندي دوې کلمې دي لکه:
مينه (ګرانښت ، محبت).
مېنه (کور ، د اوسېدو ځای).

دلته لاندي به لومړی هره هره (ی) معرفي کړو بيا به د هري هري (ی) د استعمال ځيني ځايونه او د هغو تلفظونه و ګورو:

## لومړی ـ ملينه يا نرمه (ی):

دغه (ی) د نورو کونسونانتو تورو په شان کارول کيږي ، خو يوخاصيت ئې دا دئ چي تر مخ توری ئې تل يا زورلري، يا الف او يا لنډه (و) وي.

مثالونه ئې لکه: سړَی، غمَی، لړګَی، سپَی، ځای، خوی، لوی، بوی، دَی، غټَی، مریَی، غویَی او نور.

ملینه (ی) زیاتره د مذکر (نرینه) اسمونو او د هغو د صفتونو د مفرد په پای کي راځي.

ملینه (ی) د کلمې په سر کي نه را ځي، ځکه د دغي (ی) له مخه توری باید زور و لري. دا ځکه چي دغه (ی) سربېره پر دې چي کونسونانت ده تر دې له مخه توری باید یا (الف) یا لنډ (و) او یا زور لرونکی توری وي، د کلمې په سر کي ځکه نه سي را تلای چي له مخه توری نه سي لرلای.

## د ملیني (ی) ځیني خواص:

### ۱ ـ خاصیت:

کله چي د کلمې په پای کي را غلې وي او په هغې کلمې پوري کوم بل توری یا څو توري و نښلي، په دغو لاندي ډولو تغییر کوي لکه:

سپی سپیتانه

سړی سړیتوب

غړی غړیتوب

لېونی لېونتوب

د (لَیلا یا لَیلی) کلمه له دوو هیجاوو څخه جوړه ده لکه (لَیـ) او (لا یا

Qamosona.com

لی). دا چي دغه دوې هيجاوي جلا نه سره ليکل کيږي ځکه په (لـيلا يا ليلی) کي تر لومړي (ل) وروستـه د نرمي (ی) شکل په (ي) اوښتی دئ، خو خپل تلفظ ئې د (ل) په زور سره ساتلی دئ. د لومړي (ل) زور بيا هم پر خپل ځای پاته دئ او نرمه (ی) ئې که څه هم په لنډه (ي) ليکل سوې ده، خو خپل د نرمي (ی) خصلت ئې ساتلي دئ او په (لَی) تلفظ کيږي. دلته که (ی) د کلمې په پای کي نه ده را غلې خو د يوې هيجا يا سېلاب په پای کي را غلې ده.

د نوري شرحي لپاره بايد و وايو چي نرمه (ی) د نورو کونسونانتو تورو لکه: (خ، ر، ت، ز...) په ډول کار ور کوي، خو يواځنۍ دنده ئې دغه ده چي:

- د تر مخه توري زور ساتي.
- تر واول (الف) وروسته را ځي.
- تر واول لنډ (و) وروسته را ځي.
- که تر کونسونانت (الف) او کونسونانت (و) وروسته را سي دواړه (الف) او (و) به زور و لري لکه:

په (اَی اَی، دا دي څه و کړه) کي. دواړه الفان زور لري يعني دواړه الفان کونسونانت دي.

په (وَی وَی، پښه مي ډېره خوږيږي) کي هم دواړه (و) زور لري.

تر واول (الف) او واول لنډ (و) وروسته خپل کونسونانت حالت ساتي

Qamosona.com

لکه: په (ځای) او (لوی) کي.
دا ځکه چي په ځای او زوی دواړو کي دواړه (الف) او لنډ (و) واول را غلي دي.

۲ ـ **خاصیت**: ملینه یا نرمه (ی) د یو شمېر نرینه (مذکر) اسمونو او صفتونو د مفرد حالت په پای کي راځي مهم خاصیت ئې دا دئ چي تر مخه توری ئې (زور) لري لکه:

سړی

سپی

غمی

لړګی ....

۳ ـ **خاصیت**: کوم اسمونه چي په پای کي ئې ملینه (ی) را غلې وي جمعي ئې په معروفه (ي) جوړېږي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| سپی | سپي |
| سړی | سړي |
| لړګی | لړګي |
| زمری | زمري |
| ټوخی | ټوخي |

Qamosona.com

**۴ـ خاصیت**: ملینه (ی) د کلمې په سر کي نه را ځي، دا ځکه چي د دغي (ی) خصلت دا دئ چي تر مخ توری ئې زور لري، دا چي تر دې له مخه توری نه سته، ځکه د کلمې په سر کي نه سي را تلای.

**۵ـ خاصیت**: د ملیني (ی) بل خاصیت دا دئ چي کله د اضافت (د) ور سره را سي د مفرد په حالت کي په معروفه (ي) اوړي لکه:

د سړي شمله.

د سپي لکۍ.

د لرګي کونده.

د زمري پښه.

په پورتنیو جملو کي چي د (سړي، سپي، لرګي او زمري) کلمې را غلي دي ټولي کلمې مفرد اسمونه دي، نه جمع.

**۶ـ خاصیت**: د ملیني (ی) بل خاصیت دا دئ چي: هغه اسمونه چي دغه (ی) ئې په پای کي را غلې وي په ځینو متعدي ماضي زمانو کي ئې دغه نرمه (ی) په معروفه یا لنډه (ي) اوړي لکه:

| حال | متعدي ماضي |
|---|---|
| سپی هډوکی خوري | سپي هډوکی و خوړ |
| سړی خر وهي | سړي خر و واهه |
| زمری غوښي خوري | زمري غوښي و خوړلې |

Qamosona.com

په پورتنیو جملو کي (سپي ، سړي او زمري) جمع اسمونه نه دي ، خو دا چي (سپی ، سړی ، او زمری) په متعدي مطلقه ماضي کي را غلي دي د (سپي ، سړي او زمري) په مفرد حالت اوښتي دي.

یادښت: متعدي او لازمي فعل:
ـ متعدي فعل هغه فعل دئ چي فاعل او مفعول دواړه و لري لکه: سړي احمد ته و ویل. دلته (سړي) فاعل او (احمد) مفعول دئ او و ویل متعدي فعل دئ.

ـ لازمي فعل هغه فعل دئ چي مفعول ئې په جمله کي نه وي را غلی او یوائې فاعل و لري لکه: سړی کندهار ته ولاړ. دلته سړی فاعل دئ او (ولاړ) ئې لازمي فعل دئ او مفعول نه لري.

۷ـ **خاصیت**: د ملیني (ی) یو بل خاصیت دا دئ چي د ندا په حالت کي په معروفه (ي) اوړي لکه:

| | |
|---|---|
| سړی | سړیه! |
| زړګی | زړګیه! |
| سپی | سپیه! |
| غمی | غمیه! |

د ندا په حالت کي پورتنۍ کلمي یو شمېر خلک له (ي) څخه د له مخه توري په (زبر) تلفظ کوي. یعني دغه کار چي د (سَړیه) د (ړ)

Qamosona.com

زور په زير اړوي او(سَ ، رِ ، يه) ور ځخه جوړوي ، چي دا کار د پورتنيو کلمو اصليت ته تغيير ور کوي.

## دوهم ـ معروفه يا ځرګنده يا لنډه (ي):

لکه پشي ، نالي ، کالي ، پاکي ، دي ، خوري او داسي نور. معروفه (ي) د کلمې په سر ، منځ او پای کي را ځي. په پښتو کلمو کي معروفه (ي) د کلمې په پای کي تر (الف) وروسته نه را ځي.

د معروفي يا لنډي (ي) تر مخه توری زور يا زورکی (لنډ واول) نه سي لرلای ، دا ځکه چي د کلمې يا هيجا (سېلاب) په پای کي لنډه (ي) واول وي. د دې معنا دا ده چي تر مخه توری ئې کونسونانت وي لکه په لاندي کلمو کي:

د (پشي) په کلمه کي (ش) کونسونانت او (ي) واول ده.

د (نالي) په کلمه کي (ل) کونسونانت او (ي) واول ده.

د (کالي) په کلمه کي (ل) کونسونانت او (ي) واول ده.

د (پاکي) په کلمه کي (ک) کونسونانت او (ي) واول ده.

کله چي معروفه يا لنډه (ي) د کلمې په سر کي را سي د کانسونانت په شان کار ور کوي. دا په دې معنا چي دغه (ي) پخپله يوه بل واول ته اړتيا لري چي دې ته حرکت ورکي. دا خبره تر مخه د واول په برخه کي را غلې ده.

Qamosona.com

د معروفي يا لنډي (ي) ځيني خواص:

**۱ـ خاصيت**: کوم نرينه اسمونه چي ملينه يا نرمه (ی) ئې په پای کي را غلې وي جمعي ئې په معروفه (ي) جوړيږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| سپی | سپي |
| سړی | سړي |
| کالی | کالي |
| لرګی | لرګي |

**۲ـ خاصيت**: لکه د ملیني (ی) په برخه کي چي و ويل سوه د هغو اسمونو په پای کي چي ملينه (ی) راغلې وي په اضافي حالت کي [له اسم سره چي (د) را غلی وي] ملينه (ی) په نرمه (ي) اوړي، که څه هم اسم جمع نه وي لکه:

د سړي ډوډۍ ئې راوړه.

د سپي لکۍ ئې ور لنډه کړه.

**۳ـ خاصيت**: لکه د ملیني (ی) په برخه کي چي و ويل سوه د هغو مفردو مذکرو اسمونو په پای کي چي ملينه (ی) راغلې وي د متعدي ماضي په ځينو جملو کي په داسي حال کي چي اسم جمع نه وي ملينه (ی) په معروفه (ي) اوړي لکه:

Qamosona.com

سړي موږ ته و ويل.
سپي خلکو ته و غپل.

د لازمي فعل د ماضي په صورت کې ملينه (ی) په معروفه (ي) نه اوړي لکه:
سړی کابل ته ولاړ.
سپی و تښتېد.

۴ ـ خاصيت: د معروفي (ي) يو بل خاصيت دا دئ چي: د کومي کلمې په پای کي چي د ښځينه اسمونو ثقيله (ۍ) را غلې وي او و غواړو چي د يو بل نوم يا کلمې سره ئې يو ځای کړو دا چي ثقيله ښځينه (ۍ) د کلمې په منځ کي د بلي کلمې سره نه نښلي، ځکه د لنډي (ي) په شان ليکل کيږي لکه:
ګاډۍ ګاډيوان
هګۍ د هګيو. هګۍ مفرد او جمع اسم د ئ.
د هګۍ په اضافي حالت کي په (د هګيو) کي تر (ي) له مخه توری د خپل زورکی تلفظ ساتي او په لنډه يا معروفه (ي) نه تلفظ کيږي.

## دريېم ـ مجهوله يا اوږده (ې) لکه:

ادې، شيدې، مستې، ډېر، مېز او نور.

Qamosona.com

د مجهولي يا اوږدې (ې) ځيني خواص:

۱ـ **خاصيت**: مجهوله (ې) د کلمې په سر کي نه را ځي، خو د کلمې په منځ او پای کي را ځي. دا ځکه چي د کلمې يا سېلاب په سر کي واول نه را ځي.

۲ـ **خاصيت**: دغه (ې) هم د پښتو کلمو په پای کي تر واول (الف)، واول (و) او واول (ي) وروسته نه را ځي. دا ځکه چي دغه (ې) تل واول ده او دوه واوله يو ځای نه سره را ځي، خو تر کونسونانت (الف)، کونسونانت (و) او کونسونات (ي) وروسته را تلای سي لکه په (اې، وروره!)، (وې ويل) او (ته کتاب وا يېـ) کي. ټولي هغه پښتو کلمې اوسېلابونه چي په پای يا منځ کي ئې مجهوله (ې) را غلې وي تر مجهولي (ې) له مخه توری کونسونانت وي لکه: په لاندي کليمو کي:

د (ادې) په کلمه کي (د) کونسونانت دئ.
د (شيدې) په کلمه کي (د) کونسونانت دئ.
د (مستې) په کلمه کي (ت) کونسونانت ده.
په (يې) کي لومړې (ي) کونسونانت معروفه يا لنډه (ي) ده.
د (ډېر) په کلمه کي (ډ) کونسونانت دئ.

د (ډېر) کلمه سرببره پر دې چي تر (ډ) وروسته د اوږدې (ې) ږغ

Qamosona.com

اوربدل کیږي بیا ئې هم زیاتره لیکونکي په معروفه (ي) (ډیر) لیکي.

۳ـ **خاصیت**: مجهوله یا اوږده (ې): د یو شمېر مونثو یا ښځینوو اسمونو د جمع په حالت کي د اسمونو په پای کي را ځي لکه:

۱ـ **خاصیت**: د هغو ښځینوو اسمونو جمعي په اوږده (ې) جوړیږي کوم چي:

- په پای کي ئې (ه، ـه) را غلې وي.
- تر (ه، ـه) د مخه توري ئې زور و لري.
- د کلمې پر وروستۍ برخه ئې خج را غلی وي.

دغه اسمونه ښځینه اسمونه دي او جمعي ئې په مجهوله یا اوږده (ې) جوړیږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ګډوه | ګډوې |
| سږمه | سږمې |
| پایڅه | پایڅې |
| کاسه | کاسې |
| کوزه | کوزې |
| کنډواله | کنډوالې |
| جنازه | جنازې |

Qamosona.com

## څلورم ـ ثقيله يا درنه ( ی، ئ ):

ثقيله يا درنه (ی، ئ) هغه کونسونانت (ی، ئ) ده چي پخپله د (ي) ږغ ورکوي او تر مخه توری ئې زورکی لري. دا چي ولي ئې ور ته دوه سمبولونه (ی، ئ) غوره کړي دي دليل ئې دا دئ چي:

ـ (ی) د ښځينه نومونو او د هغو د ځينو صفتو په پای کي را ځي او ښځينه درنه (ی) ئې بولي.

ـ (ئ) د فعلونو په پای کي را ځي او د درنې فعلي (ئ) په نامه ئې بولي.

دلته لاندي به هره يوه په جلا توګه را وړو:

**الف ـ**

**درنه ښځينه (ی):** چي د مونثو يا ښځينه نومونو لپاره راځي لکه: ملالۍ، ګاډۍ، لنګۍ، غالۍ، هګۍ، پېړۍ او نور.

د ښځينه اسمو درنې (ی) ځيني خواص:

۱ ـ **خاصيت**: په کلمه کي د (ی) مخکي توری تل زورکی لري لکه په لاندي کلمو کي:

ـ د (ملالۍ) په کلمه کي (ل) چي تر (ی) له مخه را غلی دئ زورکی لري.

ـ د (ګاډۍ) په کلمه کي (ډ) زورکی لري.

Qamosona.com

ـ د ( لنګۍ ) په کلمه کي (ګ) زورکی لري.
ـ د (غالۍ) په کلمه کي (ل) زورکی لري.
ـ د (هګۍ) په کلمه کي (ګ) زورکی لري.
ـ د (پېړۍ) په کلمه کي (ړ) زورکی لري.

د دې معنا دا ده چي دغه (ۍ) تل کونسونانت یا بې ږغه توری ده، ځکه چي تر مخ توری ئې زورکي لري او تر زورکي وروسته بل واول نه راځي. دا چي له نورو (ی، ي، ې، ئ) ګانو څخه ئې توپیر و سي، ځکه ئې یوه لکۍ پوري نښلولې ده یعني (ۍ).

۲ ـ **خاصیت**: هغه اسمونه چي په پای کي ئې (ۍ) را غلې وي مونث یا ښځینه نومونه دي. د دغو لاندي ښځینو اسمونو جمعي او مفرد دواړه په (ۍ) را ځي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| یوه هګۍ | څلور هګۍ |
| یوه ګاډۍ | پنځه ګاډۍ |
| یوه افغانۍ | شپږ افغانۍ |
| یوه کړۍ | لس کړۍ |
| یوه ډوډۍ | دري ډوډۍ |
| یوه تنۍ | اته تنۍ |

Qamosona.com

هېر ئې باید نه کړو چي په ژبه کي ځیني استثناوي سته لکه: د نجلۍ جمع نجلۍ نه ده بلکي نجوني دي لکه:

نجلۍ نجوني

۳ـ **خاصیت**: کله چي د ښځینه اسم په ثقیله (ۍ) پوري کومه بله کلمه یا توری (الحاقیه) و نښلي، ثقیله (ۍ) خپل شکل بدلوي او په معروفه یا لنډه (ي) لیکل کیږي، مګر له (ۍ) څخه مخکي توری بیا هم خپل د زورکي ږغ ساتي او (ۍ) ئې په لنډه کونسونانت (ي) اوړي او د یوه بل واول له لاري په حرکت را ځي لکه:

ټول خلک په ګاډیو کي ولاړل.

په پورتنۍ جمله کي چي کله له (ګاډۍ) سره (و) و نښت، (ۍ) ئې په (ي) واوښته او کلمه په (ګاډیو) وا وښته. په ګاډۍ کي (ۍ) چي کله له (و) سره و نښلېده په (ي) واوُښته، خو خپل د کونسونانت (ۍ) ږغ ئې و ساتی. دا ځکه چي تر مخ توري ئې زورکی وو. لامل ئې دا دئ چي د (ګاډیو) کلمه درې سېلابه ده لکه: (ګا، ډ، یو). دلته په ګاډۍ کي پر (ډ) زورکی را غلی وو او په (ګاډیو) کي چي (ۍ) له (و) سره و نښته، (ډ) له زورکي سره سېلاب جوړ کړ او (ۍ) په کونسونانت (ي) وا وُښته او له (و) سره ئې (یو) سېلاب جوړ کړ.

په دغه ډول په لونګیو، غالیو، هګیو او پېړیو کي د پورتنۍ قاعدې

Qamosona.com

په شان کارول کېږي لکه:

- ربډي د ټولو لنګیو پیسې ور کړلې.
- د دغو هګیو پوستکي ډېر کلک دي.
- په دې وروستیو پېړیو کي د تخنیک په برخه کي ډېر پر مختګونه سوي دي.
- ټول نړیوال د ځینو ناروغیو څخه ډار لري.

دلته ځیني کلمې سته چي په پای کي ئې (ۍ) را غلې وي، که وال یا وان پوري و نښلوو بیا ئې ځیني خلک په معروفه (ي) تلفظ کوي او ځیني ئې د ښځینه اسم په ثقیله (ۍ) تلفظ کوي. د مثال په توګه:

- د نړۍ څخه نړیوال
- د ګاډۍ څخه ګاډیوان
- د ربړۍ څخه ربړیوان
- د هټۍ څخه هټیوان
- د بټۍ څخه بټیوان

که (هګۍ) په (هګیو) واوړي د (ګ) زورکی تغییر نه کوي او (ۍ) ئې ځکه په لنډه کونسونانت (ي) اوړي چي وروسته ئې واول لنډ (و) را ځي. دغه قاعده په پېړیو، ګاډیو، کېږدیو، لنګیو کي هم دغسي ده. په پېړیو، ګاډیو، کېږدیو، لنګیو، هګیو... کي تر (ۍ) له مخه توري د زورکي اړول په زوَر وېره نه لیدله کېږي. اوس که له نړۍ سره وال،

Qamosona.com

له ګاډۍ سره وان ، له ربړۍ سره وان ، له هټۍ سره وال ، له بټۍ سره وال الحاقيې و نښلي بيا وېره سته چي لوستونکي تر درنې (ۍ) د تر مخه توري زورکی ليري کړي او (ۍ) چي په (ي) اوښتې وي په زېر وا ړوي او کلمې په لنډه (ي) سره تلفظ کي. ښه به دا وي چي د (وان) او (وال) توري د اصلي کلمو څخه جلا و ليکل سي لکه: نړۍ وال ، ګاډۍ وان ، ربړۍ وان....

۴ـ **خاصيت**: هغه اسمونه چي ثقيله تانيثي (ۍ) ئې په پای کي را غلې وي په مفرد حالت کي د اضافت يا ملکيت په حالت کي په خپل حالت را ځي لکه:

ـ د هګۍ پوسکی ډېر کلک دئ.

ـ د تنۍ غوټه دي خلاصه سوه.

ـ د ګاډۍ آس سپين دئ.

۵ ـ **خاصيت**: کله چي دغه اسمونه د اضافت په حالت کي په جمع اوړي ثقيله (ۍ) ئې په معروفه (ي) اوړي او په پای کي ئې (و) را ځي. دغه کار نه يواځي (ۍ) اړوي بلکي کلمه د دوو سېلابو څخه په درېيو سېلابو يا هيجاوو اوړي او معروفه (ي) ئې په کانسونانت (ي) اوړي لکه:

د هګيو پوستکي کلک دي. (هګيو) درې سېلابه دي لکه (هَـ)، (ګـ)

Qamosona.com

او (یو). د (ګ) پر سر زورکی او (یـ) کانسونانت (بې رږغه) ده او (و) واول دئ.

- د تنیو غوټي دي خلاصي سولې. (تَـ ، نَۂ ، یو)
- د ګاډیو آسونه سپین دي.

په (تنیو او ګاډیو) کي هم د له مخني مثال په شان کیږي. یو څه چي پر خپل حال پاته کیږي هغه د ثقیلي (ۍ) د له مخه توري زورکی دئ چي تر پایه له منځه نه ځي.

په یاد ئې باید ولرو چي دلته ځیني استثنایې حالتونه سته لکه:
د نُجلۍ جمع په نجوني او د جمع د اضافت په وخت کي معروفه (ي) په لنډ (و) اوړي لکه: نجوني د اضافت په حالت کي په نجونو اوړي لکه: د نُجونو ښوونځی.

د (نُجوني) د جمع په اضافي حالت کي لنډه (ي) له منځه ولاړه او پر ځای ئې واول لنډ (و) را غی.

دلته لاندي به د هغو صفتونو یو څو مثالونه را وړو چي د دغو مفرد نومونو سره را ځي کوم چي په پای کي ئې (ۍ) را غلې وي:
ورسته هګۍ
زړه افغانۍ
ژیړه کړۍ

Qamosona.com

پخه ډوډۍ

خلاصه تنۍ

سره ګاډۍ

که چیري پورتني اسمونه د جمع په حالت کي را سي اړونده صفتونه ئې ځیني په مجهوله (ې) او ځیني ئې په معروفه (ي) را ځي لکه:

زَړه هګۍ جمع ئې (زَړې هګۍ). (زړه) په پای کي خج لري.

ژیړه ګاډۍ جمع ئې (ژیړي ګاډۍ). (ژیړه) خج نه لري.

یو اسم چي زموږ زیاتره پښتانه وروڼه او خویندي ئې غلط تلفظ کوي هغه (ښوونځی) دئ چي په (ښوونځۍ) ئې تلفظ کوي.

دغه کلمه په اصل کي ښوونځای دئ چي په محاوره کي ښونځی ور څخه جوړ سوی دئ. ښوونځی مذکر یا نرینه اسم دئ. سړی نه پوهیږي چي دا ولي په ښځینه اسم (ښوونځۍ) اوښتی دئ.

کوښښ باید و سي چي دغه په (ښوونځی) تلفظ سي او د جمع او اضافت په حالت کي په (ښوونځي) تلفظ سي.

ب ـ

**درنه فعلي (ئ)**: هغه کونسونانت (ئ) ده چي د فعلونو لپاره را ځي لکه:

Qamosona.com

مه کوئ! ، و خورئ! ، را وړئ! ، خورئ او نور .

دغه ډول د (کوئ!، و خورئ!، را وړئ! ، خورئ) په کلمو کي له ثقیلي (ئ) څخه مخکي توری زورکی لري . دغه دواړي (ی ، ئ ) ګاني د کلمې په سر کي او تر (الف) وروسته نه را ځي .

د پښتو ي ګانو یوه لنډه معرفي:

| یواځي واول | هم واول هم کونسونانت | یواځي کونسونانت |
| --- | --- | --- |
| ې | ي | ی ی ئ |

# په پښتو کي (هـ ، ه ، ـهـ ، ـه ) :

د پښتو ژبي په الفبې کي یو بل توری (هـ ، ه ، ـهـ ، ـه) ده چي دلته به خبري پر و کړو : دغه توری په عربي او پارسي کي هم سته چي په دغو شکلو لیکله کیږي (هـ ، ه ، ـهـ ، ـه) . دغه (هـ ، ه ، ـهـ ، ـه) په ځینو ځایو کي ملفوظي [چي په (هـ) تلفظ کیږي] او په ځینو ځایو کي غیر ملفوظي [چي په (هـ) نه تلفظ کیږي) وي .

د پښتو ژبي د ګرامر په ځینو کتابو کي د کلمې په پای کي واول بلل سوې ده او په ځینو کي بیا د کلمې په پای کي د مونث او مذکر اسمو

Qamosona.com

تعيينوونکي بلل سوي ده.

په پښتو کي (هـ) په دغو ډولو ليکل کيږي (هـ، ـهـ، ه، ـه). د دغو له جملې څخه کومه چي د کلمې په سر کي را سي (هـ) ليکل کيږي او که د کلمې په منځ کي را سي (ـهـ) ليکل کيږي. (ه، ـه) دوه شکلونه ئې د کلمې په پای کي ليکل کيږي. لومړی شکل (ه) ئې تر (ا، د، ډ، ذ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، و) وروسته را ځي. (ـه) شکل ئې دکلمې په پای کي ببله (ا، د، ډ، ذ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، و) څخه د الفبې له نورو تورو سره نښتې را ځي. (هـ، ه) دوه ډوله ده:
يوه ملفوظي (هـ، ـهـ، ه) او بله غير ملفوظي (ـه، ه) ده.

## ۱ـ ملفوظي (هـ):

(هـ) چي په هر ځای کي د (هـ) ږغ ور کي ملفوظي ده لکه:
په هيلۍ، هګۍ، هوسۍ، هوږه، هر، بهر، ګهيځ، پوه، تره (ډار يا وېره) او داسي نورو کلمو کي. د کلمې په پای کي په پښتو کي ببله د [پوه (هـ) او تره (ترهـ)] او په يو شمېر لږو نورو کلمو کي بل ځای دومره ډېره نه تر سترګو کيږي. او د (پوه) په کلمه کي په دوه سترګې (هـ) نه ليکل کيږي او په ګردۍ (ه) اوړي. دا به ښه وای چي په (هـ) ليکل کېدای. (ه، ـه) چي کله د پښتو کلمو په پای کي را غلې وي په هر ځای کي د (هـ) ږغ نه ور کوي. ځکه په هغو ځايو کي ور ته غير ملفوظي (ه) وايي.

Qamosona.com

## ۲ـ غیر ملفوظي (ه ، ـه):

هغه (ه ، ـه) ته وایي چي د پښتو کلمې په پای کي را ځي او هیڅکله د (هـ) ږغ نه ور کوي لکه: ښځه ، اوږه ، خوله ، ګډوه ....

## ملفوظي او غیر ملفوظي (ه ، ـه) په عربي کي:

ـ ملفوظي (ه ، ـه):

د یو شمېر عربي کلمو په پای کي چي (ه یا ـه) را غلې وي د (هـ) ږغ ور کوي او که کوم بل توری یا کلمه ور سره و نښلي (ه) خپل تلفظ د (هـ) په شان ساتي لکه: په (المدرسةِ انا) کي. دلته د المدرسه (ـه) په (ـة) وا وښته.

ـ غیر ملفوظي (ه ، ـه):

کله چي (ه یا ـه) د کومي عربي کلمې په پای کي راسي د (هـ) په شان ږغ نه ورکوي بلکي د (ت) ږغ ور کوي لکه: په (في المدرسةِ انا) کي ، ځکه ئې غیر ملفوظي (ـه) بولي.

## ملفوظي او غیر ملفوظي (ه ، ـه) په پارسي کي لکه:

ـ ملفوظي (ه ، ـه):

(ه ، ـه) چي کله په کلمه کي د دوه سترګي (هـ ، ـهـ) په شکل را سي هر وخت (هـ) تلفظ کیږي یعني ملفوظي وي. کله چي د کلمې په پای کي د (ه یا ـه) په شکل را سي بیا نو په ځینو کلمو کي ملفوظي

Qamosona.com

(تلفظېدونکې) او په ځینو کلمو کي غیر ملفوظي (نه تلفظېدونکې) وي لکه: په دغو لاندي پارسي کلمو کي ملفوظي ده:
د (اګاه) یعني با خبر صفت په پای کي چي کومه (ه) را غلې ده په (ه) تلفظ کیږي. کله چي د اګاه صفت په اسم اوړي په پای کي ئې (ی) ورلویږي او (اګاهی) ورڅخه جوړیږي. په دغه نوې کلمه کي د (هـ) ور سره ملګرې وي او تلفظ هم ور سره ملګری وي.

د (چاه) څا څخه د وحدت د (ی) د یو ځای کېدو په وخت کي (چاهی) جوړیږي.
(راه) لار (راهی) یوه لار.
(ماه) میاشت (ماهانه).
د (ګناه) څخه ګناهکار (ګنهګار).

په پورتنیو کلمو کي د کلمې په پای کي چي کومه (ه ، ـه) را غلي ده لومړی هلته خپل ږغ ساتي او بیا د نښلېدو (الحاق) په وخت کي هم خپل ځای او هم ږغ ساتي. ځکه ور ته ملفوظي وایي.

- غیر ملفوظي (ه ، ـه):
د پارسي کلمو په پای کي چي (ه ، ـه) راسي هغه وخت غیر ملفوظي (ه ، ـه) ور ته ویل کیږي چي د کلمې په پای کي خپل ږغ و نه ساتي او حتا د بل توري یا کلمې سره د نښتلو (الحاق) په صورت

Qamosona.com

کي يخي خپل ځای پريږدي او له منځه ولاړه سي لکه په لاندي مثالو کي:

(بچه)

(شده)

(خانه)

(تشنه) او نوري کلمې.

د پورتنيو کلمو په پای کي چي کومه (ه، ـه) را غلې ده هيڅ وخت د (هـ) ږغ نه ورکوي. اصلاً (ه، ـه) دلته د د مخني توري د واول (زور) د ځای د ساتلو په خاطر د يوه قرارداد په شکل را غلې ده.

کله چي د پورتنيو کلمو سره کومه بله کلمه يا توری و نښلي (ه، ـه) ئې ځکه چي غير ملفوظه ده له منځه ځي او پر ځای ئې هغه تر (ه) د له مخه توري زور چي واول دئ د مخکني توري د حرکت په شکل ساتي لکه:

له بچَه څخه بچَ + ګی ـ بچګی

له شُدَه څخه شُدَ + نی ـ شُدنی

له خانَه څخه خانَ + ګی ـ خانګي

له تشنَه څخه تشنَ+ ګی ـ تشنګی

Qamosona.com

## ملفوظي او غیر ملفوظي (ه) په پښتو کي:

دلته چي موږ د ملفوظي او غیر ملفوظي (ه) په اړه څه وایو هغه دا چي (ه) د کلمې په پای کي کله تلفظ کیږي او کله نه تلفظ کیږي. هلته چي تلفظ کیږي (ملفوظي) او چي نه تلفظ کیږي (غیر ملفوظي) بلل کیږي. د مثال په توګه د پوه (پوهـ) او تره (ترهـ) یعني وېره، ډار په کلمو کي (ه) د (هـ) ږغ ور کوي ځکه ور ته ملفوظي ویل کـیږي. د پسه، وراره، ښځه، تره (اکا) په کلمو کي نه تلفظ کیږي ځکه ور ته غیر ملفوظي (ه) وایي.

که څه هم د ملفوظي او غیر ملفوظي (ه) په اړه د پښتو ګرامر ځیني کتابونه داسي لیکي:

۱ ـ ملفوظي (ه):

هغي ساکني (ه) ته وایي چي د کلمې په اخر کي را ځي او په تلفظ کښې اواز پوره ادا کیږي او په پښتو کښي عموماً د مذکر نښه ده مثلا پسه، بیده، واښه او نور.

۲ ـ غیر ملفوظي (ه):

هغي ساکني (ه) ته وایي چي د کلمې په اخر کي را ځي او په تلفظ کښې ئې اواز پوره نه ادا کیږي بلکي د یو زور په شان ادا کیږي او په پښتو کښي عموماً د تانیث علامه ده مثلا ښځه، پزه، سترګه او نور.

Qamosona.com

په پورتنيو مثالو کي په يوه کي لا ملفوظي (ه) نه ښکاري چي د (هـ) ږغ دي ور کي. دلته به و ښيو چي د کومو اسمونو په پای کي چي (ه) را غلې وي مونث او مذکر ئې تر (ه) له مخه د توري په زور يا زورکي او خج پوري اړه لري.

په پښتو ژبه کي زور، زېر، پېښ او زورکی سته او ليکل کيږي نه. که د کومي کلمې د پای پر توري زور يا زورکی راغلی وي دا چي زور يا زورکی نه ليکل کيږي پر ځای ئې د کلمې په پای کي (ه يا ـه) ليکل کيږي لکه:

د (وراره) د کلمې تر (ه) له مخه پر (ر) زورکی راغلی دئ، دا چي زورکی نه ليکل کيږي ځکه ئې په ليکنه کي د زورکي پر ځای په پای کي (ه) ليکلې ده او (وراره) ئې ور څخه جوړ کړی دئ. که موږ زورکی ليکلای نو، پسه او وېښته ته به مو (ـه) نه ليکلای او د (س او ت) پر سر به مو زورکی ليکلای لکه:

پس په پسه

وېښت په وېښته

وړاندي مو و ويل چي د ګرامر د کتابو ځينو ليکونکو د مونث يا ښځينه او مذکر يا نرينه اسمونو مشخص کول له ملفوظي او غير ملفوظي (ه) سره تړلي دي. دلته (ه، ـه) نه ده بلکي تر (ه، ـه) د له مخه توري پر سر چي کوم زور يا زورکی را غلی دی هغه د هغې کلمې

Qamosona.com

مونث يا مذکر تعيينوي. هېر ئې بايد نه کړو چې د کلمو د مذکر او مونث په ښودلو کې نه يوازې زور يا زورکی رول لري بلکې يوه بله خبره چې مهمه ده هغه (خج) يا accent دئ.

(**خج**): د يوې کلمې پر يوه هيجا يا سېلاب باندې د ږغ يا اواز زور يا فشار دی چې لاندې به ئې يو څو مثالونه راوړو.

**ښه** (د مرغه ښکه). په دغه کلمه کې پر (ښ) باندې يوازې زورکی راغلی دی.

**ښه** (څېره يا چهره). په دغه کلمه کې پر(ښ) باندې لومړی زور او بيا د کلمې يو څه کش سوی دئ. يا په بل عبارت کلمه په پای کې کش سوې ده، چې دغه کش ته خج ويل کيږي.

**پټه**: که د دغې کلمې پر هغه توري چې تر (ه) له مخه را غلی دئ زورکی وي او پر پای ئې خج نه وي راغلی دغه کلمه صفت دئ د مونث اسم لپاره لکه:

پټه سترګه

پټه خبره

پټه خونه

**پټه**: که په دغه کلمه کې تر (ه) د مخه توری (ټ) زور و لري او د

Qamosona.com

کلمې پر پای خج را غلی وي دغه کلمه ښځینه اسم دئ لکه:
د ځینې پټه.

یو شمېر نوري هغه کلمې چې په پای کې ئې (ي) را غلي وي:

| ب | الف |
|---|---|
| زاري | زاري |
| خواري | خواري |
| بېکاري | بېکاري |
| چټلي | چټلي |
| مغروري | مغروري |
| نا حقي | نا حقي |

(الف) سِتون خجونه لري او (ب) سِتون خجونه نه لري. د (الف) ستون کلمې چې خجونه لري اسمونه دي او د (ب) ستون کلمې چې خجونه نه لري صفتونه دي.

ـ د خج لرونکو اسمو یو څو مثالونه:

احمد په خواري پسې تللی دي.

اوس دلته بېکاري ډېره ده.

مغروري ښه کار نه دئ.

دلته ډېره چټلي ده.

Qamosona.com

ـ د بې خجه کلمو( صفتو ) یو څو مثالونه:

خواري زاري مرغۍ چیري ژوند کوې؟

په دغه ډنډ کي چټلي اوبه درېږي.

ملالۍ له یوې بېکاري ښځي سره مرسته و کړه.

اوس به د کلمې په پای کي د (ه، ـه)، زور، زورکي او خج اغېز د مونثو او مذکرو اسمو په جوړولو کي و ګورو:

## په پښتو کي مونث او مذکر اسمونه ډېر ډولونه لري لکه:

**مونث اسمونه:**

ادې، انا، ښځه، خور، چوکۍ، لور او نور.

**مذکر اسمونه:**

بابا، پسه، ورور، مرغه، وراره، سړی، سپی او نور.

دا چي دلته خبري یواځي د کلمې په پای کي (ه، ـه) په اړه دي، ځکه موږ یواځي پر هغو ښځینوو او نرینوو اسمونو او د هغو پر صفتو خبري کوو کوم چي په پای کي ئې(ه، ـه) را غلې وي.

دلته به د مذکر او مونث اسمونو یو څو مثالونه راوړو چي په پای کي ئې(ه، ـه) را غلې وي او و به ګورو چي په کلمه کي زور، زورکی او خج څومره اغېزه لري:

Qamosona.com

۱ـ (پسه): دغه اسم

- په پای کي (ه) لري
- تر (ـه) له مخه (س) زورکی لري
- د کلمې پر پای خج را غلی دئ

دغه اسم مذکر دئ، ځکه په پای کي (ه)، زورکی او خج لري.

۲ـ (ښځه): دغه اسم

- په پای کي (ه) لري
- (ځ) زورکی لري
- د کلمې پر پای خج نه دئ را غلی

دغه اسم مونث اسم دئ.

پدې ځای کي د کلمې د پای خج څومره اغېزمن دی. یعني دا چي په دواړو اسمو کي په پای کي (ه) را غلې ده او تر (ه) لـه مـخه تـوری زورکی لري، خو یواځنی توپیر ئې د کلمې د پای خج دئ چي اسم ئې له مذکر په مونث اړولی دئ.

بل مثال:

(مرغه): دغه اسم

- په پای کي (ه) لري
- (غـ) زورکی لري
- د کلمې پر پای ئې خج را غلی دئ

Qamosona.com

دغه اسم مرغه (پرنده) مذکر اسم دئ.

بل مثال:

(مرغه) یعني واښه: دغه اسم

- په پای کي (ه) لري په لیکلو کي
- پر (غـ) زور لري
- د کلمې پر پای ئې خج را غلی دئ

دغه اسم مونث دئ.

که څه هم دغه دواړه اسمونه یو ډول لیکل کیږي، خو دلته د (غ) زور او زورکی د مونث او مذکر ښکارندوی دي.

دلته باید و وایو چي دغه درې پټ حرکتونه (زور، زورکی او خج) د پښتو ژبي د یو شمېر کلمو د لوستلو په وخت کي ستونزه را منځ ته کوي. که څه هم د جملې د نورو را تلونکو کلمو له لاري دغه ستونزه حلیږي. هغه څوک چي کتابونه لولي هغوی چي هري کلمې ته را و رسیږي د لوستلو له ډېر تمرینه را تلونکي دوې درې را تلونکي کلمې لولي. د هغو کلمو له مخي د دغو ستونزمنو کلمو سم تلفظ غوره کوي. دغه ستونزه نه یواځي په پښتو کي سته بلکي په ډیرو ژبو کي سته.

ځیني کلمې چي پخوا په حرکاتو لیکلي کېدلې اوس په حروفو لکه:

د زبر پر ځای په (ي) او د پېښ پر ځای په (و) لیکلي کیږي لکه:

Qamosona.com

لِري په ليري ، لُمړی په لومړی ، بِرته په بيرته ... اووښتي دي .

يو بل مثال :

(وزه) : دغه اسم

- په پای کي (ه) لري
- (ز) زور لري
- د کلمې پر پای خج لري

مونث اسم دئ .

يادښت :

هېر ئې نه کړو چي په (زه ، ته ، مه ، که ، ښه ، به ، له ، نه) او داسي نورو کلمو کي تر (ه) له مخه توری زورکی لري او د کلمې پر پای ئې (خج) راغلی دئ اسمونه يا صفتونه نه دي .

د يادولو وړ ده چي نه يواځي اسمونه تر دغو قاعدو لاندي را ځي بلکي صفتونه هم تر دغو قاعدو لاندي راځي . دلته لاندي به ئې مثالونه را وړل سي :

د مونثو (ښځينوو) اسمونو او صفتونو لپاره يوه قاعده :

١ـ کوم اسمونه يا صفتونه چي دغه لاندي ټکي پکښي وي مونث اسمونه يا د مونثو اسمو لپاره صفتونه دي . دلته لاندي به د دغي قاعدې دواړه اسمونه او صفتونه و لولئ :

❖ د کلمې په پای کي ئې (ه ، ـه) وي .

Qamosona.com

❖ تر (ه ، ـه) له مخه توری ئې زورکی و لري.

❖ پر پای ئې خج نه وي را غلی.

مثالونه ئې:

لومړی ـ اسمونه:

ښځینه نوم

| مفرد | جمع |
|---|---|
| څوکه | څوکي |
| ښځه | ښځي |
| ورځه | ورځي |
| پچه | پچي |

و مو لیدل چي د پورتنۍ قاعدې د اسمونو جمعي په معروفه (ي) جوړیږي.

دوهم ـ صفتونه:

هغه صفتونه چي تر پورتنۍ قاعدې لاندي وي لکه:

| د مفرد اسم لپاره صفت | د اسم د جمع لپاره صفت |
|---|---|
| پخه | پخي څوکي |
| ورکه | ورکي ښځي |
| توره | توري ورځي |
| وچه | وچي مځکي |

Qamosona.com

کونډه کونډي ښځي

په دغو دواړو اسمو او هغه صفتو کي چي تر پورتنۍ قاعدې لاندي راځي د اسم د جمع ، اضافت ، ندا او متعدي ماضي جملو په وخت کي ئې (ه) په معروفه یا لنډه (ي) اوړي. دغه جمعي او د هغو صفتونه په ختیځه لهجه کي د معروفي (ي) پر ځای په مجهوله (ې) جوړي لکه:

پخې څوکې

ورکې ښځې

تورې ورځې

وچې ځمکې

کونډې ښځې

دلته به و ګورو چي د اسم د جمع ، اضافت ، ندا او ځینو ماضي جملو په وخت کي لومړی پخپله اسم او بیا ئې صفت څرنګه له یوه حالت څخه بل حالت ته اوړي:

➢ د اسم د جمع په وخت کي:

| مفرد اسمونه | د مفرد اسم صفتونه | د اسم جمع | د جمع صفت |
|---|---|---|---|
| ښځه | وچه ښځه | ښځي | وچي ښځي |
| ورځه | توره ورځه | ورځي | توري ورځي |
| پچه | وچه پچه | پچي | وچي پچي |
| مچه | پټه مچه | مچي | پټي مچي |

Qamosona.com

➢ د اسم د اضافت [چي (د) ور سره راسي] په وخت کي:

| مفرد اسم | د مفرد اسم اضافت | د مفرد اسم صفت | د جمع صفت |
|---|---|---|---|
| څوکه | د څوکي | پخه څوکه | د پخو څوکو |
| ښځه | د ښځي | ورکه ښځه | د ورکو ښځو |
| ورځه (ابرو) | د ورځي | توره ورځه | د تورو ورځو |
| پچه | د پچي | وچه پچه | د وچو پچو |

➢ په حال او ماضي حالتو کي:

| مفرد اسم په حال کي | مفرد په ماضي کي | جمع په حال کي | جمع په ماضي کي |
|---|---|---|---|
| ښځه وايي | ښځي و ويل | ښځي وايي | ښځو و ويل |
| ښځه ځي | ښځه ولاړه | ښځي ځي | ښځي ولاړلې |
| ګیدړه ځغلي | ګیدړي و ځغستل | ګیدړي ځغلي | ګیدړو و ځغستل |
| ګیدړه ځي | ګیدړه ولاړه | ګیدړي ځي | ګیدړي ولاړې |

➢ د ندا په وخت کي:

| مفرد اسم | د مفرد اسم ندا | د جمع اسم ندا |
|---|---|---|
| ښځه | ښځي، را سه! | ښځو، را سئ! |
| مالداره | مالداري، و ځغله! | مالدارو ،و ځغلئ! |
| کرښه | کرښي، مه کږېږه! | کرښو، مه کږېږئ! |
| چرګه | چرګي، هګۍ وا چوه! | چرګو، هګۍ وا چوئ! |

۲ـ کوم اسمونه يا صفتونه چي دغه لاندي ټکي پکښي وي مونث اسمونه يا د مونثو اسمو لپاره صفتونه دي:

Qamosona.com

❖ په پای کې ئې (ه ، ـه) وي

❖ تر ( ه ، ـه ) له مخه توری ئې زور و لري

❖ د کلمې پر پای ئې خج را غلی وي

لکه:

| اسمونه | جمع |
| --- | --- |
| مېوه | مېوې |
| ناره | نارې |
| ګډوه | ګډوې |
| ناوه | ناوې |
| پایڅه | پایڅې |
| سرمه | سرمې |
| کاسه | کاسې |
| کتابچه | کتابچې |
| لاره | لارې |
| ټوټه | ټوټې |

دلته دغه دوه لاندې مذکر اسمونه که څه هم د مونثو اسمو تر دغې قاعدې لاندې را ځي ، مګر مونث نه دي بلکې مذکر دي. هغه اسمونه دغه دي:

مېلمه

کوربه

د دغو دوو اسمو جمعې مېلمانه او کوربانه دي.

Qamosona.com

هغه صفتونه چي تر پورتنۍ قاعدې لاندي وي لکه:

| د مفرد اسم لپاره صفت | د اسم د جمع لپاره صفت |
| --- | --- |
| **کږه** | **کږې** |
| سپېره | سپېرې |
| ړنده | ړندې |
| پخه | پخې |
| کڼه | کڼې |
| بېکاره | بېکارې |
| درنه | درنې |
| وړه | وړې |
| زړه | زړې |

پورتني صفتونه د ښځينوو اسمونو لپاره را ځي.

دغه دواړه اسمونه او صفتونه چي تر پورتنۍ قاعدې لاندي راځي د اسم د جمع، اضافت او ځينو ماضي جملو په وخت کي ئې (ه) په مجهوله يا اوږده (ې) اوړي.

دلته به و ګورو چي د اسم د جمع، اضافت، ندا او ځينو ماضي جملو په وخت کي لومړی پخپله اسم او بيا ئې صفت څرنګه له يوه حالت څخه بل حالت ته اوړي:

Qamosona.com

➢ د اسم د جمع په وخت کي:

| مفرد اسمونه | د مفرد اسم صفتونه | د اسم جمع | د جمع صفت |
|---|---|---|---|
| ښاخله | اوږده ښاخله | ښاخلې | اوږدې ښاخلې |
| ګډوه | زړه ګډوه | ګډوې | زړې ګډوې |
| ناوه | کږه ناوه | ناوې | کږې ناوې |
| کاسه | سپېره کاسه | کاسې | سپېرې کاسې |

➢ د اسم د اضافت په وخت کي:

| مفرد اسم | د مفرد اسم اضافت | د مفرد اسم صفت | د جمع لپاره صفت |
|---|---|---|---|
| ښاخله | د ښاخلې | کږه ښاخله | د کږو ښاخلو |
| ګډوه | د ګډوې | زړه ګډوه | د زړو ګډوو |
| ناره | د نارې | تېره ناره | د تېرو نارو |
| ټوټه | د ټوټې | پخه ټوټه | د پخو ټوټو |

➢ په حال او ځینو ماضي حالتو کي:

| د مفرد اسم حال | د مفرد اسم ماضي | د جمع په حال کي | جمع په ماضي کي |
|---|---|---|---|
| سرمه بندیږي | سرمه بنده سوه | سرمې بندیږي | سرمې بندي سولې |
| وربره وايي | وربرې و ویل | وربرې وايي | وربرو و ویل |
| کږه[1] ځغلي | کږې و ځغستل | کږې ځغلي | کږو و ځغستل |
| مېوه پخیږي | مېوه پخه سوه | مېوې پخیږي | مېوې پخې سولې |

[1] کږه د کاږه (چي تر لېوه لوی یو حیوان دی او اصلي نوم ئې کوږ دئ) ښځه ده.

Qamosona.com

➢ د اسم د ندا په وخت کي:

| جمع اسم د ندا په حالت کي | مفرد اسم د ندا په حالت کي |
| --- | --- |
| ناوو ،و ښځېږئ! | ناوې ، و ښځېره! |
| ویالو ، و بهېږئ! | ویالې ، و بهېره! |
| وزو ، و ځغلئ! | وزې ، و ځغله! |

تر دې ځایه مو د هغو مو نثو اسمو نو او صفتونو په اړه د دوو قاعدو یادونه و کړه. اوس باید و وایو، کېدای سي چي د یوې قاعدې صفتونه د هغې بلې قاعدې له اسمونو سره را سي. د مثال په توګه: (زړه ښځه) د جمع په وخت کي (زړې ښځي) وي او یا (پخه چاړه) د جمع په وخت کي په (پخي چړې) اوړي.

په (ښې ښځي) کي، (ښې) د دوهمي قاعدې صفت دئ اما (ښځي) د لومړۍ قاعدې اسم دئ.

## مذکر (نرینه) اسمونه:

مذکر اسمونه ډېر ډولونه لري، خو دلته د هغو مذکرو اسمونو یو څو مثالونه را وړو چي دا لاندي ټکي پکښي وي:

❖ په پای کي ئې (ه، ـه) راغلې وي.

❖ تر (ه، ـه) له مخه توري ئې زورکی و لري.

❖ د کلمې د پای پر برخه ئې خج را غلی وي.

Qamosona.com

اسمونه

وراره

کارګه (کارغه)

پسه

لېوه

نیکه

تره

مېږه

وېښته

یادښت: یو اسم چي (لېمه) یعني (سترګي) دئ، موږ ئې د (م) په زورکي تلفظ کوو. مفرد ئې د (م) په زور دئ (لېمَه)، ځکه مو د نجلۍ لپاره د مفرد ښځینه نوم په ډول غوره کړی دئ. دغه (لېمَه) خلاف د قاعدې د (م) په زورکي جمع کیږي. که ئې مفرد په زورکي تلفظ کړو، دغه اسم به د پورتنیو قاعدو له مخي مذکر اسم وي لکه:

هغه اسم مذکر اسم دئ چي:

- په پای کي ئې (ه، ـه) را غلې وي
- تر (ه، ـه) له مخه توری ئې زورکی و لري
- د پای پر هیجا ئې خج را غلی وي

که (لېمَه) د (م) په زور تلفظ کړو بیا د لاندي قاعدې په حساب مونث

Qamosona.com

اسم ور څخه جوړیږي لکه:

هغه اسم مونث اسم دئ چي:

- په پای کي ئې (ه، ـه) را غلې وي
- تر (ه، ـه) له مخه توری ئې زور و لري
- د پای پر هیجا ئې خج را غلی وي

که چیري دغه نوم په زورکي تلفظ کړو، مذکر نوم ور څخه جوړیږي چي د ندا په وخت کي بیا موږ نه سو ور ږغ کولای چي: (لېمې) لکه نجیبه ته چي ور ږغ کړو نجیبې، ځکه دغه کار د قاعدې خلاف دئ.

که (لېمَه) د (م) په زور تلفظ کړو نو به مفرد ښځینه نوم ور څخه جوړ سي او بیا به د ندا په وخت کي ور ږغ کولای سو (لېمې).

د دغـي کتګوری یو شمېر نرینه اسمونه مفرد اسمونـه دي چـي دلته پورته راوړل سوه او یو شمېر ئې جمع اسمونه دي لکه دغه لاندي:

کاته

خاته

بانه

رانجه

وانجه

وابنه

Qamosona.com

د پورتنيو اسمونو جمعي څه بېقاعدې غوندي ښکاري لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| وراره | وربرونه |
| کارګه (کارغه) | کارګان (کارغان) |
| پسه | پسونه |
| لېوه | لېوان |
| نيکه | نيکګان |
| تره | ترونه |
| مېره | مېرونه (مړونه) |
| وېښته | وېښتان |

➢ د اسم د جمع په وخت کي:

| مفرد اسمونه | د مفرد اسم صفتونه | د اسم جمع | د جمع صفت |
|---|---|---|---|
| وراره | زوړ وراره | وربرونه | زاړه وربرونه |
| لېوه | ستړی لېوه | لېوان | ستړي لېوان |
| کارګه | وږی کارګه | کارګان | وږي کارګان |
| تره | خواخوږی تره | ترونه | خواخوږي ترونه |
| مېره | تکړه مېره | مېرونه | تکړه مېرونه |

Qamosona.com

- د اسم د اضافت په وخت کي:

| مفرد اسم | د مفرد اسم اضافت | د مفرد اسم صفت | د جمع لپاره صفت |
|---|---|---|---|
| کارګه (کارغه) | د کارګه (کارغه) | زوړ کارګه (کارغه) | د زړو کارګانو |
| نیکه | د نیکه | غښتلی نیکه | د غښتلو نیکګانو |
| وېښته | د وېښته | لنډ وېښته | د لنډو وېښتانو |
| لېوه | د لېوه | تکړه لېوه | د تکړو لېوانو |

- د ندا په وخت کي:

| مفرد اسم د ندا په حالت کي | جمع اسم د ندا په حالت کي |
|---|---|
| کارغه (کارګه)، والوزه! | کارغانو (کارګانو)، والوزئ! |
| لېوه، مه را ځه! | لېوانو، مه را ځئ! |
| پسه، ما ته را سه! | پسونو (پسو)، ما ته را سئ! |

- د ځینو ماضي زمانو په وخت کي:

| د مفرد اسم حال | د مفرد ماضي | جمع په حال کي | جمع په ماضي کي |
|---|---|---|---|
| کارغه الوزي | کارغه والووت | کارغان الوزي | کارغان والوتل |
| کارغه ځغلي | کارغه و ځغستل | کارغان ځغلي | کارغانو و ځغستل |
| وراره وايي | وراره و ویل | وربرونه وايي | وربرونو و ویل |
| وراره بام ته خېژي | وراره بام ته و خوت | وربرونه بام ته خېژي | وربرونه بام ته و ختل |
| لېوه پسه نیسي | لېوه پسه و نیو | لېوان پسه نیسي | لېوانو پسه و نیو |
| لېوه را ځي | لېوه را غی | لېوان را ځي | لېوان را غلل |

Qamosona.com

# د پښتو ژبي يو شمير ځانګړتياوي

دلته به د پښتو ژبي يو شمېر ځانګړتياوي د پارسي ژبي په پرتله را په ګوته کړو. دا هغه ځانګړتياوي دي کوم چي په پښتو کي سته، خو په پارسي کي نه سته.

دا به د دې معنا و نه لري چي ګواکي خدای مه کړه دا به پارسي ژبي په کښته سترګه کتل وي، بلکي له دغه څخه به و پوهېږو چي دغه ږغونه او تلفظونه په پښتو کي سته او په پارسي کي نه.

## د پښتو ژبي ځانګړتياوي:

**لومړی -**

د پښتو خاص توري: د پښتو ژبي خاص ږغونه (توري) چي په پارسي کي نه سته لکه:

**ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ**

د دغو اتو تورو سم کارول پښتنو ته لومړی په تلفظ او بيا په خاصه توګه په ليکنه کي ډېر مهم دئ.

له بده مرغه د يو شمېر عواملو له امله لکه د بېګانوو د تېريو، جنګونو، مهاجرتونو او نورو بد بختيو له امله داسي سوي دي چي د

Qamosona.com

سيمي پر ژبه ئې منفي اثر کړی دئ .

یو ژوندی مثال ئې دغه اوسنۍ څلوېښت کلنه جګړه او مهاجرتونه دي چي په خاصه توګه ئې په لوېدیځه لهجه کي د زیات شمېر کوچنیانو او ځوانانو پر ژبه ئې ډېر منفي اغېز کړی دئ. هغه دا چي:

د (څ) ږغ په (س)
د (ځ) ږغ په (ز) اوښتي دي. نه یوائې دغه بلکي:
(تې په چې)
(دي په جي)
(دې په جې)

د دغو یادونه مي ځکه و کړه چي دغه لا اوس تازه دي کېدای سي چي د مشرانو او ښوونکو د توجه وړ و کرځي او په ارامه توګه ئې بیرته سمي خوا ته را واړوي.

دوهم ـ

زورکی: په پښتو ژبه کي زورکی چي په تیرو پاڼو کي مو ئې په اړه خبري و کړلې، پښتو ته یوه خاصه ځانګړتیا ور کړې ده. مثالونه ئې: په دغو کلمو کي: ځَم، کاپَل، تلَل، تَه، زَه، مَه، کَه، لَه....

د پښتو ژبي خبري کوونکي باید د زورکي حرکت په ټینګه مراعت

Qamosona.com

کړي.

**دریيم ـ**

د پښتو ژبي درنې (ئ او ی) : دا ځکه چي د دغو دواړو (ئ، ی) تر مخ توری زورکی لري او په پارسي کي زورکی نه سته، ځکه د دغو دوو (ی، ئ) ګانو تلفظ د پارسي ژبي خبري کوونکي نه سي کولای.

**ثلورم ـ**

شروع په ساکن توري: ساکن هغه توری دئ چي وروسته ئې هيڅ واول نه وي را غلی. يعني پر سر ئې وړغندی (غړوندی) را غلی وي. دا هغه ځانګړتيا ده چي په فارسي ژبه کي نه سته. مثالونه ئې: زده، نجلۍ، زمونږ، سپوږمۍ، لمر، ستوری، ښکنځل، زما ....

دغه کلمې چي کله د پارسي (دري) ژبي خبري کوونکي تلفظ کوي يو (اي يا اِ) ئې تر مخ ور اچوي. دا ځکه چي که د لومړي ساکن له مخه يو بل کونسونانت او واول ور و لويږي بيا هغه واول له لومړی کونسونانت له هغه ساکن توری سره نښلوي او تلفظ ئې ممکن کيږي.
مثالونه ئې لکه:
نجلۍ په اِنجلی يا اينجلی
زده په اِزده يا ايزده
لمر په اِلمر

Qamosona.com

سپوږمۍ په اِسپوږمۍ ....

داسي نوري کلمې له نورو ژبو څخه را غلي دي لکه:
ستوپ چي په ایسټوپ اوښتی دئ.
سټوپنۍ چي په ایسټوپنۍ

دغه د ساکن توري اړول د یو شمېر پښتو ژبو په محاوره کي هم را ښکاره کیږي او حتا لیکلو ته ئې هم را انتقال کړي دي. موږ باید کوښښ و کړو چي اینجلۍ (اِنجلۍ)، ایزده (اِزده) او هغه نوري کلمې په (اِ) تلفظ نه کړو.

دلته یو بله خبره چي هم مهمه ده هغه په پښتو ژبه کي مختلفي لهجې دي. لهجې یواځي په پښتو کي نه بلکي په هره ژبه کي سته. بده به نه وي چي په پښتو ژبه کي د یو څو لویو لهجو په اړه ډېر لنډ معلومات را وړو.

## لهجه څشی ده؟

لهجه په یوه ژبه کي د یوې سیمي او بلي سیمي تر منځ د یو شمېر ږغونو د تلفظ او کلمو د ګرامري قاعدو مختلف کارول دي. په پښتو ژبه کي زیاتي لهجې سته لکه: لویدیځه لهجه، ختیځه لهجه، منځنۍ لهجه، وزیرۍ لهجه، د خټکو لهجه او نوري.

Qamosona.com

د دغو له جملې څخه به دغه لاندي لهجې لکه ختیځه ، لویدیځه ، وزیرۍ او منځنۍ لهجې دلته را وړو :

**۱ـ ختیځه لهجه :**

دغه لهجه چي د ننګهارۍ لهجې په نامه هم یادیږي . په ننګرهار ، مومندو ، باجوړ او ځینو نورو سیمو کي خبري په کیږي .

**۲ـ لوېدیځه لهجه :**

چي د کندهارۍ لهجې په نامه هم یادیږي . په دغه لهجه خلک په کندهار ، زابل ، اروزګان ، هلمند ، فراه ، کویټه او د هرات په ځینو برخو کي خلک خبري کوي .

**۳ـ وزیرۍ لهجه :**

په پکتیا کي خلک خبري په کوي .

**۴ـ منځنۍ لهجه :**

په لوګر ، غزني او شا و خوا سیمو کي خلک خبري په کیږي .

دا چي په پښتو کي دغه مختلفي لهجې څه وخت را منځته سوي دي کره معلومات نه سته . دومره باید و وایو چي د هري سیمي په لهجه خبري کول د اړونده سیمي د خلکو مسلم حق دئ . دا ځکه هغه لهجه چي څوک خبري په کوي هغه د چا د مورنۍ ژبي د خبرو لهجه ده . څوک حق نه لري چي څوک هغوی د خپلي لهجې څخه و یوې بلي

Qamosona.com

لهجې ته مجبور کړي.

معلومه ده چې زموږ په لهجو کې د پښتو ژبې یو شمېر کلمې له خپل اصل څخه د باندې په تېروتنه کارول کېږي. یو څو مثالونه ئې:

سي، سول، سوم....

شي، شول، شوم....

شول ـ دوی له ښوونځي فارغ شول.

سول ـ دوی له ښوونځي فارغ سول.

شل ـ دوی له ښوونځي فارغ شل.

بل مثال ئې د لنډې او اوږدې (ي، ې) د کارولو پر سر اختلاف دئ.

په لوېدیځه لهجه کې د (ښځه) جمع (ښځي) دي.

په ختیځه لهجه کې د (ښځه) جمع (ښځې) دي.

بل مثال ئې د (په) او (پر) کارول دي.

په لوېدیځه لهجه کې وایي: پر ما دي ظلم و کړ.

په ختیځه لهجه کې وایي: په ما دي ظلم و کړ.

یو بل مثال د یو اسم مختلف مترادف حالتونه کارول دي. مثال ئې:

کرک، مړز.

بل مثال ئې د (ږ په ګ او ښ په خ، ژ په ج) اړول دئ. داسي نور مثالونه هم سته.

Qamosona.com

بل مثال ئې د اضافت د (د) کارول دي چي ځيني ئې په زورکي او ځيني ئې زېر تلفظ کوي لکه:

د احمد کتاب. د (د) په زورکي.

دِ احمد کتاب. د (دِ) په زېر.

يو بل مثال ئې د (دی او ده) فعلونه دي.

د (دی) فعل چي د مذکر مفرد لپاره را ځي لکه: احمد جوړ دی.

د (ده) فعل چي د مونث مفرد لپاره را ځي لکه: ملالۍ جوړه ده.

خو په ځينو محاورو کي (ده) د مذکر لپاره کاروي لکه: دی جوړ ده.

تر اوسه داسي ويل کيږي چي دغه د لهجو اختلاف دي په خبرو کي پر خپل ځای پاته وي. په ليکنه کي دي هغه اصلي ګرامري او تر اوسه ليکل سوې ليکنۍ ژبه و کارول سي.

د دغو اوښتنو له ستونزو سره زياتره په ښوونځي کي زدکوونکي مخامخ دي. کله چي د هيواد د معارف د ښوونځيو لپاره تدريسي کتابونه، اخبارونه او نوري معلوماتي ليکني کيږي هغه به نو په کومه لهجه و ليکلي سي؟ ښه خبره دا ده چي لومړی بايد د ليکني ژبه معياري سي.

د ژبي د معياري کولو لپاره په ۱۳۱۶ ل کال کي پښتو ټولنه تاسيس سوه. پښتو ټولني په لومړي سر کي يو شمېر پخواني کتابونه چي،

Qamosona.com

ليکل سوي ول اما چاپ سوي نه ول ، چاپ کړل.

پښتو ټولني په لاندي کلو کي د يو شمېر کلمو د معياري کولو لپاره هلي ځلي و کړلې:
لومړۍ غونډه په ۱۳۲۱ ل کال کي.
دوهمه غونډه په ۱۳۲۷ ل کي.
درېيمه غونډه په ۱۳۳۶ ل کي.
څلورمه غونډه په ۱۳۳۷ ل کي.

تر دغه وروسته ئې څو نوري وړې غونډې هم کړي دي ، خو د هغو څرک اوس نه سته.

د پښتو ژبي د معياري کولو لپاره به دا ښه وي چي په اوسنۍ علومو اکاډمي کي د هيواد د مختلفو سيمو د پښتو با صلاحيته کسان غونډې و کړي او په کراره کراره معقولي او د هيواد اکثريت ته د منلو وړ فيصلې و کړي. دغه فيصلې دي د يوه کتاب په بڼه و ليکلي سي او بيا دي د پوهنيځو چارو تر اړونده ادارو پوري د عملي کولو لپاره و ليږلي سي.

Qamosona.com

# د کلام اجزا Word

هره معنا لرونکې خبره چې انسان ئې له خولې را باسي کلمه بلل کیږي لکه زه ، دوی ، مېز ، کتاب ، ته ، دی او نور .

کلمه لاندي ډولونه لري :

| | |
|---|---|
| اسم (نوم) | Noun |
| ضمير | Pronoun |
| صفت | Adjective |
| فعل | Verb |
| قيد | Adverb |
| د وصل یا یو ځای کولو کلمې | Conjunktion |
| د ارتباط (ربط) کلمې | Preposition |

# اسم یا نوم Noun

اسم هغه کلمه ده چې د یو شي، انسان ، حیوان یا ځای نوم وي لکه : سړی ، کتاب ، ښوونځی ، کور ، موږک ، ښار ، کاغذ ، خوب ، ژړا ، افغانستان ، خندا او نور .

اسم پر دوه ډوله دئ لکه عام اسم او خاص اسم :

Qamosona.com

(الف) ــ خاص اسم :

هغه اسم ته وا يي چي د يو خاص سړي ، شي يا ځای نوم وي لکه : احمد، کابل، هرات ، حليمه ، جرمني ، لمر ، مځکه او نور .

(ب) ــ عام اسم :

عام اسم هغه اسم ته وايي چي د هغه جنس د ټولو غړو نوم وي لکه : مېز ، کتاب ، هلک ، ښځه ، ښار ، قلم ، غوا او نور .

اسم د شمېر له مخي يا مفرد (يو) وي او يا جمع (ډېر) .

مفرد يعني (يو) لکه : يو قلم ، يو ښوونځی ، يوه ښځه....

جمع يعني (ډېر) لکه : دوه قلمان ، درې کاغذونه ، څلور مېزونه ، دوه سړي ، شپږ ښځې، اته نجوني او نور .

اسم د جنس له مخي gender :

اسم د جنس (نرينه يا ښځينه او يا نر او ښځه دواړه) له مخي درې ډوله دئ لکه :

لومړی ـ نر (مذکر) لکه : سپی ، لرګی ، هلک ، سړی ، موټر ، کاغذ او نور .

دوهم ـ ښځه (مونث) لکه : انا ، ښځه ، پشي ، نجلۍ ، ګډوه ، پېښه او نور .

دريبم ـ مستوي جنس : هغه اسم دئ چي نر او ښځه دواړه په نومول کيږي . لکه : مچ ، لړم ، غنې ، غوماشه او نور .

Qamosona.com

لومړی ـ مذکر اسم:

دلته لاندي به د مذکر اسم مفرد او جمع را وړل سي.

مذکر یا نرینه اسمونه په پښتو کي دغه لاندي نښي لري:

-(۱)-

ملینه یا نرمه(ی): د هر اسم په پای کي چي نرمه یا ملینه(ی) را غلي وي هغه اسم مذکر دئ او جمع ئې په معروفه(ي) جوړیږي لکه:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| سړي | سړی |
| لړګي | لړګی |
| موږي | موږی |
| جونګي | جونګی |
| بُنزي | بُنزی |
| منګي | منګی |
| تندي | تندی |
| کوسي | کوسی |
| غوایي | غوایی |
| لمسي | لمسی |
| واښکي | واښکی |
| توري | توری |

Qamosona.com

(۲) -

**معروفه یا لنډه نسبتي (ي):** د هر اسم په پای کې چې معروفه نسبتي (ي) را غلې وي هغه اسم مذکر اسم دئ.

**یادښت:** معروفه نسبتي (ي) هغې معروفې یا لنډې (ي) ته وايي چې د یو شي، ځای یا کسب نسبت و یوه بل شي یا سړي ته کوي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| دوبي | دوبیان |
| موچي | موچیان |
| چرسي | چرسیان |
| توپچي | توپچیان |
| غازي | غازیان |
| سپاهي | سپاهیان |
| ښکاري | ښکاریان |
| راضي | راضیان |

(۳) -

**معروف یا لنډ (و):**

| مفرد | جمع |
|---|---|
| کډو | کډوان |
| پټو | پټوان |


Qamosona.com

| | |
|---|---|
| ټټو | ټټوګان |
| باړخو | باړخوګان |
| تارو | تاروګان |
| لاډو | لاډوګان |
| ناجو | ناجوګان |
| تالو | تالوګان |
| يابو | يابوګان |

په پورتنيو اسمونو کي د (پټو) او (کډو) جمعي په (ان) جوړيږي.

(۴) -

هغه اسمونه مذکر اسمونه دي چي:

- په پای کي ئې (ه، ـه) را غلې وي

- تر (ه، ـه) له مخه توری ئې زورکی و لري

- د کلمې پر پای ئې خج را غلی وي

لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| پسه | پسونه |
| زړه | زړونه |
| تره | ترونه |

استثنا: د دغو يو شمېر اسمو په جمعو کي څه استثنا را ځي لکه:

Qamosona.com

| مفرد | جمع |
|---|---|
| کارګه | کارګان |
| لېوه | لېوان |
| وېښته | وېښتان |
| رانجه | رانجه |
| واده | ودونه |

(واده) او (رانجه) له هغو نورو اسمونه څخه استثنا دي.

(۵) ـ

هر مذکر اسم چي تر دوو تورو زيات وي او په پای کي ئې بې ږغه (کونسونانت) توری را غلی وي جمع ئې دغه لاندي دوه حالتونه لري:

(الف) ـ

که مذکر اسم ساکښ (ژوندی) وي جمع ئې په (ان) جوړيږي:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| هلک | هلکان |
| اوښ | اوښان |
| موږک | موږکان |
| نوک | نوکان |
| سوک | سوکان |

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| مچ | مچان |
| ښځ | ښځان |

(ب) -

که مذکر اسم تر دوو تورو زيات او بې سا (غیرژوندی) وي جمع ئې په (ونه) جوړيږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| لاس | لاسونه |
| غاښ | غاښونه |
| ښار | ښارونه |
| کار | کارون |
| اور | اورونه |
| بار | بارونه |
| نار | نارونه |
| تار | تارونه |
| کور | کورونه |
| پور | پورونه |
| غوږ | غوږونه |
| اور | اورونه |
| نس | نسونه |
| پور | پورونه |

Qamosona.com

- (۶) 

که د مذکر صفتي اسم په پای کي کونسونانت (بې ږغه) توری وي او تر هغه یو یا دوه توري له مخه (و) را غلی وي جمع ئې دا ډول جوړیږي چي:

- (و) په (الف) اوړي
- د کلمې په پای کي ئې (ه) را ځي.
- تر (ه، ـه) له مخه توری زورکی لري لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| پښتون | پښتانه |
| کوڼ | کاڼه |
| ړوند | ړانده |
| لوند | لانده |
| دروند | درانه (درانده) |
| کوږ | کاږه |

- (۷) 

که د صفتي مذکر اسم په پای کي (ه، ـه) وي جمع ئې دوه ډوله جوړیږي لکه:

(الف) -

- د (ه) له مخه توری زور و لري
- د کلمې پر پای خج را غلی وي

Qamosona.com

(ه ، ـه) ئې له منځه ځي او د (ه ، ـه) تر مخه توري زور پر ځای پاته کیږي ، جمع ئې په (ګان) جوړیږي لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| څړه | څړګان |
| کوټه (سپی) | کوټګان |
| لوده | لودګان |
| شوده | شودګان |
| لوچه | لوچګا |
| جره | جرګان |

(ب) -

- که د مذکر اسم په پای کي (ه) راغلې وي
- د (ه) له مخه توری زورکی و لري
- د اسم پر پای خج را غلی وي

جمع ئې په (ان) جوړیږي لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| لېوه | لېوان |
| مرغه | مرغان |
| کارګه (کارغه) | کار ګان (کارغان) |
| نیکه | نیکګان |

Qamosona.com

(۸) -

(الف) -

هغه اسمونه چي له دوو تورو څخه جوړ سوي وي او لومړی توری ئې زورکی يا پېښ و لري جمعي ئې په (ان) جوړيږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| څټ | څټان |
| بم | بمان |
| لم | لمان |
| مچ | مچان |
| پښ | پښان |
| نوک[۱] | نوکان |
| سوک[۱] | سوکان |
| موټ[۱] | موټان |

[۱] نوک، سوک، موټ... له قاعدې څخه د باندي له دوو تورو څخه نه دي جوړ بلکي له درو تورو څخه جوړ دي. دغه درې اسمونه اصلاً د لومړي توري په لنډ واول (پېښ) تلفظ کيږي، خو اوس په واول لنډ (و) ليکل کيږي، ځکه درې توري سوي دي او تر هغې قاعدې د باندي دي.

Qamosona.com

(ب) -

که مذکر اسم دوه توري وي او لومړی توری ئې زور و لري جمع ئې په (ونه) جوړیږي لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| نَس | نَسونه |
| هَډ | هَډونه |
| کَټ | کَټونه |
| سَر | سَرونه |
| مَخ | مَخونه |
| تَل (ببخ) | تَلونه |
| پَل | پُلونه[1] |
| غر | غُرونه[2] |

پَل او غَر که څه هم د مفرد په حالت کي د لومړي توري پر سر زور لري مګر په جمع کي لومړی توری ساکن تلفظ کیږي. پَل د دوو شیانو نوم دئ. پل د پښې پل او بل د ژرندي هغه ګِردی ډبره چي غنم میده کوي. د پښې د پل جمع په ساکنه (پ)، (پُلونه) او د ژرندي پل په جمعي په پَلونه ویل کیږي.

Qamosona.com

(ج)-

هغه مذکر اسمونه چي صفتي او له دوو تورو څخه جوړ وي او لومړی توری ئې زور و لري، جمع ئې دا ډول جوړیږي چي لومړی توری ئې ساکن کیږي او په پای کي ئې (ه، ـه) ورلویږي، تر (ه، ـه) له مخه توری ئې زورکی اخلي لکه:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| غُله | غَل |
| خُره | خَر |
| کُړه | کَړ |
| مُله | مَل |

په غله کي (ل)، په مله کي (ل)، په خره کي (ر)، په کړه کي (ړ) زورکی لري او د (غل، مل، خر، کړ) مفرد اسمو جمعي دي. که چیري یادي سوي جمعي (غله، مله، خره) تر (ه) له مخه توری د زورکي پر ځای زور و لري، په هغه صورت کي د مفرد مونث په صفت اوړي لکه:

غلَه پشي

ملَه نجلۍ

یادښت: صفتي اسم هغه اسم دئ چي د صفت په شان هم را ځي لکه:

غل سړی، مل یار، خر سړی ....

Qamosona.com

دواړه د مذکر او مونث اسمو لپاره یو څو اسمونه سته چي جمعي ئې
په یوه خاصه قاعده جوړیږي لکه:

(الف) ـ د مذکر لپاره:

| جمع | مفرد |
| --- | --- |
| مېلمانه | مېلمه |
| کوربانه | کوربه |
| اوښبانه | اوښبه |
| غوبانه د (غویو ساتونکی) | غوبه |

(ب) ـ د مونث لپاره:

| جمع | مفرد |
| --- | --- |
| مېلمنې | مېلمنه |
| کوربنې | کوربنه |
| اوښبنې | اوښبنه |
| غوبنې | غوبنه |
| لېربنې | لېربنه |

دوهم ـ مونث یا ښځینه اسم:

په پښتو کي د مونث نښي په لاندي ډول دي:

(۱) ـ

د یو شمېر مونثو اسمو په پای کي چي (الف) را غلی وي د هغو

Qamosona.com

اسمو جمعي په (وي) سره جوړېږي لکه:

| جمع (۲) | جمع (۱) | مفرد |
|---|---|---|
| غلاګاني | غلاوي | غلا |
| ښکلاګاني | ښکلاوي | ښکلا |
| بلا ګاني | بلاوي | بلا |
| نڅا ګاني | نڅاوي | نڅا |
| رڼا ګاني | رڼاوي | رڼا |
| اناګاني | انا ګاني | انا |
| منا ګاني | منا وي | منا |
| برېښناګاني | برېښناوي | برېښنا |
| | شاوي | شا |
| خندا ګان | خنداوي | خندا |
| غواګاني | غواوي | غوا |
| ښورواګاني | ښورواوي | ښوروا |

د يو زيات شمېر پورتنيو مونثو اسمو جمعي د لوېديځي‌او ختيځي لهجې تر منځ لږ توپير لري. په لوېديځه لهجه کي لومړی ډول او په ختيځه لهجه کي بيا د (ګاني) جمعي کارول کيږي.

يو شمېر نوري کلمې سته چي (الف) ئې په پای کي را غلی وي اما مونث نه بلکي مذکر اسمونه دي لکه: بابا ، ماما ، لالا ....

Qamosona.com

(۲) -

د هغو اسمو په پای کې چې (ه، ـه) را غلې وي: هغه اسمونه په دغو لاندې حالاتو کې مونث وي. دغه مونث اسمونه دوه ډوله دي لکه:

(الف) -

هغه اسم مونث اسم دئ چې:

- په پای کې ئې (ه، ـه) را غلې وي
- د (ه، ـه) له مخه توری ئې زورکی و لري
- پر پای ئې خج نه وي را غلی

لکه:

| مفرد | جمع (۱) | جمع (۲) |
|---|---|---|
| ښځه | ښځي | ښځې |
| ورځه | ورځي | ورځې |
| ورجه | ورجي | ورجې |
| مچه | مچي | مچې |
| څوکه | څوکي | څوکې |
| لیکه | لیکي | لیکې |

په لویدیځه لهجه کي لومړی ډول جمعي او په ختیځه لهجه کي دوهم ډول جمعي معمولي دي.

Qamosona.com

(ب) ـ

هغه اسم مونث اسم دئ چي:

ـ په پای کي ئې (ه، ـه) را غلې وي

ـ تر (ه، ـه) د مخه توری ئې زور و لري

ـ د کلمې پر پای ئې خج را غلی وي

لکه:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| منې | مڼه |
| ګډوې | ګډوه |
| پایڅې | پایڅه |
| سرمې | سرمه |
| نارې | ناره |
| ناوې | ناوه |
| پیالې | پیاله |
| تیارې | تیاره |

(۳) ـ

ثقیله یا درنه ښځینه (ۍ):

د هغو اسمو په پای کي چي ثقیله یا درنه یا لکۍ واله تانیثي (ۍ) را غلې وي جمعي ئې په دوه ډوله را ځي لکه:

Qamosona.com

(الف) ـ

هغه مونث اسمونه چي ژوندي وي ، د جمعي په وخت کي ئې (ى) په (ي) اوړي او تر (ى) له مخه توری ئې په ساکن توري اوړي او بيا (اني) ور لويږي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| هوسۍ | هوسياني |
| هيلۍ | هيلياني |
| زمرۍ | زمرياني |
| کبلۍ | کبلياني |
| کُنګرۍ | کنګرياني |
| لېونۍ | لېونياني |
| سپۍ | سپيانۍ |

(ب) ـ

هغه (ى) والا مونث اسمونه چي ژوندي نه وي جمعي ئې پخپله په ثقيله تانيثي (ى) را ځي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ګاډۍ | ګاډۍ |
| خولۍ | خولۍ |
| بګړۍ | بګړۍ |

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| مړۍ | مړۍ |
| هګۍ | هګۍ |
| ډوډۍ | ډوډۍ |

(۴) -

**معروفه یا لنډه (ي):**

د یو شمېر اسمونو په پای کي چي لنډه (ي) را غلې وي هغه مونث اسمونه وي جمعي ئې په (ۍ) جوړېږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| غچي | غچۍ |
| بیاتي | بیاتۍ |
| ښادي | ښادۍ |
| چُغلي | چُغلۍ |
| بدي | بدۍ |
| سِزني | سِزنۍ |
| پاکي | پاکۍ |
| نالي | نالۍ |

(۵) -

(ن)، د یو شمېر اسمو په پای کي چي (ن) را غلی وي هغه مونث

Qamosona.com

اسمونه وي او جمعي ئې په لنډه (ي) جوړيږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| لمن | لمني |
| څرمن | څرمني |
| مېچن | مېچني |
| مېرمن | مېرمني |
| بړستن | بړستني |
| بن | بني |

یادښت: د بړستن کلمه که څه هم د (ن) والا اسمو په لړ کي را ځي او د مونث اسم تر قاعدې لاندي را ځي بیا هم یو شمېر خلک په پای کي (ـه) ور سره یو ځای کوي او (بړستنه) ئې بولي چي مونث ښکاره سي چي دا کار خلاف د قاعدې دئ.

بله خبره دا چي ځيني وختونه به په شعر یا نظم کي اسمونه تر خپلي قاعدې د باندي و وينئ، لکه (لمن) په (لمنه). دلته به یوې خبري ته ځیر سو چي شاعر د خپل شعر د سېلاب یا قافیې د برابرولو لپاره تر قاعدې تیریږي. د مثال په توګه (لمن) په (لمنه) او یا داسي نوري ځيني سر غړوني مجازي بولي لکه په دغه لاندي بیت کي:

پر بېګانۍ خولګۍ پښېمانه نه سې
زمــا دي لــمنه لــه خالــو ډکــه ده

Qamosona.com

دلته که (لمنه) په (لمن) و لیکله سي ، د دوهم نیم بیتي یو سپلاب لږیږي او د شعر وزن خرابیږي یعني یو سپلاب کمیږي.

(۶) -

مجهوله یا اوږده (ې) لکه:

(الف) -

که د صفتي مونث اسم په پای کي (ې) را غلې وي جمع ئې په (ي) جوړیږي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| وږې | وږي |
| تږې | تږي |
| سترې | ستري |
| وړوکې | وړوکي |

(ب) -

یو شمېر مونث اسمونه چي په پای کي ئې اوږده (ې) را غلې وي پخپله مفرد او جمع اسمونه دي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| مستې | مستې |
| شیدې | شیدې |

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| تروي | تروې |

يادښت: پورتني اسمونه جمع اسمونه دي. (ادې) چې يو ځانداره اسم دئ جمع په (ادې ګاني) را ځي.

(۷) -

مجهول يا اوږد (و) لکه:

(الف) -

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ښارو | ښاروګاني |
| بيزو | بيزوګاني |
| ګيدو | ګيدوګاني |
| ببو | ببوګاني |

(ب) -

که اسم بېځان وي جمع ئې په (ي) جوړيږي:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| زانګو | زانګوي |
| پښتو | پښتوي |
| مرګو | مرګوي |
| لامبو | لامبووي |

Qamosona.com

- ( ۸ ) -

( ځ ) : يو شمېر اسمونه چي په پای کي ئې ( ځ ) را غلې وي مونث اسمونه دي او جمع ئې په ( ي ) جوړيږي لکه :

| جمع | مفرد |
|---|---|
| ترښځي | ترښځ |
| ترخځي | ترخځ |
| اوريځي ( وريځي ) | اوريځ ( وريځ ) |
| ورځي | ورځ |
| ږمنځي | ږمنځ |

يو شمېر مونث اسمونه خلاف د پورتنيو قاعدو را ځي لکه :

| جمع | مفرد |
|---|---|
| مندي ( ميندي ) | مور |
| خوندي | خور |
| ندرندي | ندرور |
| مږندي ( نږندي ) | مږور ( نږور ) |

د ( يور ) جمع خلاف د پورتنۍ قاعدې ( يونې ) را ځي .

اسم د حالت له مخي دغه حالتونه لري لکه :

۱ ـ د اسم فاعلي حالت nominativ case

Qamosona.com

۲ـ د اسم مفعولي حالت objectiv case

۳ـ د اسم اضافي حالت possessive case

۴ـ د اسم ندائي حالت vocativ case

۱ـ د اسم فاعلي حالت nominativ case لکه: د اسم دغه حالت ځکه فاعلي حالت بلل کیږي چي اسم فاعل (subject) را غلی وي.

فاعل هغه څوک دئ چي يو کار کوي يعني فعل يا کار د هغه له خوا تر سره کیږي لکه: په لاندي جملو کي کومي کلمې چي خط تر لاندي کش سوی دئ فاعل دي.

احمد ښوونځي ته ولاړ.

ملالۍ کابل ته ځي.

ښوونکی چيري کار کوي.

موسی به را سي.

په پښتو کي فاعل د جملې په سر کي را ځي

۲ـ د اسم مفعولي حالت objectiv case : د اسم مفعولي حالت هغه حالت ته وايي چي د فاعل فعل پر دغه اسم تر سره سوی وي لکه: په لاندي جملو کي هغه کلمې چي خط تر لاندي کش سوی دئ مفعولي حالت لري:

Qamosona.com

زمرک سدو ته و ویل. په دغه جمله کي سدو مفعول دئ ځکه چي د ویلو فعل پر ده تر سره سوی دئ.
ښوونکي زدکوونکي ته و ویل.
سپي احمد ته و غپل.

۳ـ د اسم اضافي حالت possessive case: د اسم اضافي حالت هغه حالت ته وايي چي يو اسم د يو بل اسم مالک يا خاوند وي لکه:
د احمد کتاب.
د ملالۍ ناوکۍ
د پيشي لکۍ
د کتاب پاڼي

په لوړو جملو کي هغه اسمونه چي خط تر لاندي کش سوی دئ اضافي يا ملکي حالت لري. په پښتو کي د اضافت کلمه (د) دئ.

۴ـ د اسم ندائي حالت vocativ case : کله چي څوک يو چا ته ور ږغ کوي دغه حالت ته ندائي حالت ویل کيږي. دغه حالت يا د يو شمير کلمو (آ ، او ، اې) له لاري کيږي او يا ببله هغو کلمو څخه لکه:
آ هلکه! دلته را سه!
اې سړيه! په هر چا کار مه لره!

Qamosona.com

او نجلۍ! لوست دي و لوله!

پورتنۍ جملې ښېله(آ ، اې ، او) هم په ندائي حالت کي را تلای سي.

په یاد ئې باید و لرو چي په ندائې حالت کي د یو شمېر اسمونو په پای کي تغییر را ځي لکه: په پورته مثالو کي د هلک پر ځای هلکه! دسړی پر ځای سړیه!... را غلي دي. خو د نجلۍ اسم بیا په ورځنیو محاورو کي پر خپل حال را غلی دئ، اما د قاعدې له مخي باید (نجلیه!).

په پښتو ژبه کي د دري ژبي په خلاف د ندا په وخت کي په زیات شمېر نومو کي دغه تغییر را ځي، خو په دري ژبه کي دغه تغییر نه را ځي. له بده مرغه یو شمېر پښتانه هم د دري په شان په پښتو کي دغه تغییر ته پاملرنه نه کوي او د ندا په وخت کي وایي:
احمد! دلته را سه.
نجیبه! چیري یې؟ سم ئې: نجیبې! چیري یې؟
امان! درس دي و وایه. سم ئې: امانه! درس دي و لوله!

د ندا د کلمو تاثیر پر اسمو باندي:
(۱) -
- که د مونث اسم په پای کي(ه) را غلې وي
- تر(ه) له مخه توری زورکی و لري

Qamosona.com

ـ د کلمې پر پای خج نه وي را غلی
د اسم د پای (ه) په (ي) اوړي لکه:
له (ښئه) څخه (اې ښئي!).
له (غوماشه) څخه (اې غوماشي!)....

(۲) ـ

ـ که د مونث اسم په پای کې (ه) را غلې وي
ـ تر (ه) له مخه توری زور و لري
ـ د کلمې پر پای خج را غلی وي
د اسم د پای (ه) په (ې) اوړي لکه:
له وربره څخه (اې وربرې!)
له غلَه (مونث) څخه (اې غلې!)....

(۳) ـ

که د مونث اسم په پای کې کونسونانت توری را غلی وي او د هغه کونسونانت له مخه اوږد یا مجهول (و) را غلی وي (و) ئې په معروفه یا لنډه (ي) اوړي لکه:
مور په (اې موري!)
خور په (اې خوري!)
لور په (اې لوري!)....

Qamosona.com

(۴) ـ مذکر اسمونه:
له هلک څخه (اې هلکه!).
له ځوان څخه (اې ځوانه!

د ندا په صورت کي په (هلک او ځوان) کي چي (ک او ن) ساکن توري دي زورکی اخلي او وروسته ئې (ه) ليکل کيږي.

(۵) ـ
د ندا په وخت کي د سړی جمع (سړي) او د ښځه جمع (ښځي) په
اې سړيو!
اې ښاغليو!
اې ښځو! اوړي.

(۶) ـ
که د اسم په پای کي (الف) وي د ندا په صورت کي ئې (الف) پر خپل حال پاته کيږي لکه:
ماما (اې ماما!)
بابا (اې بابا!)
انا (اې انا!)....

Qamosona.com

# ضمیر   pronaun

ضمیر هغه کلمه ده چي د لنډیز لپاره د اسم پر ځای کارول کیږي لکه:
زه ، موږ ، ته ، دی ، تاسي ، دی ، دا ، دوی ، ستا ، د دوی ، هغه، دغه ، زموږ او نور.

د ضمیر ډولونه:
په پښتو کي ضمیر دغه لاندي ډولونه لري:
(لومړی)ـ شخصي ضمیرونه
(دوهم) ـ د پوښتني یا استفهام ضمیرونه
(دریيم) ـ مبهم ضمیرونه
(څلورم) ـ مشترک ضمیرونه

(لومړی) ـ
شخصي ضمیرونه Personal pronoun : هغه ضمیرونه دي چي د انسانانو ، شیانو حیواناتو او ځایو د نامه پر ځای را ځي لکه: زه ، ما، موږ، ته ، تاسي ، دی ، ده ، دا ، دې ، دغه ، دوی...

دغه ضمیرونه درې حالته لري لکه: متکلم، مخاطب او غایب.
متکلم first person : متکلم هغه څوک دئ چي خبري کوي او ضمیرونه ئې لکه:

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| مفرد متکلم | جمع متکلم |
| زه ، ما | موږ |

پورتني دواړه مفرد او جمع حالتونه هم د مذکر او هم د مونث لپاره راځي. مثالونه ئې:

زه له کابله را غلم.

ما خپل ګاونډي ته سلام وا چاوه.

موږ له خپل هيواد سره مينه لرو.

مخاطب second person : مخاطب هغه څوک دئ چي خبري ور ته کيږي او ضميرونه ئې لکه:

| | |
|---|---|
| مفرد مخاطب | جمع مخاطب |
| ته ، تا | تاسي |

مثالونه ئې:

ته څو ځله هرات ته تللی يې؟ د مفرد مذکر لپاره

ته څو ځله هرات ته تللې يې؟ د مفرد مونث لپاره

تا له خپل ورور سره مرسته و کړه. د مفرد مذکر او مونث لپاره

تاسي کورته ځئ. د جمع مذکر او مونث لپاره

غايب third person : هغه څوک يا څه دي چي متکلم د هغو په باره کي خبري کوي او ضميرونه ئې لکه:

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| مفرد غایب | جمع غایب |
| مذکر: دی ، ده | دوی |
| مونث: دا، دې | دوی |

مذکر او مونث: دغه ، هغه.

د مذکر او مونث جمع: دغو ، هغو ، هغوی

مونث: دغي ، هغي (دغې ، هغې).

مذکر او مونث جمع: هغوی، هغو

۱ـ تا دی لیدلی دئ؟

۲ ـ دوی په کار پسې را غلي ول.

۳ ـ دا نن کار نه کوي.

۴ ـ هغې مورږ ته مېلمستیا کړې وه.

۵ ـ هغوی له خپل کور څخه کډه و کړه.

۶ ـ دغه یا هغه تا نه دئ لیدلی. مذکر

۷ـ دغه یا هغه تا نه ده لیدلې. مونث

په شپږمه جمله کي (دغه) او (هغه) دواړه د مذکر لپاره ضمیرونه دي، ځکه چي د دغو ضمیرونو جنسیت (نر یا ښځه) د جملې په پای کي چي کوم فعل د (لیدلی یا لیدلې) فعل تعیینوي. په اوومه جمله کي که له (دغه) یا (هغه) څخه مقصد مونث مفرد حالت وي نو بیا د (نه

Qamosona.com

ده لیدلې) فعل ور ته را غلی دئ.

دغه او هغه ضمیرونه دواړه یو شی دي، خو (دغه) د نژدې والي او (هغه) د لیري والي لپاره کارول کیږي لکه:

دغه کتاب، یعني دغه نژدې کتاب.

هغه کتاب، یعني هغه لیري کتاب.

په پښتو کې شخصي ضمیرونه درې ډوله دي لکه:

**(الف) ـ جلا یا منفصل شخصي ضمیرونه**

**(ب) ـ نښتي یا متصل شخصي ضمیرونه**

**(ج) ـ فعلي شخصي ضمیرونه**

**(الف) ـ**

**جلا یا منفصل شخصي ضمیرونه:** هغه ضمیرونه دي چې له کومې بلې کلمې سره نه وي نښتي لکه: (زه، موږ، ما، ته، تا، تاسي، دی، ده، دا، دې، دغه، دوی ...).

یو څو مثالونه ئې:

زه هلمند ته ولاړم.

ما له ده سره خبري وکړلې.

موږ د احمد کره څو.

دا خپل کالي ګنډي.

Qamosona.com

دې لوست زده کړ .
ته ولې مېلمستيا ته نه وې را غلی ؟
تا پسه ته وابنه ور واچول ؟
دی اوس را ځي .
ده مور ته يو څه و ويل .
دغه څرنګه زما په کتابچه کې ليکلي سوي دي ؟
دوی چې را ځي مور ته خبر را کوي .

دا چې دغه ضميرونه د اسم پر ځای راځي ، د اسم په شان څلور حالتونه لري لکه :

( ۱ ) ـ **فاعلي حالت**

( ۲ ) ـ **مفعولي حالت**

( ۳ ) ـ **اضافي حالت**

( ۴ ) ـ **جري حالت**

( ۱ ) ـ

**فاعلي حالت** Nominative case :

ـ مفرد : ( زه ، ته ، دی ، دا ، دغه ، هغه ) . مثالونه ئې لکه :

زه کابل ته ځم . د ( زه ) ضمير فاعلي حالت لري .

ته ډوډۍ خورې . ( ته ) فاعل دئ .

Qamosona.com

دا کالي مینځي. (دا) فاعل دئ.

دغه، هغه دلته را غی (مذکر) یا را غله (مونث). (دغه، هغه) فاعلي حالت لري.

ـ جمع: (موږ، تاسي، دوی، دغو، هغو). مثالونه ئې:

موږ ښوونځي ته ولاړو. (موږ) د متکلم، فاعل جمع ده.
تاسي به کابل ته ولاړ سئ. (تاسي) د مخاطب، فاعل جمع ده.
دوی پرون را غلي ول. (مذکر) فاعل جمع دي.
دوی پرون را غلي وې. (مونث) فاعل جمع دي.

دغو، هغو احمد ته وویل. د غایب جمع په متعدي ماضي کي د فاعل جمع دي.

(۲) ـ

مفعولي حالت Objective case:

ـ مفرد (زه، ته، دی، دا)

احمد زه و لیدم. (زه) د متکلم مفرد مفعولي حالت دئ.
دوی ته و وهلې. (ته) د مخاطب مفرد مفعولي حالت دئ.
موږ دی وینو. (دی) د غایب مذکر مفرد مفعولي حالت دئ.
ملالۍ دا را وسته. (دا) د غایب مونث مفرد مفعولي حالت.

ـ مفرد (ما، تا، دی، دا)

Qamosona.com

تاسي به ما و وینی.

موږ به تا را ولو.

احمد دی را ولي.

زه به دا خبره کړم.

تر کومو ضمایرو لاندي چي خط کش سوی دئ ټول مفعولي مفرد حالت لري.

ـ جمع (موږ، تاسي، دوی)

احمد موږ مېلمانه کړو.

موږ تاسي خبروو.

غني دوی را وستلي دي.

ـ (۳)

اضافي حالت Possisive case: د ضمیر اضافي حالت هغه حالت ته وایي چي ضمیر د یو شي مالک (څښتن) وي لکه: (زما، زموږ، ستا، ستاسي، د ده، د دې، د دوی، د دغه، د دغي، د دغو، د هغه، د هغې، د هغو) مثالونه ئې:

زما کالي

زموږ کتابونه

د دوی قلمونه

د ده بوټونه

Qamosona.com

د دې موټر

څېنو خلکو د يو شمېر فاعلي ضميرونو څخه د اضافت د (دِ) په را وړلو سره جوړ کړي دي لکه:
(دِ ما): زما پر ځای
(دِ موږ): زموږ پر ځای
(دِ تا): ستا پر ځای
(دِ تاسي): ستاسي پر ځای

(۴) -

جري حالت Dative case:

دا هغه ضميرونه دي چي د جر يا ربط کلمې ور سره را ځي. د جر يا ربط کلمې لکه: (په، ته، پر، تر، له... سره، له... څخه، و، په... پوري، تر... لاندي، پر... باندي ...). ضميرونه ئې (ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی، دغه، دغي، دغو، هغه، هغې، هغو) دي. يو څو مثالونه به ئې دلته لاندي و لولئ. په دغو مثالو کي تر ضميرونو لاندي خط کش سوی دئ او وروسته ئې د جر کلمې دي.
ملالۍ ما ته و ويل.
احمد تا ته و کتل.
سدو تاسي ته ډوډۍ را وړله.
ښوونکي ده ته لوست ور و ښود.

Qamosona.com

پلار دوی پر خره سپاره کړل.

په پورتنیو جملو کې چې چیرې ضمیر را غلی دئ تر څنګ ئې د جر یا ربط یوه کلمه لکه (ته) یا کومه بله کلمه را غلې وي، ځکه د نوموړي ضمیر حالت ته جري حالت وایي.

(ب) -

نښتي یا متـصل شخصي ضمیرونه: هغه ضمیرونه دي چې د متکلم، مخاطب او غایب لپاره را ځي او وروسته تر اسم یا کله د فعل د دوو برخو په منځ کې را ځي لکه: (مي، مو، دي، مو، ئې، را، در، ور). (را، در، ور) تـه د خوا یـا لوري یا طرف ضمیرونه وایي. دغه ضمیرونه د جملې په سر کې نه را ځي. دلته لاندې به د متصلو ضمیرونو یو څو مثالونه د معادلو منفصلو ضمیرونه سره را وړو:

| متصل ضمیرونه | منفصل ضمیرونه |
|---|---|
| - کالي مو و ګنډل. | موږ کالي و ګنډل. |
| - ډوډۍ مو پخه کړې ده. | تاسي ډوډۍ پخه کړې ده. |
| - ډوډۍ دي خوړلې ده | تا ډوډۍ خوړلې ده. |

- ټول کتابونه ئې و لوستل. ده، دې، دوی کتابونه و لوستل.

د (را، در، ور) مثالونه لکه:

Qamosona.com

قلم ئې را و باخښه. دلته (را) متکلم ځان ښيي.
کتاب مو در وا خیست. دلته (در) مخاطب ښيي.
احمد د محمود کالي ور و مینځل. دلته (ور) غایب ښيي.

یوې خبرې ته باید پاملرنه وکړو چې د (در) او (تر) تر منځ توپیر وکړو. موږ په خبرو کې وایو.
در ما به څوک ارام وي؟
له کندهاره در کابله.

په پورتنیو دواړو جملو کې باید د (در) پر ځای (تر) را سي. دلته باید موږ و وایو:
تر ما به څوک ارام وي؟ (در) د مخاطب لپاره د لوري یا خوا ضمیر دئ کوم چې دلته ئې د استعمال ځای نه دئ. خو (تر) د ربط کلمه ده او دلته ئې د استعمال ځای دئ. یو ځل بیا باید و وایم چې موږ نه باید دغه دوې کلمې سره ګډې کړو.

متصل ضمیرونه هم درې حالتونه لري لکه: فاعلي، مفعولي او اضافي:

لومړی ـ
فاعلي حالت: (مي، مو، دي، ئې) دغه ضمیرونه په ماضي کې د متعدي فعل د فاعل په توګه را ځي او په جمله کې به مفعول هم راغلی وي لکه:

Qamosona.com

| متصل ضمیر | منفصل ضمیر |
|---|---|
| ملالۍ مې و لیده. | ما ملالۍ و لیده. |
| احمد مو خبر کړه. | موږ احمد خبر کړ. |
| ښوونکی دې و لیدی. | تا ښوونکی و لیدی. |
| زدکوونکي ئې پوه کړل. | ده، دې، دوی زدکوونکي پوه کړل. |

یادښت: پورتنۍ جملې متعدي ماضي دي، یعني فاعل او مفعول دواړه لري. متصل ضمیرونه ئې فاعلي حالت لري.

**دوهم -**

**مفعولي حالت:** (مې، مو، دې، ئې) په مفعولي حالت کي په حال او متعدي مستقبل (چي فاعل او مفعول و لري) کي را ځي لکه:

احمد مې (ما) نه پرېږدي. مفرد متکلم په حال کي.

ښوونکی مو (موږ) لوست ته تشویقوي. جمع متکلم په حال کي.

محمود دې (تا) خبروي. مفرد مخاطب په حال کي.

ملالۍ ئې (دا، دی، دوی) را ولي. مفرد او جمع غایب په حال کي.

په لوړو جملو کي (مې، مو، دې او ئې) مفعولي حالت لري. (احمد، ښوونکی، محمود او ملالۍ) فاعلي حالت لري.

**دریم -**

**اضافي حالت:** (مې، مو، دې، ئې) په اضافي حالت کي را ځي، د

Qamosona.com

اضافت (د) نه ور سره را ځي لکه:

| متصل ضمير | منفصل ضمير |
|---|---|
| ښوونکی مې را غی. | زما |
| مور مو کابل ته ولاړه. | زموږ یا ستاسي |
| قلم دې مات سو. | ستا |
| موټر ئې جوړ سو. | د ده، د دې، د دوی |

یو شی چي باید په یاد ولرو هغه دا چي (مو) دواړه د متکلم د جمع او مخاطب د جمع لپاره را ځي.

-(ج)-

فعلي شخصي ضميرونه: دا هغه ضميرونه دي چي په يواځي توګه نه را ځي بلکي د متکلم، مخاطب او غایب لپاره له یوې بلي کلمې خاصتاً فعل په پای کي د یوه توري په شان نښتي را غلي وي. دغه ضميرونه د فعلي ضميرونو په نامه هم بلل کيږي او یو یو توری وي. هغه توري چي د دغه ضميرو کار ور کوي تر لاندي ئې خط کش سوی دئ. دغه ضميرونه د فعل حالت هم ښکاره کوي لکه:

- په حال زمانه کي: (ځم، ځو، ځې، ځئ، ځي). مثالونه ئې:

زه ښوونځي ته ځم.

موږ ښوونځي ته ځو.

ته ښوونځي ته ځې.

Qamosona.com

تاسي ښوونځي ته ځی (ځئ).

دی ، دا ، دوی ښوونځي ته ځي.

- په مطلقه ماضي کي: (ولاړم، ولاړو، ولاړې، ولاړاست، ولاړئ، ولاړه، ولاړل). مثالونه ئې:

زه ننګرهار ته ولاړم.

موږ ننګرهار ته ولاړو.

ته ننګرهار ته ولاړې.

تاسي ننګرهار ته ولاړاست.

دی ننګرهار ته ولاړی (ولاړ).

دا ننګرهار ته ولاړه.

دوی ننګرهار ته ولاړل.

پورتني مثالونه د لازمي فعل (چي مفعول نه لري) ول. دلته لاندي به د متعدي فعل (چي فاعل او مفعول دواړه لري) لپاره مثالونه را سي لکه:

ما دوی و ليدل.

موږ ته و ليدې.

تا موږ و ليدلو.

ده تاسي و ليدلاست.

دې هغه و ليده. هغه (مونث)

Qamosona.com

دوی هغه و لیدی (و لید). هغه (مذکر)

را تلونکې زمانه:

زه به ولاړ سم.

موږ به ولاړ سو.

ته به ولاړ سې.

ته به ولاړه سې.

تاسي به ولاړ سی (سئ).

تاسي به ولاړي سی (سئ).

دوی به ولاړ سي.

(دوهم) -

د پوښتني یا استفهام ضمیرونه Intrerrogative pronoun:

دا هغه ضمیرونه دي چي د یو چا یا یو شي د تعیینولو لپاره د پوښتني په ډول د اسم پر ځای کارول کیږي لکه: (څوک، څه، چا، څو، څونه، څومره، څومري، کوم، کومي). استفهامي ضمیر باید د خپل اسم سره یو ځای را نه سي مثالونه ئې:

څوک افغانستان ته ځي؟

چا احمد ته و ویل؟

یادښت: د (څوک) او (چا) کارول د ضمیر په فاعلي حالت، مفعولي

Qamosona.com

حالت ، په جمله کي د فعل په حالت او زمانه پوري اړه لري لکه:

۱ ـ څوک احمدويني ؟
۲ ـ احمد څوک ويني ؟
۳ ـ چا احمد و ليد ؟
۴ ـ احمد چا و ليد ؟
۵ ـ احمد څوک و ليد ؟
۶ ـ څوک احمد و ليد ؟

لومړۍ جمله حال زمانه ده ، (څوک) فاعل احمد مفعول دئ.
دوهمه جمله حال زمانه ده ، (څوک) مفعول دئ.
درېيمه جمله مطلقه ماضي ده. (چا) فاعل او احمد مفعول دئ.
څلورمه جمله مطلقه ماضي ده. احمد مفعول او (چا) فاعل.
پنځمه جمله مطلقه ماضي ده. احمد فاعل او (څوک) مفعول دئ.
شپږمه جمله مطلقه ماضي ده ، (څوک) مفعول دئ او احمد فاعل.

صديق ما ته د څه لپاره پيسې را کړلې ؟
سدو! څو قلمان دي را وړل؟ څو د شمېر لپاره را ځي.
څونه (څومره) در وړم؟ څونه (څومره) د هغه څه لپاره را ځي چي شمېرل کيږي نه.

دغه ضميرونه ټول په سواليه جملو کي را ځي.

Qamosona.com

(دربیم) ـ

مبهم (نا څرګند) ضمیر Indifinite pronoun : هغه ضمیر ته وايي چي یو اسم په نا څرګند حالت کي ښیي. دغه ضمیرونه د پوښتني په ډول نه کارول کیږي، یعني که په پوښتنه جمله کي راسي بیا استفهامي ضمیر وي او که نه نو نا څرګند ضمیر وي لکه:

(چا، څوک، هیڅ، څه، ځیني، څه، بل، یو، نور، ټول، ټوله).

مثالونه ئې:

څوک ښه کوي څوک بد کوي.

چا یو څه ویل چا بل څه ویل.

ټول را غلل.

ځیني ښوونځي ته ځي ځیني مېلې کوي.

کله کله (هر، بل) د ناڅرګندو ضمیرونو له مخه د تخصیص یا تاکید په ډول را ځي لکه: (هر چا، هر څوک، هر یو، بل یو، بل چا، بل څوک ...).

مثالونه:

هر څوک خبري کوي.

هر یو ځان ښکاره کوي.

بل چا په دوی پسې خبري کړي دي.

Qamosona.com

(څلورم ) -

مشترک ضمير Reflexive pronoun : کولای سو چي مشترک ضمير انعکاسي ضمير هم و بولو. کوم فعل چي له فاعل څخه را پيل کيږي مفعول ئې هم دغه فاعل دئ. د متکلم، مخاطب او غايب لپاره په يو شان را ځي لکه:

زه په خپله ولاړم.

احمد خپل کتاب ما ته را کړ.

دی خپل لاس مينځي.

تا په خپله خپل کالي و مينځل.

په (زه په خپله ولاړم) کي د ولاړم فعل له (زه) څخه را وتلی دئ او پر (په خپله) باندي عملي سوی دئ.

په (احمد خپل کتاب ما ته را کړ) کي (خپل) مشترک ملکي ضمير دئ. که ئې په بل عبارت و وايو (احمد د ځان کتاب ما ته را کړ). يادښت: پاملرنه بايد و کړو چي (په خپله) تر خپل اسم وروسته او (خپل) تر خپل اسم مختته را ځي. خپل د مفرد او جمع (مذکر)، خپله د مفرد (مونث) او خپلي د جمع مونث لپاره را ځي. مثالونه ئې:

خپل کار، خپل کارونه

خپله خبره

خپلي خبري

Qamosona.com

مثالونه ئې :

احمد خپل کار پرېښود .

احمد خپل کارونه نه کوي .

ملالۍ خپله خبره بیرته وا خیسته .

ملالۍ اوس هغه خپلي خبري نه کوي .

## صفت Adjective

صفت هغه کلمه ده چي پر اسم اغېز کوي یعني د اسم کیفیت ، شمېر یا مقدار ښکاره کوي . یو څو مثالونه ئې :

ملالۍ تکړه ښوونکې ده .

احمد پنځه قلمونه لري .

زمری د کتاب څلورم مخ لولي .

په لومړۍ جمله کي ( تکړه ) صفت دئ ځکه چي د ښوونکې د اسم کیفیت ئې ښکاره کړی دئ .

په دوهمه جمله کي پنځه عددي صفت دئ ځکه چي د ( قلومونه ) شمېر ئې ښودلی دئ .

په درېیمه جمله کي څلورم عددي صفت دئ ځکه چي د کتاب د مخونو شمېر ئې ښکاره کړی دئ .

Qamosona.com

## د صفت ډولونه:

په پښتو کي صفت دغه لاندي ډولونه لري:

۱ ـ اصلي صفت

۲ ـ عددي صفت

۳ ـ استفهامي صفت

۴ ـ مبهم صفت

۵ ـ اشاري صفت

۶ ـ نسبتي صفت

### ۱ـ اصلي صفت:

اصلي صفت هغه صفت ته وايي چي د يو اسم كيفيت ښكاره كوي. په دې معنا چي د اسم ښه والی يا بد والی، رنګ، غټوالی يا كوچني والی يا نور حالات بيانوي لكه:

زموږ كور په دغه لوی ښار كي دئ.

احمد خپل سور موټر خرڅ كړ.

ملالۍ يو زوړ كميس لري.

سدو د پلار وران بڼ له سره جوړ كړ.

په پورتنيو جملو كي (لوی، سور، زوړ او وران) اصلي صفتونه دي چي د (ښار، موټر، كميس او بڼ) د اسمو كيفيت بيانوي.

Qamosona.com

اصلي صفت پر دوو ډولو دئ :

**الف ـ غیر مشتق اصلي صفت**

**ب ـ فعلي اصلي صفت**

**الف ـ**

**غیر مشتق اصلي صفت:** هغه صفت ته وايي چي له بلي کلمې څخه نه وي جوړ سوی لکه: (سور ، تور ، سپین ، غټ ، دروند ، موړ ، کوڼ، روغ ، جوړ ، پڅ ، تریخ ، خوږ ، زیږ او نور.

**ب ـ**

**فعلي اصلي صفت:** هغه صفت ته وايي چي د فعل له مصدر سره د یو شمېر تورو له نښلېدو څخه جوړ سوی وي دغه پر دوه ډوله دئ لکه:

**ـ د فاعل فعلي صفتونه**

**ـ د مفعول فعلي صفتونه**

**ـ د فاعل لپاره فعلي صفتونه:** هغه صفتونه دي چي د فعل له مصدر څخه (ل) لیري کیږي او پر ځای ئې یو شمېر نور توري ور سره یو ځای کیږي او له هغه څخه د فاعل لپاره صفت جوړ سي. دغه صفتونه د مفرد مذکر ، مفرد مونث ، جمع مذکر او جمع مونث لپاره وي لکه: له مصدر څخه د مصدر علامه (ل) لیري کول او پر ځای ئې (ونکی)

Qamosona.com

ور لويږي لکه:

له (تلل) څخه (ل) ليري کيږي چي (تل) پاته سي او (ونکی) ور سره نښلي (تلونکی) ور څخه جوړيږي. (تلونکی) د صفت فاعلي حالت لري لکه: تلونکی مېلمه...

- د مفرد مذکر لپاره (تلونکی سړی) را ځي.
- د مفرد مونث لپاره (تلونکې نجلۍ) را ځي.
- د جمع مذکر او جمع مونث لپاره (تلونکي هلکان يا تلونکي نجوني او يا ګډ هلکان او نجوني) را ځي.

بل مثال: له (پلوورل) څخه پلورونکی (پلور+ ونکی).

- د مفرد مذکر لپاره (پلورونکی) را ځي.
- د مفرد مونث لپاره (پلورونکې) را ځي.
- د جمع مذکر او جمع مونث لپاره (پلورونکي) را ځي.

## - د مفعول لپاره فعلي صفتونه:

که له مصدر سره نرمه (ی) و نښلي له هغه څخه د فعلي مصدر مفعولي حالت جوړيږي لکه: له (تلل) څخه (تللی) جوړيږي چي (تللی) د صفت مفعولي حالت دئ لکه: (تللی ملګری) او دغه درې لاندي حالتونه لري:

- د مفرد مذکر لپاره (تللی سړی) را ځي.

Qamosona.com

ـ د مفرد مونث لپاره (تللې نجلۍ) را ځي.
ـ د جمع مذکر او جمع مونث لپاره (تللي هلکان یا تللي نجوني او یا ګډ هلکان او نجوني) را ځي.

چي دغه (تللی، تللې او تللي) د اسم د صفت مفعولي حالتونه دي.

۲ ـ عددي صفت Numaral adjective: عددي صفت هغه صفت ته ویل کیږي چي د اسم شمېر، درجه او کسري حالت ښیي لکه:
ـ څلور نجوني ښوونځي ته ځي. (څلور) شمېر ښیي.
ـ هر پنځم کتاب څېري سوی دئ. (پنځم) درجه ښیي.
ـ هره شپږمه ښځه کتاب لوستلای سي. (شپږمه) کسري حالت ښیي.
ـ د ختکي درېیمه برخه را وړه. (درېیمه) کسر ښیي.
ـ د دوا درې پنځمي برخي پاته دي. درې پنځمي کسري صفت دئ چي که دوا پنځه برخي سي نو له پنځو برخو څخه ئې درې برخي پاته دي.

د عددي صفت یو څو مثالونه (شپږ، اوه، لس، څلورم، درېیم، اتمه، نیمی، دوې درېیمي، یو په دوه، درې درې).

په صفتونو کي:
(شپږ، اوه، لس...) مطلق صفتونه دي.
(څلورم، درېیم...) ترتیبي صفتونه دي.

Qamosona.com

(نیمی ، دوې درېیمي ... ) کسري صفتونه دي.
(یو په دوه ، یو په لس ... ) د اضعاف یا زیاتوالي صفتونه دي.

صفت او موصوف څه ته وایي؟ په (ښکلی بڼ) کي ، (ښکلی) ته صفت او بڼ ته موصوف ویل کیږي.

په یاد ئې باید و لرو چي په پښتو کي صفت له موصوف څخه له مخه را ځي لکه: (جګ غر ، ناروغ هلک ، توره چپنه ... ). دلته (جګ ، نا روغ ، توره ... ) صفتونه دي او (غر ، هلک ، چپنه ... ) هر یو د خپل صفت د موصوف په نامه یادیږي.

۳ ـ استفهامي (د پوښتني) صفت Interragative adjective :
استفهامي صفت هغه صفت ته ویل کیږي چي د یوه اسم د کیفیت ، ماهیت او مقدار د معلومولو لپاره پوښتنه کوي او تل د خپل موصوف سره یو ځای را ځي لکه:
کوم کور دي را نیوی؟
نن څو هلکان ښوونځي ته نه دي را غلي؟
ته څونه غنم غواړې؟

په پورتنیو جملو کي (کوم ، څو ، څونه) استفهامي (د پوښتني) صفتونه دي. د پورتنیو صفتو موصوفي کلمې هم په جمله کي په داسي حال

Qamosona.com

کي را غلي دي چي اړیکي ئې د خپل صفت سره دي.

په پښتو کي د استفهام کلمې دغه دي: (کوم، څو، څونه، څوني، څومره، څومري، څه، څنګه، څرنګه).

یادښت: که په جمله کي دغه کلمې له اسمو سره یو ځای نه وي را غلي، په هغه وخت کي دغه کلمې صفت نه بلکي ضمیرونه دي لکه:
ـ تا محمود ته څه و ویل؟
ـ د احمد ورور څه کار کوي؟

په لومړۍ جمله کي (څه) استفهامي ضمیر دئ ځکه چي تاثیر ئې پر کوم اسم نه دئ را غلی.

په دوهمه جمله کي (څه) استفهامي صفت دئ ځکه چي تاثیر ئې پر (کار) اسم را غلی دئ.

۴ ـ مبهم صفت (نا څرګند صفت) Indifinite adjective:
مبهم صفت هغه صفت ته وایي چي د یوه اسم غیر معین مقدار یا تعداد ښکاره کوي او تل تر یوه اسم مخکي را ځي لکه:
سدو ډېر قلمان لري.
لږ ډوډۍ را وړه چي و ئې خورو.

تاسي هیڅ کتابونه نه لرئ؟
زه له تا څخه یو څو کتابچې غواړم.

په پورتنیو جملو کي (ډېر، لږ، هیڅ، څو) مبهم صفتونه دي ځکه چي هر یو ئې د یوه اسم غیر معین شمېر یا مقدار ښکاره کوي.

په پښتو کي یو شمېر مبهم صفتونه (ډېر، لږ، څه، څو، څونه، څومره، څومري، دونه، دومري، دغونه، دغومري، هومره، هومري، هغونه، هغومره، هغومري، ټول، ځیني، واړه، دواړه، دواړي، ګرده، بل، بله، کوم، کومي، هر، یو څو، هر څومره، هر څومري، هر یو) دي.

د لوړو مبهمو صفتو له جملې څخه یو شمېر ئې ضمیرونه دي. دا هغه وخت چي وروسته ئې کوم اسم نه وي را غلی صفتونه دي لکه:
دېرش پولیس دغه کلي ته ولاړل، ټول هلته پاته سول.
دېرش پولیس دغه کلي ته ولاړل، ټول پولیس بیرته را غلل.

په لومړۍ جمله کي (ټول) ضمیر دئ، ځکه چي وروسته ئې اسم نه دئ را غلی.

په دوهمه جمله کي (ټول) مبهم صفت دئ، ځکه چي وروسته ئې اسم (پولیس) را غلی دئ.

Qamosona.com

( ۵ ) ـ اشاري صفت Demonstrative adjective :

اشاري صفت هغه صفت ته وايي چي يوه اسم ته اشاره کوي لکه (دغه، دغې، دغي ، دغو، هغه، هغې، هغي، هوغه، هغو ) . يو څو مثالونه ئې دلته لاندي را غلي دي :

دغه سړی زما ورور دئ .

هغې ښځي ته ډوډۍ ور وړه .

هغه هلک ښه کارونه کوي .

دغه موټر د چا دئ ؟

اشاري صفتونه دوه ډوله دي :

( الف ) ـ نژدې اشاري صفتونه (دا ، دې ، دغه ، دغي ، دغې ، دغو) .

( ب ) ـ ليري اشاري صفتونه دوه ډوله دي :

ـ ليري (هغه ، هغې ، هغو ) .

ـ ليري تره (تر هغه لا ليري ) ، (هوغه ، هوغي ، هوغو ) .

تر دغو اشاري صفتو دستي وروسته بايد يو اسم را غلی وي ، چي د صفت کار ور کي .

( ۶ ) ـ نسبتي صفت :

نسبتي صفت هغه صفت دئ چي نسبت ئې يو اسم ته کيږي . دغه صفت پخپله د يوه اسم يا يو بل صفت څخه د يوې بلي کلمې يا يوه توري

Qamosona.com

سره د یو ځای کېدو له لاري منځته را غلی وي لکه:

احمد یو توریالی ځوان دئ.

وربښمین ټوکر ډېر ګران وي.

چینجن خټکی مه خوره!

زما ملګری ډېر غمجن سړی دئ.

کله چي د اسم یا صفت په پای کي دغه لاندي کلمې یا توري ور و لوېږي نسبتي ضمیر ور څخه جوړېږي.

(جن، یالی، من، ګر، ن، ین، و، ی، نی، ور، وال، ناک، والا، بخن، لن، خېل، زی، وزمه، وبره).

مثالونه ئې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| توره | توریالی | غم | غمجن |
| دولت | دولتمن | پم | پمن |
| وربښم | وربښمین | پرون | پرونی |
| پخوا | پخوانی | ژبه | ژبور |
| کډه | کډوال | زیم | زیمناک |
| آس | آس والا | تور | توربخن |
| ژاولي | ژاولن | سلیمان | سلیمانخېل |
| نور | نورزی | سپین | سپین وزمه |

Qamosona.com

# Verb فــعل

**فعل** هغه کلمه ده چي د يو کار کول ښکاره کوي لکه: خوړل، ځي، لرم، لولئ، غورځوې.... **فعل** په يوه وخت يا زمانه کي د يوه فاعل له خوا تر سره کيږي لکه:

محمود ښوونځي ته ولاړ.

ملالۍ خپل کورنی کار کوي.

زمرک به سبا کابل ته ولاړ سي.

**مصدر**:

مصدر د **فعل** نوم ته ويل کيږي. دغه کلمه (مصدر) نه فاعل لري او نه وخت ته اړتيا لري. يو مثال ئې په لاندي جمله کي:

احمد وايي. دلته احمد فاعل دئ او وايي **فعل** دئ. د دغه (وايي) **فعل** نوم (ويل) دئ. د **فعل** دغه نوم (ويل) مصدر بلل کيږي چي نه زمانې ته اړتيا لري او نه فاعل ته اړتيا لري. د مصدر مثالونه لکه:

خوړل، غورځول، پرې کول، شکول، ځغستل، ويښول، ويښېدل، کښېنستل، کښېنول، پرې کېدل، غورځېدل، لوستل او نور.



Qamosona.com

## د فعل ډولونه:

په پښتو کي فعل دغه لاندي ډولونه لري:

متعدي فعل Transitive verb:

په کومه جمله کي چي متعدي فعل را غلی وي هلته فاعل او مفعول دواړه وي. د مثال په توګه:

احمد کالي مينځي.

که په دغه جمله کي د (مينځي) فعل بېله (کالي) څخه را غلی وي معنا نه ور کوي. که و وايو (احمد مينځي) نو اورېدونکی خامخا پوښتنه کوي چي څشی مينځي. په دغه جمله کي د (مينځي) فعل متعدي فعل دئ او جمله بايد فاعل او مفعول دواړه و لري. د متعدي فعل يو څو مثالونه:

- دوی ډوډۍ خوري. مصدر (د فعل نوم) ئې (خوړل) دئ.
- مورِ کالي اغوندو. مصدر (د فعل نوم) ئې اغوستل دئ.
- زه خپل ورور ښوونځي ته بيايم. مصدر (د فعل نوم) ئې (بېول) دئ.

لازمي فعل Intransitive verb:

لازمي فعل هغه فعل دئ چي په کومه جمله کي را سي يوائې فاعل لري او مفعول پکښي نه وي لکه:

- دی بيديږي (ويديږي). مصدر ئې (بيدېدل، ويدېدل) دئ.
- محمود ځي. مصدر ئې (تلل) دئ.

Qamosona.com

ـ رڼا ژاړي. مصدر ئې (ژړل) دئ.

ـ مسعود کښېني. مصدر ئې (کښېنستل) دئ.

ـ محمود ښوري. مصدر ئې (ښورېدل) دئ.

په پورتنیو جملو کي (بیدیږي ، ځي ، ژاړي ، کښېني او ښوري) داسي فعلونه دي چي مفعول نه غواړي. دغه فعلونه لازمي فعلونه دي. د دغو فعلو متعدي مصدرونه (بیدول ، بېول ، ژړول ، کښېنول او ښورول) دي.

**معروف فعل** Active voice او **مجهول فعل** Passive voice :

**معروف فعل** Active voice :

هغه فعل ته وایي چي په جمله کي ئې فاعل ښکاره وي لکه:

ـ احمد زه ولیدم.

ـ زه کار ته ځم.

ـ ښوونکی به را سي.

په دغو درو جملو کي (و لیدم او ځم ، به را سي) داسي فعلونه دي چي فاعل ئې په جمله کي معلوم دئ. دغسي فعلونو ته معروف فعلونه وایي.

**مجهول فعل** Passive voice :

هغه فعل ته وایي چي په جمله کي فاعل په ښکاره ډول نه وي را غلی،

Qamosona.com

خو مفعول ئې د فاعل ځای نیولی وي لکه:

ـ احمد و وهل سو. په دغه جمله کي د وهلو د فعل فاعل نه دئ معلوم.

ـ ملالۍ خبره سوه. دا چي چا خبره کړه فاعل ئې نه دئ معلوم.

**مثبت فعل** Affermative form او **منفي فعل** Negative form:

**مثبت فعل** Affermative form:

مثبت فعل هغه فعل ته وايي چي د یوه کار کول ور څخه ښکاره کیږي لکه:

ـ احمد کابل ته ولاړ.

ـ ملالۍ ډوډۍ خوري.

دلته (ولاړ) او (خوري) مثبت فعلونه دي.

**منفي فعل** Negative form:

منفي فعل هغه فعل ته وايي چي د یو کار د کولو نه کول ښکاره کوي لکه:

ـ احمد نه ولاړ.

ـ ملالۍ ډوډۍ نه خوري.

په پښتو کي د نفی علامې (نه او مه) دي چي د فعل له مخه را ځي. (مه) خاص د حاضر امر لپاره را ځي لکه:

Qamosona.com

ـ شوخي مه کوه !

ـ ډېره بوره مه خوره !

**با قاعده فعل** Regular verb : **با قاعده فعل** هغه **فعل** ته وايي چي حال **فعل** او د مطلقي ماضي **فعل** ئې په يوه مقرره قاعده جوړيږي.
مقرره قاعده لکه:

د درېدل له مصدر څخه د **فعل** جوړېده:

له درېدل څخه:

| حال | مطلقه ماضي |
|---|---|
| زه درېږم | زه و درېدم |
| موږ درېږو | موږ و درېدو |
| ته درېږې | ته و درېدې |
| تاسي درېږئ | تاسي و درېداست |
| دی دريږي | دی و درېد |
| دا دريږي | دا و درېده |
| دوی دريږي | دوی و درېدل |

**بې قاعدې فعل** Irrigular verb :

هغه **فعل** چي حال **فعل** او مطلقه ماضي ئې په يوه مقرره قاعده نه جوړيږي د (**تلل**) له مصدر څخه:

Qamosona.com

| حال | مطلقه ماضي |
|---|---|
| زه ځم | زه ولاړم |
| موږ ځو | موږ ولاړو |
| ته ځې | ته ولاړې |
| تاسي ځئ | تاسي ولاړاست |
| دی ځي | دی ولاړی |
| دا ځي | دا ولاړه |
| دوی ځي | دوی ولاړل |

**کومکي فعل** Auxiliary verb:

هغه فعل ته وايي چي د اصلي فعلونو سره د نورو فعلونو په جوړولو کي مرسته کوي. يو څومثالونه به ئې دلته لاندي را وړل سي:

ملالۍ ښوونځي ته تللې وه.

زمری له هراته را غلی دئ.

دی و وهل سو.

په پورتنيو جملو کي (وه، دئ، سو) کومکي فعلونه دي. دغو فعلونو د بعيدي ماضي، قريبي ماضي او مجهول فعل په جوړولو کي د (تللې، را غلې او و وهل) له فعلونو سره ئې مرسته کړې ده، خو په جمله کي په خپله کومه معنا نه لري. ځکه دغو (وه، دئ، سو) فعلو ته کومکي يا مرستندوی فعلونه ويل کيږي.

Qamosona.com

که چیري دغه (وه ، دئ ، سو ) فعلونه په کومه جمله کي را غلي وي او په هغه جمله کي ئې له کوم بل فعل سره مرسته نه وي کړې ، په دغه وخت کي په خپله معنا ور کوي لکه:

زه خبر یم.

زه ښوونکې یمه.

دی نا جوړه سو.

سخي ښوونکی دئ.

دوی زما زدکوونکي دي.

کومکي فعلونه زیاتره د قریبي او بعیدي ماضي زمانو په جوړولو کي مرسته کوي. یو څو مثالونه به ئې دلته لاندي و لولو او یو تکرار به ئې د زمانو په برخه کي بیا را سي.

لومړی ـ کومکي فعلونه له بعیدي ماضي سره:

مذکر: زه افغانستان ته تللی وم.

مونث: زه افغانستان ته تللې ومه.

د مذکر او مونث جمع: موږ افغانستان ته تللي وو.

مذکر: ته افغانستان ته تللی وې.

مونث: ته افغانستان ته تللې وې.

د مذکر او مونث جمع: تاسي افغانستان ته تللي واست.

دی افغانستان ته تللی وو.

Qamosona.com

دا افغانستان ته تللې وه.

مذکر: دغه، هغه افغانستان ته تللی وو.

مونث: دغه، هغه افغانستان ته تللې وه.

د مذکر او مونث جمع: دوی افغانستان ته تللي ول.

په دغو جملو کي (وم، ومه، وو، وې، واست، وو، وه، ول) داسي کومکي فعلونه دي چي د بعیدي ماضي په جوړېدو کي ئې مرسته کړې ده.

کومکي فعلونه له قریبي ماضي سره:

مذکر: زه افغانستان ته تللی یم.

مونث: زه افغانستان ته تللې یمه.

مذکر او مونث: موږ افغانستان ته تللي یو.

مذکر: ته افغانستان ته تللی یې.

مونث: ته افغانستان ته تللې یې.

د مذکر او مونث جمع: تاسي افغانستان ته تللي یاست.

مذکر: دی افغانستان ته تللی دئ.

مونث: دا افغانستان ته تللې ده.

مذکر: دغه، هغه افغانستان ته تللی دئ.

مونث: دغه، هغه افغانستان ته تللې ده.

د مذکر او مونث جمع: دوی افغانستان ته تللي دي.

Qamosona.com

په پورتنيو جملو کي (يم ، يمه ، يو ، يې ، ياست ، دئ ، ده ، دي) داسي کومکي فعلونه دي چي د قريبي ماضي په جوړښت کي ئې مرسته کړې ده.

د (يم ، يمه ، يو ، يې ، ياست ، دئ ، ده ، دي) مصدر نه دئ معلوم. کله چي به موږ د انګليسي د (To be) مصدر په پښتو ترجمه کاوه نو به مو د دري ژبي له (بودن) څخه کار اخيستی. له څو کلنو را هيسي د (ول) د کومکي فعل کارول د (وه) کومکي فعل پر ځای را منځته سو ، سړي فکر کاوه چي کشکي دغه (ول) د (يم ، يمه ، يو، يې ، ياست ، دئ ، ده ، دي) د کومکي فعلونو د مصدر لپاره را منځته سوی وای. دا چي دغه کار د کومي رسمي مرجع له خوا نه وو سوی، ځکه دغه کار و نه سو ، خو بيا هم (ول) د (وه) کومکي فعل پر ځای د کومکي فعل په توګه کارول يوه بله ګډوډي له منځه يوړه. هغه دا چي پخوا به ويل کېده:
ملالۍ تللې وه.
دوی تللي وه.

دلته په دواړو حالتو کي (وه) د کومکي فعل په توګه کارول سوي دي، خو اوس د (دوی را غلي وه) پر ځای په بعيده ماضي کي (دوی را غلي ول) را ځي ، چي توپير ئې د مونث له (راغلې وه) څخه و سو.

په بل ځای کي د (وه) د کارولو ستونزه د اصلي فعل په توګه هم حل

Qamosona.com

سوه چي ويل به مو:

دا ښوونکې وه.

دوی ښوونکي وه.

اوس وايو:

دا ښوونکې وه.

دوی ښوونکي ول.

## فعل د وخت يا زمان له مخي:

هغه وخت چي يو فعل پکښي پېښېږي او هغه پر درو ډولو ده لکه:

(۱) ـ حال (اوسنۍ زمانه) Present-tense

(۲) ـ ماضي يا (تېره زمانه) Past-tense

(۳) ـ مستقبل (را تلونکې زمانه) Future-tense

(۱) ـ

حال (اوسنۍ زمانه) Present-tense:

حال فعل هغه فعل دئ چي يو کار په اوسني وخت کي کيږي لکه:

زه زابل ته ځم.

موږ زابل ته ځو.

ته زابل ته ځې.

تاسي زابل ته ځئ.

Qamosona.com

دی زابل ته ځي.
دا زابل ته ځي.
دوی زابل ته ځي.
په پورتنیو جملو کي (ځم ، ځو ، ځې ، ځئ ، ځي). حال فعلونه دي.

د حال فعل ډولونه لکه:
(الف)ـ مطلق حال
(ب)ـ اقتداري حال
(ج)ـ احتمالي حال
(د)ـ شرطي حال
(هـ)ـ تمنایي حال
(و)ـ استمراري حال
(ز)ـ التزامي حال فعل

الف ـ مطلق حال:
مطلق حال هغه فعل دئ چي په اوس زمانه کي خبري کوي لکه: موږ دربږو ، ته ئې وهې ، زه را ځم.

ـ مطلق حال فعل د لازمي (چي مفعول و نه لري) لازمي با قاعده وضعي مصدر څخه داسي جوړیږي چي د مثال په توګه له (دربدل) مصدر څخه (ل) ایسته کوي، (د) ئې په (ږ) اړوي تر (ږ) وروسته فعلي

Qamosona.com

نښتي (متصل) ضميرونه ور سره نښلوي لکه:

زه دربړم.

موږ دريږو.

ته دربړې.

تاسي دربړئ.

دی، دا، دوی دريږي.

ـ مطلق حال فعل: د متعدي (چي فاعل او مفعول دواړه و لري) با قاعده وضعي مصدر څخه (ل) ايسته کوي او څه چي پاته سول په پای کي ئې نښتي (متصل) فعلي ضميرونه (م، و، ې، ئ، ي) را وړي لکه له (کوټل) څخه:

زه غنم کوټم.

موږ غنم کوټو.

ته غنم کوټې.

تاسي غنم کوټئ.

دی، دا، دوی غنم کوټي.

ـ مطلق مجهول (چي فاعل ئې په جمله کي نه وي معلوم او يوائې مفعول و لري) حال فعل د اصل فعل د فعلي صفت څخه جوړيږي. تر فعلي صفت وروسته (کيږ) او د (کيږ) په پای کي (متصل) ضميرونه (م، و، ې، ئ، ي) نښلوي لکه:

Qamosona.com

زه وهلی کېږم.

موږ وهلي کېږو.

مفرد مذکر مخاطب: ته وهلی کېږې.

مفرد مونث مخاطب: ته وهلې کېږې.

دی وهلی کیږي.

دا وهلې کیږي.

دوی وهلي کیږي.

په اوسنیو محاورو کي د فعلي صفت (وهلی، وهلي، وهلې) پر ځای (وهل) کاروي، خو قاعده (وهلی، وهلي، وهلې) دي. بیا هم دغه اړونه داسي خاص د پاملرني وړ تغییر نه را ولي. یو مثال ئې:

زه وهل (وهلی کېږم.

(ب) ـ اقتداري حال:

اقتداري حال هغه حال فعل ته وایي چي له هغه څخه د فعل د کېدو امکان ښکاري لکه: درېدلای سم.

اقتداري لازمي او متعدي فعلونه دواړه د اصل فعل د مفعولي اسم څخه جوړیږي. دا ډول چي د مفعول فعل په پای کي د (سم، سو، سې، سئ، سي) کومکي فعل ور لویږي لکه:

| لازمي فعل | متعدي فعل |
|---|---|
| زه درېدلای سم. | زه احمد ببولای سم. |

Qamosona.com

| | |
|---|---|
| موږ دربدلای سو. | موږ احمد بېولای سو. |
| ته دربدلای سې. | ته احمد بېولای سې. |
| تاسي دربدلای سئ. | تاسي احمد بېولای سئ. |
| دی دربدلای سي. | دی احمد بېولای سي. |
| دا دربدلای سي. | دا احمد بېولای سي. |
| دوی دربدلای سي. | دوی احمد بېولای سي. |

اقتداري مجهول (چي فاعل ئې په جمله کي معلوم نه وي) فعل د معروف (چي فاعل ئې په جمله کي معلوم وي) له اقتداري حال فعل څخه جوړيږي. دا ډول چي د مفعول اسم او کومکي فعل تر منځ (کېدلای) را وړي لکه:

زه وهلی کېدلای سم.

موږ وهلي کېدلای سو.

مذکر مخاطب مفرد: ته وهلی کېدلای سې.

مونث مخاطب مفرد: ته وهلې کېدلای سې.

مذکر او مونث جمع: مخاطب تاسي وهلي کېدلای سئ.

مذکر غایب مفرد: دی وهلی کېدلای سي.

مونث غایب مفرد: دا وهلې کېدلای سي:

مذکر او مونث غایب جمع: دوی وهلي کېدلای سي.

Qamosona.com

(ج)ـ احتمالي حال:

هغه فعل ته ويل کيږي چي شک يا شبهه ور څخه ښکاره کيږي لکه:

مفرد مذکر متکلم: ګوندي زه ولاړ سم.

جمع مذکر متکلم: ګوندي موږ ولاړ سو.

مفرد مذکر مخاطب: ګوندي ته ولاړ سې.

مفرد مونث مخاطب: ګوندي ته ولاړه سې.

جمع مذکر مخاطب: ګوندي تاسي ولاړ سئ.

جمع مونث مخاطب: ګوندي تاسي ولاړي سئ.

جمع مذکر مخاطب: ګوندي دوی ولاړ سي.

مونث جمع: ګوندي دوی ولاړي سي.

په دې وروستيو وختو کي ځيني خلک دغه ګوندي او ګواکي سره ګډوي. هلته چي بايد ګوندي و ويل سي هلته ګواکي وايي.

دا چي (ګوندي) د (اميدواري) په معنا او (ګواکي) د (يعني) په معنا کارولي کېدل، خو اوس لکه:

د (دا نو يعني ښه کار دئ چي سوله و نه کړو؟) پر ځای وايي (دا نو ګوندي ښه کار دئ چي سوله و نه کړو؟). دلته دغه د (ګوندي) کلمه چي اصلاً د (اميدوارۍ) په معنا ده د (يعني) په ډول کارول سوې ده.

Qamosona.com

**( د ) ـ شرطي حال:**

**هغه حال فعل ته وايي چي په يوه شرط سره منځته را غلی وي مثال ئې له (زه و دربږم) و مخ ته يو (که) ور لويږي لکه:**

**ـ لازمي شرطي حال فعل:**

که زه و دربږم.

که موږ و دربږو.

که ته و دربږې.

که تاسي و دربږئ.

که دی، دا، دوی و دربږي.

**ـ متعدي شرطي حال فعل:**

که زه ملالۍ خبره کړم.

که موږ احمد خبر کړو.

که ته دا خبره کړې.

که تاسي موږ خبر کړی.

که دی، دا، دوی احمد خبر کړي.

**ـ مجهول شرطي حال فعل:**

که زه و رسول سم.

که موږو رسولي سو.

Qamosona.com

مفرد مذکر مخاطب: که ته و رسول سې.

مفرد مونث مخاطب: که ته و وهلې سې.

که تاسي و رسولي سئ.

که دی و وهلی سي.

که دا و وهلې سي.

که دوی و وهلي سي.

(هـ)ـ تمنايي حال:

هغه فعل دئ چي له هغه څخه غوښتنه او تمنا ښکاره کيږي لکه:

ـ کشکي زه و درېږم. تمنايي لازمي حال فعل دئ.

ـ کشکي زه احمد خبر کړم. تمنايي متعدي حال فعل دئ.

ـ کشکي مور دوی بوزو. تمنايي متعدي حال فعل دئ.

ـ کشکي دوی را و غوښتل سي. تمنايي مجهول حال فعل دئ.

ـ کشکي زه ئې خبر کړم. تمنايي متعدي حال فعل دئ.

په پورتنۍ جمله کي (زه) فاعلي ضمير، (ئې) مفعولي ضمير دئ ځکه جمله تمنايي متعدي حال فعل ده.

(و)ـ استمراري (جاري) حال:

هغه حال ته وايي چي د يوه کار دوام ښکاره کوي. دغه فعل په انګليسي کي د جوړېدو يوه خاصه لار لري. هغه دا چي په جمله کي د فعل په پای کي (ing) ور لويږي لکه:

Qamosona.com

I am going to school.

د جاري حال لپاره په پښتو کي داسي خاصه او عامه طريقه نه سته چي مطلق حال دي له جاري حال څخه جلاکي. يعني مطلق حال او جاري حال دواړه په يو ډول وي، خو بيا هم د مطلق حال مخته د (لګيا) يم، يو، يې، ياست، دئ، ده، دي) په ور زياتولو سره جاري حال جوړوي لکه:

زه لګيا يم کار کوم.

موږ لګيا يو ډوډۍ خورو.

ته لګيا يې تدريس کوې.

تاسي لګيا ياست خط ليکئ.

په لوېديځه ورځنۍ لهجه کي د لګيا کلمه دومره عامه نه ده بلکي هغوی وايي (اخته يم کار کوم)، خو په ښوونيځ چاپيريال کي د لګيا کلمه کارول کيږي.

(ز) ـ **التزامي حال فعل**:

التزامي حال هغه فعل دئ چي د يوه کار د کولو لپاره د پوښتني په ډول اجازه غوښتل کيږي دواړه پر حال او راتلونکې دلالت کوي لکه:

زه و درېږم.

زه احمد و څغلوم.

د التزامي حال لازمي او متعدي فعل دواړه له مطلق حال فعل څخه

Qamosona.com

جوړيږي. دا ډول چي د حال فعل له مخه يو (و) را وړل کيږي لکه:

**ـ لازمي فعل:**

زه و درېږم.

موږ و درېږو.

ته و درېږې.

**ـ متعدي فعل:**

زه احمد و ځغلوم.

موږ احمد و ځغلوو.

ته احمد و ځغلوې.

تاسي احمد و ځغلوئ.

دی احمد و ځغلو ي.

دا احمد و وهي.

دوی احمد و وهي.

**مجهول فعل:** التزامي مجهول فعل د حال فعل د اصل فعل د مفعول اسم (وهلی) څخه جوړيږي. د مفعول اسم په پای کي (سم، سو، سې، سئ، سي) کومکي فعلونه را وړل کيږي لکه:

زه و وهلی سم.

موږ و وهلي سو.

ته و غوښتلی سې.

Qamosona.com

ته وغوښتلې سې.

تاسي وغوښتلي سئ.

دی و وهلی سي.

دا وغوښتله سي.

دوی وغوښتلي سي.

## (۲) ـ ماضي یا (تېره زمانه) Past-tense :

ماضي هغه زمانه ده چي یو کار په تېره زمانه کي سوی وي. دغه زمانه هم ډېر ډولونه لري.

### ماضي زمانه په پښتو کي:

الف ـ مطلقه ماضي Past perfect

ب ـ قریبه ماضي Present perfect tense

ج ـ بعیده ماضي Past perfect tense

د ـ استمراري یا جاري ماضي Past cotinuous tense

هـ ـ اقتداري ماضي Past potential tense

و ـ شرطیه ماضي Past conditional tense

ز ـ تمنایي ماضي

ح ـ احتمالي ماضي

ط ـ توبیخي ماضي

Qamosona.com

(الف) ـ مطلقه ماضي Past perfect :

مطلقه ماضي هغه زمانه ده چي یو کار په تېره زمانه کي تر سره سوی وي او د زمانې د لیري والي یا نژدې والي سره کوم اړیکي نه لري لکه :

ـ زه کابل ته ولاړم .

ـ موږ کابل ته ولاړو .

ـ ته کابل ته ولاړې .

ـ تاسي کابل ته ولاړاست .

ـ دا کابل ته ولاړه .

ـ دی کابل ته ولاړ .

ـ دوی کابل ته ولاړل .

ـ ما احمد ښوونځي ته واستاوه .

ـ موږ ښوونکی مېلمه کړ .

مطلقه ماضي د متعدي ، لازمي او مجهولو مصدرو څخه جوړېږي چي دلته لاندي به را سي .

لومړی ـ له متعدي فعل څخه

دوهم ـ له لازمي فعل څخه

درېیم ـ له مجهول فعل څخه

Qamosona.com

**لومړی ـ د متعدي فعل له مصدر څخه**:

متعدي فعل هغه فعل دئ چي په جمله کي فاعل او مفعول دواړه را غلي وي.

کله چي د متعدي فعل څخه مطلقه ماضي جوړوو د فعل له مخه یو (و) او په پای کي ئې متصل فعلي ضمیرونه را وړو لکه:

(ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی) منه و خوړه.

(ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی) منې و خوړلې.

(ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی) خټکی و خوړ.

(ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی) خټکي و خوړل.

(منه) مفرد مونث ده او (منې) جمع مونث دي.

(خټکی) مفرد مذکر دئ او (خټکي) جمع مذکر دي.

په پورتنیو جملو کي د (ما، موږ، تا، تاسي، ده، دې، دوی) ضمیرونه فاعلي حالت لري او وینی چي د (خوړل) متعدي فعل د مفعول له مفرد، جمعي، مذکر او مونث سره تغییر کوي.

یو بل مثال د (وهل متعدي فعل):

ما احمد و واهه. (ما) فاعل دئ.

احمد زه و وهلم. (زه) مفعول دئ.

موږ احمد و واهه. (موږ) فاعل دئ.

Qamosona.com

احمد موږ و وهلو. (موږ) مفعول دئ.
تا احمد و واهه. (تا) فاعل دئ.
احمد تاسي و وهلاست. (تاسي) مفعول دئ.
احمد دی و واهه. (دی) مفعول دئ.
احمد دا و وهله. (دا) مفعول ده.
احمد دوی و وهلې. (دوی) د مونث جمع او مفعول دئ.
(ده، دې، دوی) احمد و واهه. (ده، دې، دوی) فاعلي ضماير دي.
احمد دوی و وهل. (دوی) جمع مفعول مذکر یا دواړه مذکر او مونث دئ.

دلته په ځینو جملو کي چي باید (و وهه) را غلي وای، خو دا ځکه چي د (و وهه) چي د وهلو د فعل له امریه حالت سره ګډ نه سي (و واهه) ته اووښتی دئ.

دوهم ـ د لازمي فعل له مصدر څخه:
کله چي په جمله کي لازمي فعل راغلی وي په هغه جمله کي یواځي فاعل وي او مفعول پکښې نه وي. د لازمي مصدر څخه د مطلقي ماضي جوړول داسي کیږي چي د مصدر (ل) لیري کوو او د فعل په پای کي متصل فعلي ضمیرونه ور اچوو لکه:
د درېدل له مصدر څخه:
زه و درېدم.

Qamosona.com

موږ و درېدو.

ته و درېدې.

تاسي و درېداست.

دی و درېدی.

دا و درېده.

دوی و درېدل.

## درېيم ـ د مجهول فعل له مصدر څخه:

**د ماضي مطلق مجهول فعل د اصل فعل د فعلي صفت يا مصدر څخه** جوړيږي. هغه دا ډول چي د فعلي صفت يا مصدر تر مخه (و) را وړل کيږي او په پای کي ئې مجهول فعل(سوم، سوو، سوې، سواست، سو، سوه، سول) را وړل کيږي. د مثال په توګه له(**وهل**) مصدر **څخه**:

زه و وهلی سوم.

موږ و وهلي سوو.

ته و وهلی سوې.

تاسي و وهلي سواست.

دی و وهلی سو.

دا و وهلې سوه.

دوی و وهلي سول.


Qamosona.com

(ب) ـ قريبه ماضي Present perfect tense :

قريبه يا نژدې تېره زمانه هغه زمانه ده چي يو کار حال ته نژدې په تېره زمانه کي تر سره سوی وي. د (ل) والا لازمي مصدر (تلل) مثال:

مفرد مذکر متکلم: زه هرات ته تللی يم.

جمع مذکر متکلم: موږ هرات ته تللي يو.

مفرد مذکر مخاطب: ته هرات ته تللی يې.

مفرد مونث مخاطب: ته هرات ته تللې يې.

جمع مونث او مذکر مخاطب: تاسي هرات ته تللي ياست.

مفرد مذکر غايب: دی هرات ته تللی دئ.

مفرد مونث غايب: دا هرات ته تللې ده.

جمع مونث او مذکر غايب: دوی هرات ته تللي دي.

د قريبي ماضي پورتنۍ جملې د (تلل) له مصدره د (يم، يو، يې، ياست، دئ، ده، دي) کومکي فعلونو په مرسته جوړي سوي دي.

په ياد ئې بايد و لرو چي قريبه ماضي بېله مرستندويو فعلونو بې معنا يوه زمانه ده، ځکه کومکي فعلونه دي چي د قريبي او بعيدي ماضي توپير په کيږي.

د قريبي ماضي پورتنۍ جملې د لازمي فعل له مصدر څخه (چي مفعول نه لري) جوړي سوي دي.

له متعدي (خوړل) فعل څخه به په لاندي ډول وي:

Qamosona.com

مفرد مونث او مذکر متکلم: ما ډوډۍ خوړلې ده.

جمع مونث او مذکر متکلم: موږ ډوډۍ خوړلې د ه.

مفرد مونث او مذکر مخاطب: تا ډوډۍ خوړلې ده.

جمع مونث او مذکر مخاطب: تاسي ډوډۍ خوړلې ده.

مفرد مذکر غایب: ده ډوډۍ خوړلې ده.

مفرد مونث غایب: دې ډوډۍ خوړلې ده.

جمع مونث او مذکر غایب: دوی ډوډۍ خوړلې ده.

وینو چي په دغو جملو کي زمانه د وخت له لحاظه هغه قریبه ماضي ده اما د متعدي فعل په صورت کي ئې په ضمیرونو کي دغه لاندي تغییرات را ځي:

ـ د لازمي فعل د مفرد متکلم فاعلي ضمیر (زه) په (ما) اوښتی دئ.

ـ د مفرد مخاطب فاعلي ضمیر (ته) په (تا ) اوښتی دئ.

ـ د مفرد غایب مذکر فاعلي ضمیر (دی) په (ده) اوښتی دئ.

ـ د مونث غایب مفرد فاعلي ضمیر (دا ) په (دې) اوښتی دئ..

یو مثال د (ویښول) متعدي مصدر څخه:

زه ئې ویښ کړی یم.

موږ ئې ویښ کړي یو.

مفرد مذکر: ته ئې ویښ کړی یې.

مفرد مونث: ته ئې ویښه کړې یې.

Qamosona.com

تاسي ئې ويښ کړي یاست.

دی ئې ويښ کړی دئ.

دا ئې ويښه کړې ده.

دوی ئې ويښ کړي دي.

په پورتنيو جملو کي (زه، موږ، ته، تاسي، دی، دا، دوی) مفعولي ضميرونه دي او (ئې) د غايب يا جمع يا مفرد فاعلي ضمير دئ.

د قريبي ماضي يو بل مثال د ويښېدل لازمي مصدر:

زه ويښ سوی يم.

موږ ويښ سوي یو.

ته ويښ سوی يې.

ته ويښه سوې يې.

تاسي ويښ سوي یاست.

دی ويښ سوی دئ.

دا ويښه سوې ده.

دوی ويښ سوي دي.

دوی ويښې سوي دي.

په پورتنيو جملو کي مفعول نه سته.

Qamosona.com

(ج) ـ بعیده ماضي Past perfect tense :

بعیده ماضي هغه ماضي ده چي په ډېره لیري زمانه کي سوې وي. د بعیدي ماضي د جوړولو ترتیب له قریبي ماضي څخه دغه توپیر لري چي بعیدي ماضي ته هغه د قریبي ماضي کومکي فعلونه (یم ، یو ، یې ، یاست ، دئ ، ده ، دي) په (وم ، وو ، وې ، واست ، وو ، وه ، وې، ول) مرستندویو فعلونو اوړي.

د بعیدي ماضي د لیري والي د توضیح لپاره به دغه یو مثال را وړو: (زه چي را غلم ته تللی وې). دلته (زه چي را غلم) مطلقه ماضي ده او (ته تللی وې) بعیده ماضي ده. یعني د مطلقي ماضي تر وقوع له مخه لا ته تللی وې.

یو څو مثالونه ئې:

زه هرات ته تللی وم.

موږ هرات ته تللي وو.

مفرد مذکر: ته هرات ته تللی وې.

مفرد مونث: ته هرات ته تللې وې.

تاسي هرات ته تللي واست.

دی هرات ته تللی وو.

دا هرات ته تللې وه.

دوی هرات ته تللي ول.

Qamosona.com

د بعيدي ماضي پورتنۍ جملې د (تلل) له لازمي مصدره د (وم ، وو ، وې، واست ، وو ، وه ، ول) کومکي فعلونو پــه مـرسته جـوړي سوي دي.

په ياد ئې بايد و لرو چي بعيده ماضي بېله مرستندويو فعلونو نا موزونه يوه زمانه ده.

له متعدي (خوړل) فعل څخه به بعيده ماضي په لاندي ډول وي:

ما ډوډۍ خوړلې وه.

موږ ډوډۍ خوړلې وه.

تا ډوډۍ خوړلې وه.

تاسي ډوډۍ خوړلې وه.

ده ډوډۍ خوړلې وه.

دې ډوډۍ خوړلې وه.

دوی ډوډۍ خوړلې وه.

وينو چي په دغو جملو کي زمانه د وخت له لحاظه هغه بعيده ماضي ده اما د متعدي فعل په صورت کي ئې په ضميرونو کي دغه لاندي تغييرات را ځي:

ـ د لازمي فعل د مفرد متکلم فاعلي ضمير (زه) په (ما)

ـ د مفرد مخاطب فاعلي ضمير (ته) په (تا)

ـ د مفرد غايب مذکر فاعلي ضمير (دی) په (ده)

Qamosona.com

ـ د مونث غایب مفرد فاعلي ضمیر (دا) په (دې) واوښتل.

د بعیدي ماضي یو مثال د (ویښول) متعدي مصدر څخه:

| | |
|---|---|
| زه ئې ویښ کړی وم. | احمد زه ویښ کړی وم. |
| موږ ئې ویښ کړي وو. | احمد موږ ویښ کړي وو. |
| مفرد مذکر: ته ئې ویښ کړی وې. | احمد ته ویښ کړی وې. |
| مفرد مونث: ته ئې ویښه کړې وې. | احمد ته ویښه کړې وې. |
| تاسي ئې ویښ کړي واست. | احمد تاسي ویښ کړي واست. |
| دی ئې ویښ کړی وو. | احمد دی ویښ کړی وو. |
| دا ئې ویښه کړې وه. | احمد دا ویښه کړې وه. |
| دوی ئې ویښ کړي ول. | احمد دوی ویښ کړي ول. |

په پورتنیو جملو کي (زه، موږ، ته، تاسي، دی، دا، دوی) ضمیرونه مفعولي حالت لري او (ئې) د غایب یا جمع یا مفرد فاعلي ضمیر دئ.

یو بل مثال د (ویښېدل) لازمي مصدر:

مفرد مذکر متکلم: زه ویښ سوی وم.

جمع مذکر متکلم: موږ ویښ سوي وو.

مفرد مونث متلکلم: زه ویښه سوې وم.

جمع مونث متکلم: موږ ویښي سوي وو.

مفرد مذکر مخاطب: ته ویښ سوی وې.

مفرد مونث مخاطب: ته ویښه سوې وې.

Qamosona.com

جمع مذکر مخاطب: تاسي ویښ سوي واست.
جمع مونث مخاطب: تاسي ویښي سوي واست.
مفرد مذکر غایب: دی ویښ سوی وو.
مفرد مونث غایب: دا ویښه سوې وه.
جمع مونث غایب: دوی ویښي سوي وې.
جمع مذکر غایب: دوی ویښ سوي ول.
په پورتنیو جملو کي مفعول نه سته.

## د پام وړ تبصره:

په قریبه او بعیده ماضي کي مو و لیدل چي دغه دواړو زمانو د خپلو معینو کومکي فعلو په مرسته یوه له بلي څخه توپیر لاره.

د قریبي ماضي کومکي فعلونه (یم، یو، یې، یاست، دئ، ده، دي) دي.

د بعیدي ماضي کومکي فعلونه (وم، وو، وې، واست، وو، وه، ول) دي.

په دې وروستیو وختو کي لیدل کیږي چي په ټولنیزو رسنیو کي هم په لیکنو او هم په ویلو کي له دواړو زمانو څخه کومکي فعلونه لیري کوي. دغه کار (د کومکي فعلونو لیري کول) د ژبي په ګرامر کي په

Qamosona.com

خاصه توګه د قريبي او بعيدي ماضي تر منځ په توپير کي ګډوډي را منځته کوي. يو مثال به ئې راوړو:
د افغانستان د انارو په حاصلاتو کي زياتوالی راغلی.
په دې هيواد کي غنم ډېر سوي.

سړی نه پوهيږي چي دغه دوې جملې قريبي ماضي او که بعيدي ماضي دي. سمي جملې به ئې داسي وي:
لومړۍ جمله:
قريبه ماضي: د افغانستان د انارو په حاصلاتو کي زياتوالی راغلی دئ.
بعيده ماضي: د افغانستان د انارو په حاصلاتو کي زياتوالی راغلی وو.

دوهمه جمله:
قريبه ماضي: په دې هيواد کي غنم ډېر سوي دي.
بعيده ماضي: په دې هيواد کي غنم ډېر سوي ول.

اوس که سړی دغه جملې بېله کومکي فعل څخه واوري يا و لولي چي (په دې هيواد کي غنم ډېر سوي) پوه به نه سي چي دا قريبه ماضي ده او که بعيده.

لوړ مثالونه خو مثبت فعلونه دي او کومکي فعلونه ور څخه لـيري

Qamosona.com

سوي دي. که د دغو جملو فعلونه منفي فعلونه وي بيا نو کومکي فعل منځته را ځي لکه:

قريبه ماضي:

مثبت فعل: د باران د اورښت له امله سيلونه را غلي.

منفي فعل: د باران د اورښت له امله سيلونه نه دي را غلي.

بعيده ماضي:

مثبت فعل: د باران د اورښت له امله سيلونه را غلي.

منفي فعل: د باران د اورښت له امله سيلونه نه ول را غلي.

اوس که يو ښوونکی زدکوونکو ته قريبه او بعيده ماضي ور ښيي د تدريس لار به ئې څرنګه وي.

ښکاره به زدکوونکی پوښتنه و کي چي دلته تر (نه) وروسته دغه (دي) يا (وو ، ول) له کومه را غی؟ ښوونکی به بيرته ځي قريبه او بعيده ماضي به تشريح کوي.

دغه کار نه سويډنيانو په سويډني کي کړی دئ او نه انګرېزانو په انګريزي کي کړی دئ. د انګريزي ژبي يو دوه مثالونه:

I have written a book.      ما يو کتاب ليکلی دئ. (قريبه ماضي)

I had written a book.      ما يو کتاب ليکلی وو. (بعيده ماضي)

Qamosona.com

اوس نو که کومکي فعلونه ليري کړو نو به و ليکو:

ما يو کتاب ليکلی.(کومه ماضي) I written a book.

ما يو کتاب ليکلی . (کومه ماضي) I written a book.

(د) ـ استمراري يا جاري ماضي Past cotinuous tense :

هغه فعل ته وايي چي په تېره زمانه کي را غلې وي او د فعل پر استمرار يا دوام دلالت کوي لکه:

زه کابل ته تلم.

موږ کار کاوه.

تاسي ښوونځي ته روان واست.

د استمراري ماضي د جوړولو لاري:

لومړی ـ لازمي استمراري ماضي:

د اصلي (وضعي) با قاعده مصدر څخه داسي جوړېږي چي کله له مصدر څخه (ل) ايسته کېږي او پر ځای ئې متصل کومکي فعلي ضميرونه ور لوېږي. مثال ئې د (درېدل) له مصدر څخه لکه:

زه درېدم.

موږ درېدو.

ته درېدې.

تاسي درېداست.

دی درېدی.

Qamosona.com

دا درېده.

دوی درېدل.

دوهم ـ متعدي استمراري ماضي:

د متعدي مصدر په پای کي متصل فعلي ضميرونه(م، و، ې، است، ـه) ور لويږي لکه:

زه ئې خبرولم. زه مفعول او ئې فاعل دي.

موږ ئې خبرلو. موږ مفعول او ئې فاعلي ضمير دئ.

ته ئې خبرولې. ته مفعول او ئې فاعلي ضمير دئ.

تاسي ئې خبرولاست. تاسي مفعول او ئې فاعلي ضمير دئ.

دی ئې خبراوه. دی مفعول او ئې فاعلي ضمير دئ.

دا ئې خبروله. دا مفعول او (ئې) فاعلي ضمير دئ.

دوی ئې خبرول. دوی مفعول او (ئې) فاعلي ضمير دئ.

يو بل مثال:

ما احمد وينباوه.

موږ احمد وينباوه،

تا احمد وينباوه.

تاسي احمد وينباوه.

ده احمد خبراوه.

دې احمد خبراوه.



Qamosona.com

دوی احمد خبراوه.

یادښت: کله چي متعدي فعل په ماضي کي راسي (زه، ته، دی، دا) فاعلي ضميرونه په (ما، تا، ده، دې) اوړي.

دریم ـ مجهوله استمراري ماضي:

دغه ماضي د اصل فعل د مفعول اسم څخه داسي جوړیږي چي د اصل فعل تر مفعولي اسم وروسته د (کېدل) د مصدر استمراري ماضي لکه: (کېدم، کېدو، کېدې، کېداست، کېدئ، کېده، کېدل) را وړي لکه:

مفرد مذکر متکلم: زه تړلی کېدم.

جمع مذکر او مذکر متکلم: موږ تړلي کېدو.

مفرد مخاطب مذکر: ته تړلی کېدې.

مفرد مخاطب مونث: ته تړلې کېدې.

مفرد مذکر غایب: دی تړلی کېدئ.

مفرد مونث غایب: دا تړلې کېده.

جمع مذکر او مونث غایب: دوی تړلي کېدل.

(هـ) ـ اقتداري ماضي Past potential tense:

هغه تېره زمانه ده چي کېدل ئې پر قدرت او امکان ولاړ وي. اقتداري لازمي او متعدي ماضي د اصل فعل د فعلي صفت څخه جوړیږي. د مفعول اسم په پای کي د (سوم، سوو، سوې، سواست، سو، سوه،

Qamosona.com

سول) کومکي فعلونه ور اچوي.

- د لازمي فعل مثال لکه:

زه درېدلای سوم.

موږ درېدلي سوو.

ته درېدلای سوې.

تاسي درېدلي سواست.

دی درېدلای سو.

دا درېدلای سوه.

دوی درېدلای سول.

- د متعدي فعل مثال:

زه ئې بېولای سوم.

موږ ئې بېولای سوو.

ته ئې بېولای سوې.

تاسي ئې بېولای سواست.

دی ئې بېولای سو.

دا ئې بېولای سوه.

دوی ئې بېولای سول.

- د اقتداري ماضي د مجهول فعل څخه:

زه وهلی کېدلای سوم.

Qamosona.com

موږ وهلي کيدلای سوو.

ته وهلی کېدلای سوې.

ته وهلې کېدلې سوې.

دی وهلی کېدلای سو.

دا وهلې کېدلای سوه.

دوی وهلي کېدلای سول.

په پورتنيو درېيو مثالو کې د مفعول فعل مثالونه (درېدلای، ببولای، وهلی کېدلای) دي.

(و) ـ شرطيه ماضي Past conditional tense :

هغه فعل ته وايي چې په تېره زمانه کي سوی وي او وقوع ئې په يوه شرط سره سوې وي.

لازمي او متعدي شرطيه ماضي د اصل فعل د فعلي صفت څخه داسي جوړېږي چې په پای کي ئې (وای) او تر مخه ئې (که) ور لوېږي لکه:

ـ د لازمي فعل مثال:

لکه:

مفرد مذکر متکلم: که زه درېدلی وای.

جمع مذکر او مونث متکلم: که موږ درېدلي وای.

مفرد مذکر مخاطب: که ته درېدلی وای.

Qamosona.com

مفرد مونث مخاطب: که ته درېدلې وای.

که تاسي درېدلي وای.

که دی درېدلای وای.

که دا درېدلې وای.

که دی درېدلی وای.

که دوی درېدلي وای.

ـ د متعدي فعل مثال:

مفرد متکلم مذکر : که زه ئې خبر کړی وای.

مفرد متکلم مونث: که زه ئې خبره کړې وای.

جمع متکلم مذکر: که موږ ئې خبر کړي وای.

جمع متکلم مونث: که موږ ئې خبري کړي وای.

مفرد مخاطب مذکر: که ته ئې خبر کړی وای.

که تاسي ئې خبر کړي وای.

که تاسي ئې خبري کړي وای.

که دی ئې خبر کړی وای.

که دا ئې خبره کړې وای.

که دوی ئې خبر کړي وای.

ـ د ماضي شرطیه مجهول مثال:

که زه وهلی سوی وای.

Qamosona.com

که زه وهلې سوې وای.

که موږ وهلي سوي وای.

که ته وهلی سوی وای

که ته وهلې سوې وای.

که تاسي وهلي سوي وای.

که دی وهلی سوی وای.

که دا وهلې سوې وای.

که دوی وهلي سوي وای.

(ز) ـ تمنایي ماضي:

دا هغه فعل دئ چي وقوع ئې په تېره زمانه پوري اړه لري مګر په حقیقت کي پېښه سوې نه وي او له هغې څخه د فعل د کولو غوښتنه ښکاري لکه:

ـ د تمنایي لازمي ماضي:

کشکي زه تللی وای.

کشکي زه تللې وای.

کشکي ته تللی وای.

کشکي ته تللې وای.

کشکي تاسي تللي وای.

کشکي دی تللی وای.

Qamosona.com

کشکي دا تللې وای.

کشکي دوی تللي وای.

ـ د تمنايي متعدي ماضي مثال:

کشکي ما احمد ليدلی وای.

کشکي موږ احمد ليدلی وای.

کشکي تا احمد ليدلی وای.

کشکي تاسي احمد ليدلی وای.

کشکي ده احمد ليدلی وای.

کشکي دې احمد ليدلی وای.

کشکي دوی احمد ليدلی وای.

ـ د تمنايي مجهولي ماضي مثال:

کشکي زه ليدلی سوی وای.

کشکي موږ ليدلي سوي وای.

مفرد مذکرمخاطب: کشکي ته ليدلی سوی وای.

مفرد مونث مخاطب: کشکي ته ليدلې سوې وای.

کشکي تاسي ليدلي سوي وای.

کشکي دی ليدلی سوی وای.

کشکي دا ليدلې سوې وای.

کشکي دوی ليدلي سوي وای.

Qamosona.com

(ح) ـ احتمالي ماضي:

دا هغه فعل دئ چي په تېره زمانه کي راغلی وي او د يو کار پر کولو شک او شبهه ښکاره کوي لکه:

زه به تللی يم، زه به ئې ليدلی يم....

احتمالي ماضي د قريبي ماضي څخه جوړېږي، هغه داسي چي د اصل فـعل د فعلي صفت او کومکي فعل (يم، يو، يې، ياست، دئ، ده، دي) له مخه (به) راځي. دلته به لومړی د قريبي ماضي يو مثال راوړو او بيا به و ګورو چي له هغې څخه څرنګه احتمالي ماضي جوړېږي.

قريبه ماضي: زه درېدلی يم.

احتمالي ماضي: زه به درېدلی يم.

د احتمالي ماضي نور مثالونه:

ـ د لازمي فعل مثال:

مفرد مذکر متکلم: زه به درېدلی يم.

جمع مذکر او مونث متکلم: موږ به درېدلي يو.

مفرد مونث مخاطب: ته به درېدلې يې.

مفرد مذکر مخاطب: ته به درېدلی يې.

جمع مذکر او مونث مخاطب: تاسي به درېدلي ياست.

مفرد مذکر غايب: دی به درېدلی يي (وي).

Qamosona.com

مفرد مونث غایب: دا به درېدلې يي (وي).

جمع مذکر او مونث غایب: دوی به درېدلي يي (وي).

ـ د متعدي فعل مثال:

مفرد مزکر متکلم: زه به ئې لیدلی یم.

جمع مذکر او مونث: موږ به ئې لیدلي یو.

مفرد مذکر مخاطب: ته به ئې لیدلی يې.

مفرد مونث مخاطب: ته به ئې لیدلې يې.

جمع مذکر او مونث: تاسي به ئې لیدلي یاست.

مفرد مذکر غایب: دی به ئې لیدی وي.

مفرد مونث غایب: دا به ئې لیدلې وي.

جمع مذکر او جمع غایب: دوی به ئې لیدلي وي.

ـ د مجهول فعل مثال:

زه به لیدلی سوی یم.

موږ به لیدي سوي یو.

ته به لیدلی سوی يې.

ته به لیدلې سوې يې.

تاسي به لیدلي سوي یاست.

دی به لیدلی سوی وي.

دا به لیدلې سوې وي.

Qamosona.com

دوی به لیدلي سوي وي.

(ط) ـ توبیخي ماضي:

توبیخي ماضي هغه فعل ته ویل کیږي چي په تېره زمانه کي پېښ سوی وي او له هغه څخه قهر (خښم) ښکاره کیږي. دغه فعل د معروفي بعیدي ماضي (زه را غلی وم) څخه د (به) پـه زیـاتولو سره جوړیږي لکه:

ـ د لازمي فعل مثال:

مفرد مذکر متکلم: زه به تللی وم.

مفرد مونث متکلم: زه به تللې وم.

جمع مونث او مذکر متکلم: موږ به تللي وو.

مفرد مذکر مخاطب: ته به تللی وې.

مفرد مونث مخاطب: ته به تللې وې.

جمع مونث او مذکر مخاطب: تاسي به تللي واست.

مفرد مذکر غایب: دی به تللی وو.

مفرد مونث غایب: دا به تللې وه.

جمع مذکر غایب: دوی به تللي ول.

جمع مونث غایب: دوی به تللي وې.

ځیني نور مثالونه:

ـ د متعدي فعل مثال:

Qamosona.com

مفرد متکلم مونث او مذکر: ما به زرغونه بېولې وه.
جمع متکلم مذکر او مونث: موږ به زرغونه بېولې وه.
مفرد مخاطب مونث او مذکر: تا به زرغونه بېولې وه.
جمع مخاطب مونث او مذکر: تاسي به زرغونه بېولې وه.
مفرد غایب مذکر: ده به زرغونه بېولې وه.
مفرد غایب مونث: دې به زرغونه بېولې وه.
جمع غایب مذکر او مونث: دوی به زرغونه بېولې وه.

په دغه مثال کي وينو چي کومکي فعل ټول د مفرد مونث غایب (وه) فعلونه دي. دا ځکه چي دغه فعلونه په جمله کي تابع د مفعول دي. يعني که مفعول مفرد، جمع، مذکر يا مونث وي کومکي فعل د خپل مفعول تابع وي.

کله بيا له (به) تر مخه (خو) را وړي لکه:
زه خو به درېدلی وم.
زه خو به ئې بېولی وم.
دوی خو به تللي ول.

- مجهوله توبيخي ماضي د توبيخي معروفي ماضي څخه جوړېږي چي هلته د (سو) کومکي فعل را وړي لکه:
زه به ټاکلی (ټاکل) سوی وم.

Qamosona.com

موږ به ټاکلي سوي وو.

مذکر: ته به ټاکلی سوی وې.

مونث: ته به ټاکلې سوې وې.

تاسي به ټاکلي سوي واست.

دی به ټاکلی سوی وو.

دا به ټاکلې سوې وه.

دوی به ټاکلي سوي ول.

**مستقبل (راتلونکې زمانه) Future tense**

**هغه فعل ته ویل کیږي چي په را تلونکې زمانه کي تر سره کیږي لکه:**

زه به مزار ته ولاړ سم.

موږ به ستاسي کلي ته در سو.

دی به ښوونځي ته ولاړ سي.

تاسي به خپل کورنی کار و کئ.

دغه فعل پر درې ډوله دئ لکه:

**۱. مطلق مستقبل فعل**

**۲. استمراري (جاري) مستقبل فعل**

**۳. اقتداري مستقبل فعل**

Qamosona.com

## ۱. مطلق مستقبل (را تلونکې) فعل:

مطلق مستقبل هغه فعل دئ چي فقط په را تلونکې زمانه کي وسي. مطلق مستقبل لازمي او متعدي فعل دواړه د التزامي (زه و درېږم) حال فعل څخه جوړېږي. دا ډول چي د حال التزامي فعل له مخه (به) چي د استقبال نښه ده را وړي لکه: له التزامي حال (زه و درېږم) څخه (زه به و درېږم) او د (زه ئې و دروم) څخه (زه به ئې و دروم).

نور مثالونه:

ـ له لازمي فعل څخه:

زه به و درېږم.

موږ به و درېږو.

ته به و درېږې.

تاسي به و درېږئ.

دی به و درېږي.

دا به و درېږي.

دوی به و درېږي.

ـ له متعدي فعل څخه:

زه به احمد وينې کړم.

موږ به احمد وينې کړو.

ته به احمد وينې کړې.

Qamosona.com

تاسي به احمد وينې کړئ.
دا به احمد وينې کړي.
دی به احمد وينې کړي.
دوی به احمد وينې کړي.

ـ له مجهول فعل څخه:
مفرد مذکر متکلم: زه به مېلمه سم.
جمع مذکر متکلم: موږ به مېلمانه سو.
مفرد مذکر مخاطب: ته به مېلمه سې.
مفرد مونث مخاطب: ته به مېلمنه سې.
جمع مذکر مخاطب: تاسي به مېلمانه سئ.
جمع مونث مخاطب: تاسي به مېلمنې سئ.
مفرد مذکر غايب: دی به مېلمه سي.
مفرد مونث غايب: دا به مېلمنه سي.
جمع مذکر غايب: دوی به مېلمانه سي.
جمع مذکر غايب: دوی به مېلمنې سي.

## ۲. استمراري (جاري) مستقبل فعل:

دغه فعل په را تلونکې زمانه کي د يوه کار دوام ښيي لکه:
زه به ځغلم.
ته به ښوونځي ته ځې.

Qamosona.com

تاسي به ښوونځي ته ځئ.

دوی به ټوخيږي.

دا به کورنی کار کوي.

ـ له لازمي فعل څخه:

زه به درېږم.

موږ به درېږو.

ته به درېږې.

تاسي به درېږئ.

دی به دريږي.

دا به دريږي.

دوی به دريږي.

ـ له متعدي فعل څخه:

زه به احمد بيايم.

موږ به احمد بيايو.

تاسي به احمد بياياست.

دی به احمد بيايي.

دا به احمد بيايي.

دوی به احمد بيايي.

Qamosona.com

**ـ له مجهول فعل څخه:**

زه به وهلی کېږم.

موږ به وهلي کيږو.

مفرد مذکر مخاطب: ته به وهلی کېږې.

مفرد مونث مخاطب: ته به وهلې کېږې.

تاسي به وهلي کېږئ.

دی به وهلی کيږي.

دا به وهلې کيږي.

دوی به وهلي کيږي.

## ۳. اقتداري مستقبل فعل:

اقتداري مستقبل هغه فعل دئ چي په را تلونکې زمانه کي دغه فعل له اقتداري حال (زه درېدلای سم) څخه دا ډول جوړيږي چي تر مخ ئې (به) و ليکل سي لکه: (زه به درېدلای سم)....

**ـ له متعدي فعل (چي فاعل او مفعول دواړه و لري) څخه:**

زه به احمد را وستلای سم.

موږ به احمد را وستلای سو.

ته به احمد را وستلای سې.

تاسي به احمد را وستلای سئ.

دی، دا، دوی به احمد را وستلای سي.

Qamosona.com

**ـ له لازمي (چي يواځي فاعل و لري) فعل څخه**:
زه به درېدلای سم.
موږ به درېدلای سو.
ته به درېدلای سې.
تاسي به درېدلای سئ.
دی ، دا ، دوی به درېدلای سي.

**ـ له مجهول فعل څخه**:
زه به وهلی کېدلای سم.
موږ به وهلي کېدلای سو.
ته به وهلی کېدلای سې.
ته به وهلې کېدلای سې.
تاسي به وهلي کېدلای سئ.
دی به وهلی کېدلای سي.
دا به وهلې کېدلای سي.
دوی به وهلي کېدلای سي.

## امـــر فعل Imperativ

امر هغه فعل ته وايي چي ويونکی د يوه کار د کولو يا نه کولو حکم کوي لکه:

Qamosona.com

ولاړ سه!

ډوډۍ را وړه!

کالي وا غونده!

ته کالي اغونده!

و ئې وهه!

خبر ئې که!

په پښتو کي امر دغه لاندي ډولونه لري:

۱. حاضر امر

۲. د متکلم او غايب امر

۳. دعائيه امر

### ۱. حاضر امر

حاضر امر هغه امر ته ويل کيږي چي حاضر سړي ته د يوه کار د کولو امر کيږي او پر دوه ډوله دئ لکه:

(الف) مطلق امر

(ب) استمراري امر

(الف) مطلق امر: هغه امر دئ چي له هغه څخه فقط د يوه حکم کول ښکاره کيږي. دغه امر فقط د مفرد مخاطب او جمع مخاطب لپاره د التزامي حال فعل لکه: (ته و درېږې) څخه داسي جوړيږي چي د (درېږې) څخه (ې) ليري کوي، د مفرد مخاطب په پای کي (ه) او د

Qamosona.com

جمع مخاطب په پای کي (ئ) ور اچوي لکه:
ته و درېږه!
تاسي و درېږئ!
دغه امر دواړه مثبت او منفي حالته لري. د منفي حالت ئې د (مه) له لاري جوړيږي لکه:
مثبت ـ مفرد مخاطب لازمي: ته و درېږه!
منفي ـ مفرد مخاطب لازمي: ته مه درېږه!
مثبت ـ جمع مخاطب لازمي: تاسي و درېږئ!
منفي ـ جمع مخاطب لازمي: تاسي مه درېږئ!
مثبت ـ مفرد مخاطب متعدي: و ئې دروه! ته ئې و دروه!
منفي ـ جمع مخاطب متعدي: مه ئې دروئ! تاسي ئې مه دروئ!

مجهول مطلق امر د اصل فعل له فعلي صفت څخه جوړيږي لکه:
مفرد مذکر مخاطب: و وهلی سه!
مفرد مونث مخاطب: و وهلې سه!
جمع مونث او مذکر مخاطب: و وهلي سئ!

(ب) استمراري امر
استمراري امر هغه امر دئ چي له هغه څخه د يوه فعل د حکم دوام ښکاري. دغه امر هم د مطلق حال فعل له مفرد مخاطب څخه جوړيږي. دا ډول چي د مطلق حال فعل د مخاطب له مفرد څخه اوړده

Qamosona.com

(ې) ليري کوي، پر ځای ئې مفرد مخاطب ته (ه) او جمع مخاطب ته (ئ) ور اچوي لکه:

مفرد مذکر، مونث مخاطب: ته موږ ته دربړه!

جمع مونث او مذکر مخاطب: تاسي موږ ته دربړئ!

د کتل له مصدر څخه:

ته ګوره!

ته مه ګوره!

تاسي ګورئ!

تاسي مه ګورئ!

که د مطلق امر (ته کښېنه!) پر وروستي سېلاب خج راسي له مطلق حالت څخه په استمراري حالت اوړي لکه چي وايي:

ته کښېنه! زه در ځم. دلته په کښېنه کي پر (نه) خج را غلی دئ ځکه د مطلق څخه په استمراري یا جاري حالت اوښتی دئ.

۲. د متکلم او غایب امر:

ـ د متکلم امر: هغه امر دئ کوم چي سړی خپل ځان ته د یوه کار امر کوي لکه:

زه دي و دربړم!

زه دي احمد را ولم!

ـ د غایب امر: هغه دئ چي که یو غایب چا ته د یو بل چا له لاري د

يوه كار د كولو حكم ور كړه سي دغه امر ته غايب امر وايي لكه:

احمد دي و دريږي!

احمد دي محمود بوزي!

## د متكلم استمراري امر:

زه دي دريږم!

موږ دي دريږو!

زه دي احمد راولم!

موږ دي احمد راولو!

## د غايب استمراري امر:

دوى دي احمد مړوي!

ملالۍ دي احمد بيايي!

په پورته جملو كي د جملو پر وروستيو برخو (راولم او راولي) خج را غلى دئ.

۳. دعائيه امر:

دعائيه امر د دعا او ښرا په وخت كي را ځي لكه:

لوى سې!

خوار سئ!

دعائيه امر: عموماً له صفت څخه جوړيږي. د متكلم لپاره (سم!، سو!) او د غايب لپاره (سې!، سئ!) ور اچول كيږي او د (دي) كلمه تر

Qamosona.com

صفت وروسته را وړي لکه:

لوی دي سم!

لوی دي سو!

لوی سې!

لوی سئ!

مفرد مونث: لویه (لو) دي سي!

مفرد مذکر: لویي دي سي!

## قــید Adverb

قید هغه کلمه ده چي یو فعل، صفت یا بل قید توضیح کوي لکه: په لاندي مثالو کي:

د فعل قید: ملالۍ په ژړا ولاړه.

په لوړه جمله کي (په ژړا) قید دئ ځکه چي د ولاړه فعل توضیح کوي.

د صفت قید: زمری ډېر ښه هلک دئ.

په لوړه جمله کي (ښه) صفت دئ او (ډېر) قید دئ چي پر (ښه) باندي تاثیر کړی دئ.

د قید قید: زمرک ډېر ژر را غی.

Qamosona.com

په لوړه جمله کي (ډېر) قيد دئ ځکه چي پر (ژر) ئې تاثير کړی دئ او (ژر) د (راغی) د فعل لپاره قيد دئ.

سربېره پر پورتنيو مثالو د قيد نور ډولونه هم سته چي يو څو به ئې دلته لاندي و لولئ.

د قيد ډولونه:

١ ـ د وضعيت قيد

٢ ـ د زمان يا وخت قيد

٣ ـ د مکان يا ځای قيد

۴ ـ د مقدار قيد

(١) ـ د وضعيت قيد: هغه قيد ته وايي چي د فعل وضعيت را ښيي لکه: ژر ژر، ورو ورو، په پټه، په تلوار، په خندا، په ژړا، نا څاپه، په مړانه، په بېړه، په خوشالي، په ښکاره .... مثالونه ئې:

دی په بېړه کار کوي.

دوی نا څاپه ولاړل.

احمد خپل سبق په مړانه سر ته و رساوه.

(٢) ـ د زمان يا وخت قيد: هغه قيد ته وايي چي د فعل د واقع کېدو وخت را ښيي لکه: نن، پرون، ورمه ورځ، پروسږ کال، تېره اونۍ، سبا، ماښام، پخوا .... يو څو مثالونه ئې:

احمد نن کابل ته ولاړ.

Qamosona.com

دوی تېره اونۍ خپل کارونه خلاص کړل.
موږ به سبا مېلې ته ولاړ سو.
احمد وړمه ورځ کور ته ولاړ.

(۳) ـ د مکان یا ځای قید: د مکان قید هغه قید ته وایي چي د فعل د وقوع ځای را ښیي لکه: کښته، پورته، د باندي، وړاندي، وروسته، نیژدې، لیري، ښۍ خوا ته، بهر، هلته، دوري، دورې....
یو څو مثالونه ئې:
ما پورته و کتل.
دوی تر احمد وروسته را غلل.
ملالۍ د لاري ښۍ خوا ته و ګرځېده.
دوی دې خوا ته را غلل.

(۴) ـ د مقدار قید: هغه قید ته وایي چي د فعل یا صفت یا بل قید اندازه یا مقدار ښکاره کوي لکه: لږ، ډېر، بې شانه، ډېر ځل، زیات، لږ څه .... یو څو مثالونه ئې:
زه نن لږ نا روغ یم.
کار زیات کوه چي بډای سې.
و درېږه زه لږ څه ستړی سوم.
بوره لږ لږ خوره.

Qamosona.com

# د عطف (وصل) کلمې Conjunktion

د وصل کلمې هغه کلمې دي چې په یوه جمله کې دوه اسمونه یا په یوه عبارت کې دوې جملې سره نښلوي لکه په لاندي جملو کې:

احمد او محمود راغلل.

ده و ویل چې دی ناروغه دئ.

دی راغی مګر دوی را نه غلل.

که څه هم ته په کور کې نه وې زه راغلم.

دی به درسي که ته غواړې.

یا به دی یا به دا موټر و چلوي.

هر څومره چې مي در ته و ویل غوږ دي و نه نیوی.

احمد را نه غی، لکه چې نا روغه وو.

نه ته او نه دی د احمد مېلمانه یاست.

غلام را غی اما (مګر) ورور ئې را نه غی.

په لوړو جملو کې (او، چې، مګر، که څه هم، که، یا... یا، هر څومره چې، لکه چې، نه ... نه، اما، ببله...) د وصل کلمې دي.

د وصل کلمې دوه ډوله دي:

(۱) ـ مساوي د وصل کلمې

(۲) ـ تابع د وصل کلمې

Qamosona.com

(۱) ـ **مساوي د وصل کلمې**: مساوي د وصل کلمې یا دوه اسمونه او یا دوې مستقلې جملې سره نښلوي. مثالونه ئې:

احمد او محمود را غلل.

(او) دوه اسمونه سره نښلولي دي.

ملالۍ ښوونځي ته ولاړه او خپل کتابونه ئې را وړل.

(او) دوې مساوي یا کاملي جملې (ملالۍ ښوونځي ته ولاړه)، (خپل کتابونه ئې را وړل) سره نښلولي دي.

رڼا یا ملالۍ نن ډوډۍ پخوي.

(یا) دوه اسمونه (رڼا)، (ملالۍ) ئې سره نښلولي دي.

په پښتو کې مشهور د وصل مساوي توري لکه (او، یا، مګر، یا ... یا، دواړه ... او) دي.

(۲) ـ **تابع د وصل کلمې**: تابع د وصل کلمې هغه کلمې دي چې مستقیله جمله د تابع جملې سره یا تابع جمله د مستقیلي جملې سره نښلوي لکه:

له ځان سره بې غوري مه کوه چې ناروغ نه سې.

که ښوونځي ته ولاړ نه سې، ورځنۍ پیسې نه در کوم.

په پورتنیو دو جملو کي (چي، که) تابع د وصل کلمې دي، ځکه چي یوه مستقله او یوه تابع جمله ئې سره نښلولې ده.

Qamosona.com

ـ **مستقله جمله**: هغه جمله ده چي اورېدونکی د کومي بلي جملې اورېدلو ته انتظار نه باسي لکه:

زه کابل ته ځم.

مورې سهار وختي له خوبه را پاڅو.

تاسي کله ښوونځي ته ځئ.

ـ **تابع جمله**: تابع جمله هغه ده چي کله ئې اورېدونکی واوري نو سمدستي د يوې بلي جملې د اورېدو انتظار باسي لکه:

ته چي له کابله را غلې

که مورې کور ته ولاړ سو

احمد را نه غی لکه چي

پورتنۍ درې جملې ځکه تابع جملې بللي کيږي چي اورېدونکی پوره مقصد نه ور ښخه تر لاسه کوي او د يوې بلي جملې انتظار باسي.

په پښتو کي مشهوري تابع د وصل کلمې لکه (که، چي، کله چي، ځکه چي، اما، له دې سببه، له دې کبله چي...) دي.

## د ربط (جر) کلمې Preposition

د ربط کلمې د اسم يا ضمير سره يو ځای را ځي او د اسم يا ضمير رابطه له فعل يا بلي کلمې سره ښيي لکه:

احمد محمود ته و ويل.

Qamosona.com

په پورتنۍ جمله کي (ته) د محمود (اسم) رابطه له (و ويل) فعل سره ښيي لکه:

ما په ښوونځي کي لوست و وايه.

په پورتنۍ جمله کي (په ... کي) دواړه د رابطې کلمې يو ځای سره را ځي. ځينو خلکو دغه لومړۍ (په) ور څخه ليري کړې ده او ليکي (ما ښوونځي کي لوست و وايه). يا د دې پر ځای چي و وايي (په کابل کي) وايي (کابل کي).

د تيري جملې په شان يو شمېر نور د ربط توري د دوو برخو څخه جوړ سوي وي لکه:

(تر ... پوري، پر ... باندي، له ... را هيسي، له ... نه (څخه)، په ... کي، له ... څخه، له ... سره). د ربط د دغو کلمو يو څو مثالونه به دلته لاندي و وينئ. يو شمېر د دغو رابطو څخه دوه ډوله کارول کيږي لکه:

(تر ... پوري)

۱ ـ احمد تر کابل پوري و رسېد.

۲ ـ احمد تر کابله و رسېد.

(له ... څخه)

۱ ـ ملالۍ له ورور څخه پيسې پور کړي دي.

۲ ـ ملالۍ له وروره پيسې پور کړي دي.

Qamosona.com

په هره دوهمه جمله کي پوري او څخه ایسته سو او پر ځای ئې د کابل او د ورور د کلمو په پای کي (ه) ور و لوېده.

(له ... سره) د ربط په دغو کلمو کي بیا هغه پورتنی تغییر نه را ځي.

ملالۍ له پلار سره خبري و کړلې.

یادونه:
په ورځنیو لیکنو او خبرو کي ځیني خلک یو څه تېروتني کوي. هغه دا چي کله کله یا د رابطې یوه کلمه د بلي پر ځای او یا د رابطې یوه کلمه د ملکي ضمیر پر ځای کاروي. دلته لاندي به ئې یو څو مثالونه را وړل سي:
ـ(د) د اضافت یا ملکیت له پاره کارول کیږي لکه:
د احمد کتاب. دلته(د) د اضافت یا ملکیت له پاره را غلی دئ. یعني کتاب په احمد پوري تړاو لري یا په بل عبارت احمد د کتاب مالک یا خاوند دئ.

دلته احمد مضاف الیه(چي یو شی یا څوک اړه پوري و لري) او کتاب مضاف(چي په یو شي یا چا پوري اړه و لري) دئ.

کله کله بیا موږ دغه د اضافت یا ملکیت(د) د (له) رابطې پر ځای کاروو، چي دا یوه تېر وتنه ده، ځکه د (له) رابطه بیا له یوې بلي رابطې سره ملګری وي لکه:

Qamosona.com

(له ... څخه)

(له ... سره)

یا دا چې وایو:

زما سره را ځه! دغه جمله باید و ویله یا و لیکله یا و ویله سي:

له ما سره را ځه!

په لومړۍ جمله کي په (زما سره را ځه) کي (زما) ملکي ضمیر دئ او (سره) له (له) سره ملګرې رابطه ده، ځکه نو ښه جمله ئې دوهمه جمله ده، چې و وایو (له ما سره را ځه).

د دغو خبرو معنا دا ده، چې د ګرامر یو جُز له بل سره ګډ نه کړو.

په دې وروستیو وختو کي په پښتو کي ځیني تصرفات د نا معلومو کسانو له خوا څخه تر سره سوي دي. دغه تصرفات باید د یوې معیني مرجع له خوا څخه لکه: پښتو ټولنه یا د علومو اکاډمي له خوا و سي.

دغه تصرفات زیاتره د رسنیو له خوا او یا په فیسبوک کي د لیکونکو له خوا کیږي. دوی د دغه تصرفاتو لامل په ټلویزیون، راډیو او رسنیو کي د وخت او لیک سپما ته اشاره کوي. مثالونه ئې لکه:

د (په کابل کي) پر ځای (کابل کي)

د (له احمد څخه) پر ځای (احمد څخه)

د (له ما سره) پر ځای په ځای (ما سره)

د (احمد راغلی دئ یا وو) پر ځای (احمد را غلی) ....

Qamosona.com

بله خبره د (د) د ډېر نه کارولو خبره ده. ځیني لیکونکي کوښښ کوي چي په خپلو لیکنو کي د (د) له کارولو څخه ډډه و کړي. دوی لیکي: د افغانستان وچي مېوې سوداګرو ګټه ډېره سوې.

سمه جمله ئې: د افغانستان د وچي مېوې د سودا ګرو ګټه ډېره سوې ده.

په شعر کي د ژبي د یو شمېر سر غړونو اجازه ستنه، مثال ئې لکه:
- د اسم د مفرد او جمع
- د صفت مفرد او جمع
- کله کله د جوړه رابطو سره جلا کول او داسي نور.
هغه ځکه چي کله کله د سېلاب یا قافیې د سمون له پاره کیږي.
یو مثال به ئې په دغه بیت کي و ګورو.
خوږې شونډې دي شکري نه دي څه دي
ښکلی غاښ دي مرغلري نه دي څه دي

په لومړي نیم بیتي کي (خوږې صفت جمع، ښونډې اسم جمع، شکري اسم جمع، دي فعل د جمع له پاره) دي.

په دوهم نیم بیتي کي (ښکلی صفت مفرد، غاښ اسم مفرد، مرغلري اسم جمع، دي فعل جمع) دي. په دوهم نیم بیتي کي ځیني کلمې جمع او ځیني مفرد، چي په ګرامري لحاظ سر نه سره خوري، خو د شعر د

Qamosona.com

سپلابو له امله قبول سوي دي ، خو په ځينو ځايو کي بيا سر نه سره خوري .

**جمله :**

په تيرو پاڼو کي مو د پښتو ژبي د الفبې توري او کلمې و پېژندلې اوس غواړم جملې و پېژنو .

دا چي د الفبې له تورو څخه کلمې جوړيږي ، له کلمو څخه جملې جوړيږي ؛ په دې شرط چي جمله معنا او مفهوم و لري او يو مقصد ور څخه وا خيستل سي . کېداى سي چي له يوې کلمې څخه هم يو مقصد په لاس را وړو ، نو بيا هغه يوه کلمه هم جمله بللاى سو . دلته به د جملو يو څو مثالونه را وړو :

- محمود ډوډۍ را وړه .
- دا ځي .
- ځم .

په لومړۍ جمله کي : محمود فاعل ، ډوډۍ مفعول او را وړه ماضي فعل دئ .

په دوهمه جمله کي ، (دا) مونث مفرد فاعلي ضمير او ولاړه ماضي فعل دئ .

Qamosona.com

په دربیمه جمله کي که څه هم ځم فعل دئ، خو د کلمې په پای کي (م) ئې فعلي ضمیر دئ او (ځ) ئې د تلل له مصدر څخه د متکلم د حال فعل نمایندګي کوي.

په پښتو کي متکلم خپل پیغام د جملې له لاري یا په شفاهي توګه او یا په لیکلې توګه مخاطب ته رسوي. په شفاهي توګه خو متکلم د ږغ له لاري خپل پیغام رسوي، اما په لیکنې توګه په هره جمله کي د متکلم د خبرو د تنظیم له پاره ځینو نښو ته اړتیا سته. دلته لاندي به په ډېره لنډه توګه د یو څو نښو یادونه و کړو.

## لیک نښې:

لیک نښې ډېر ډولونه لري خو. ښه به دا وي چي دغه یو څو ډیري ضروري نښې دلته را وړو.

۱ـ نقطه یا ټکی(.): د خبریې جملې په پای کي لیکل کیږي لکه:
محمود یو تکړه هلک دئ.
احمد کابل ته نه دئ تللی.
پر موږ خپل هیواد ګران دئ.

خبریه جمله هغه جمله ده چي ویونکی اوربدونکي یا لوستونکي ته خبر ور کوي. یوه خبریه جمله چي کله پای ته و رسیږي باید ټکی ور ته و لیکل سي.

Qamosona.com

۲ . سواليه يا د پوښتني نښه(؟): دغه نښه د يوې پوښتني جملې په پاى كي ليكل كيږي كه نه نو جمله به د پوښتني حيثيت و نه لري.

په پښتو ژبه كي ځيني وختونه متكلم په خبرو كي له مخاطب څخه د ږغ د فشار له لاري پوښتنه كوي، خو په ليكنه كي بيا داسي نه وي. زياتره وختونه چي ليكونكى پوښتنه كوي نو د (آيا) كلمه د جملې په سر كي را وړي لكه: (آيا ستا ورور نن راځي)، خو دلته بايد بيا هم د جملې په پاى كي(؟) و ليكل سي. په هر صورت كي بايد د پوښتني جملې په پاى كي (؟) نښه و ليكل سي لكه:
ايا ستا ورور را ځي؟

احمد اوس ولاړ؟

۳. ندائيه (!): دغه نښه په دغو لاندي ځايو كي كارول كيږي:
ـ اې هلكه! دلته راسه!
(اې هلكه!) ندا يا ور ږغ كول دي او (ولاړ سه!) امر دئ. يعني په دغه ځاى كي ئې هم د ندا او هم د امر كار ور كړى دئ.
ـ د ارمان په وخت كي:
ارمان! چي له لاسه مي و ووت.
ـ شاباس!
ـ موټر! كشكي مي لرلاى.

Qamosona.com

ـ ګرانه ملګریه !

۴ . شارحه ( : ) : دغه نښه (علامه) هغه وخت لیکل کیږي چي یوه کلمه یا یوه لنډه جمله شرحه غواړي لکه :
د کتاب لوستلو ګټې :
لکه :
مثلا :

۵ . کامه یا چپه( و ) ( ، ) : دغه نښه د یو شمېر اسمو تر منځ د (او) د ډیرو کارولو د مخنیوي لپاره لکه :
له بازاره مي انګور ، ختکی ، الوبالو ، شلیل او شفتالو را وړل . که ( ، ) نه وای نو پر ځای به مو ئې (او ) کارولای .
تر یوې لنډې وقفې یا درېدني وروسته لکه :
کله چي احمد را غی ، پلار ئې تللی وو .

۶ . اقتباسیه نښه " " : دغه نښه هغه وخت کارول کیږي ، چیري چي لیکونکی په خپله لیکنه کي مستقیما د کوم بل چا خبره یا خبري را وړي لکه :
فزیک پوه ارشمیدس ویلي دي " یو جسم هغه وخت په اوبو کي ډوبیږي چي کتله ئې د بېځایه سوو اوبو تر کتلې زیاته وي ".

Qamosona.com

ماخذونه:

پښتو ګرامر د محمد اعظم ایازي لیکنه

پښتو ګرامر د پوهاند صدیق الله رښتین لیکنه

دستور زبان فارسي د حسن انزلي لیکنه

Ordklasser سویډني ګرامر

Deskriptiv svensk grammatik

یو شمېر انټرنیټي پاڼې

عبدالعلي رسولزاده

مالمو سویډن

alirasulzada@hotmail.com

www.pashto.se

0046709384755

Qamosona.com

# د لیکوونکي لنډه پېژندنه



عبدالعلي رسول‌زاده په ۱۳۲۶ لمریز کال د کندهار ولایت په دربیمه ناحیه کي دې نړۍ ته سترګې خلاصي کړلې. لومړنۍ زدکړي ئې په اوه کلني کي د کندهار په مشرقي ښوونځي کي پیل کړلې. پسله شپږو کلو د نوموړي ښوونځي څخه فارغ سو. تر هغه وروسته ئې د میرویس نیکه په لېسه کي زدکړي پیل کړلې. په ۱۳۴۵ لمریز کال کي ئې د کابل پوهنتون د ښووني او روزني په پوهنځي کي د ریاضي او فزیک په څانګه کي زدکړي پیل کړلې. په ۱۳۴۹ لمریز کال کي ئې د کندهار په عالي دارالمعلمین کي د ریاضي او فزیک او مسلکي مضمونونو په تدریس پیل و کړ. په ۱۳۵۹ کال کي په هیواد کي د نا خوالو له امله سوېډن هیواد ته مهاجر سو. په سوېډن کي ئې ۳۳ کاله په سوېډني ښوونځیو کي د پښتو ژبي د زدکوونکو سره د ښوونکي په توګه نه یواځي د ښوونځي د مضامینو مرستي کړي دي بلکي پښتو ئې هم ور ته تدریس کړې ده. په دغو کلو کي ئې د پښتو ژبي زدکوونکو ته یو زیات شمېر تدریسي کتابونه او تدریسي مرستندوی مواد لیکلي دي چي د هغو له جملې څخه یو همدغه کتاب دئ. له دغو کتابو څخه د نړۍ په زیاتو هیوادو کي ګټه اخیسته کېده او اوس هم کیږي. په ۲۰۰۲ م کال کي د سوېډن د پوهني د وزارت له خوا د پښتو انټرنیټي پاڼي www.pashto.se چاري هم ور پر غاړه سوې.

Qamosona.com

Qamosona.com